# الوطن ورځپانه

Ketabton.com

لیکوال

دوکتور ادهم شرقاوي

ژباړن

اجمل هېوادمل

ketabton.com - The Digital Library

# فهرست


لنډه سریزه ........................................ 4
دا یوازې څو ورځې دې چې تېرېږي، آخرت زموږ لپاره دی! ........................................ 4
ژوند د هېڅا لپاره نه درېږي! ........................................ 6
«دا د عثمان لاس دی!» ........................................ 8
راز په سترګو کې نه، بلکې په لید کې دی! ........................................ 10
له الله تعالی څخه د عافیت غوښتنه وکړئ! ........................................ 11
د جریان خلاف لامبو وهل! ........................................ 13
وچه ډوډۍ، خو عزت! ........................................ 15
رباني اوسه، نه یوازې رمضاني! ........................................ 17
له نبوت څخه یوازې زبري پاتې دي! ........................................ 18
د مدیریت یو درس! ........................................ 20
د مغوی د احساساتو په اړه! ........................................ 22
تل داسې مه اوسئ چې هر څوک مو اټکل وکړای شي! ........................................ 24
له خپل ځان څخه راضي کېدل؛ د پرمختګ وژونکی دی! ........................................ 26
له خپل خالق پرته بل چا ته مه ټیټېږه! ........................................ 27
راز په سترګو کې نه، بلکې په لید کې دی! ........................................ 29
دین او دنیا؛ دواړه یو ځای ........................................ 30
سودا دې ګټوره شوه، اې ابا یحیی! ........................................ 32
له خپلو ځایونو مه خوځېږئ! ........................................ 34
د مغوی د احساساتو په اړه! ........................................ 36
مننه، زموږ ښاغلی سلیمانه! ........................................ 39
دا د نوي هجري کال پیل دی! ........................................ 42
هغه نصیحتونه چې باید حتماً یې واورو! ........................................ 44
په موږ ټولو د طائف یوه ورځ راځي! ........................................ 46
هغه خبرې چې باید پر ټولو ونه تپل شي! ........................................ 49
ناپوه نه ناپوهي ووژنئ! ........................................ 51
مقام خلک ښایسته ښکاره کوي! ........................................ 53
نفاق خپور کړه، حکومت پرې وکړه! ........................................ 55
غزوهٔ بدر موږ ته لس درسونه را زده کړل ........................................ 56
څوک چې زغم او حوصله کوي، خپلې هیلې ترلاسه کوي! ........................................ 60
روژې، قیام او قرآن ته ښه راغلاست! ........................................ 61
باطل زړور وي! ........................................ 63
په عقل، نه په عضلو! ........................................ 64
په لاره کې اغزي هم شته او ګلان هم! ........................................ 66
څوک دی چې پر موږ خپل ځان وپلوري؟! ........................................ 68
خپل ژوند مخته وړه او شاته مه ګوره! ........................................ 71
انسان چې عزت ونه لري، هېڅ شی نه لري! ........................................ 73
هغه چا ته چې پوښتي: «الله چېرته دی؟ ولې د غزې غچ نه اخلي؟!» ........................................ 75
تر ټولو وېروونکې صحنه! ........................................ 78
مړ شه، خو د اذان په حال کې مړ شه! ........................................ 80

ketabton.com - The Digital Library

قرانکریم د تلمود پر وړاندې! ........................................................................................................ 82
ایا د جګړې پای ته نږدې شوی یو؟! ................................................................................................ 84
دا د نوې کال پیل دی! ................................................................................................................ 86
د غزې ملاتړ، د غزې لپاره نه؛ بلکې د خپل ځان لپاره! ................................................................. 88
موږ خپله پر غزې ستم کړی! ........................................................................................................ 90
تور تاریخ همدا اوس لیکل کېږي! ................................................................................................. 93
هسې نه دا په یوه کلتور بدل شي! ............................................................................................... 95
غزه د الله تعالی لورې ته بلنه ورکوي! ........................................................................................... 96
فیفا، نتفلیکس او نوې نژادپالان! ................................................................................................... 98
افسوس پر ګول ساتونکو! ............................................................................................................. 99
د فوټبال په ډګر کې رښتینولي! .................................................................................................... 100
اې د جرمني فوټبال ملي ټیمه، نارینه‌توب وښیه! ................................................................................ 101
د فوټبال بې‌ساری مدیریت! .......................................................................................................... 103
له لوبغالي تر پوهنتونه لېونتوب! .................................................................................................. 104
هغه ګول‌ساتونکی چې رخصتي ته ولاړ! ........................................................................................ 105
هغه اوښکه چې نړیوال جام یې راوړ! ........................................................................................... 106
د نړیوال جام تر ټولو ښکلی ګول! ................................................................................................ 107
مخکې له دې چې پرده راولوېږي... مننه! ....................................................................................... 108
مننه، غزې! ................................................................................................................................ 110
پر ټکو د کرښو ایښودل! .............................................................................................................. 111
غزې موږ ته څه را زده کړل! ...................................................................................................... 113
لنډه یادونه................................................................................................................................ 119

ketabton.com - The Digital Library

# لنډه سریزه

ژوند یوازې د پېښو تېرېدل نه دي، بلکې هره پېښه یو درس، هره کیسه یو پیغام او هره ازموینه یوه پټه حکمت لري. کله د ایمان څواک راښیي، کله د عزت او کرامت ارزښت، کله موږ ته د خپل وجدان غږ اوروي او کله د حق او باطل ترمنځ د توپیر معیار راښیي. دا کیسې موږ ته را زده کوي چې د خلکو په قضاوت مه غولېږئ، د ظاهري بڼې پر ځای حقیقت ته وګورئ، د سختیو پر وړاندې صبر وکړئ او د حق په لاره کې ثابت قدم پاتې شئ؛ ځکه د انسان اصلي ارزښت په مال، مقام او شهرت کې نه، بلکې په ایمان، اخلاقو، کردار او د حق په پېژندلو کې نغښتی دی.

## دا یوازې څو ورځې دي چې تېرېږي، آخرت زموږ لپاره دی!

انس بن مالک رضي الله عنه وایي:

زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم حضور ته ورغلم. هغه صلی الله علیه وسلم پر یوه پیزي(حصیره) ناست و، او تر سر لاندې یې یوه بالښت وه چې له کجورو له وچو پاڼو څخه ډکه شوې وه. بیا د رسول الله صلی الله علیه وسلم یـو شـمېر اصحاب راغلل، چې په هغوی کې عمر بن الخطاب رضي الله عنه هم و.

رسول الله صلی الله علیه وسلم لږ اړخ واړاوه، نو عمر رضي الله عنه د هغه صلی الله علیه وسلم په مبارک بدن کې د پیزي نښې ولیدې او ویې ژړل.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:

**«ولې ژاړې؟»**

عمر رضي الله عنه وویل:

«کسری او قیصر په نعمتونو او عیش کې ژوند کوي، خو ته پر دې سخت پیزي؟»

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«ایا ته په دې راضي نه یې چې هغوی ته دنیا وي او موږ ته آخرت؟»**

عمر رضي الله عنه وویل:

«ولې نه!»

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«نو په الله قسم، همداسې ده!»**

دا دنیا د عمل کور دی، د بدلې کور نه دی؛ د امتحان کور دی، د پایلې کور نه دی!

ابو هریره رضي الله عنه وایي:

د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر کورنۍ به یوه میاشت او بله میاشت تېرېدله، خو په کورونو کې به یې د ډوډۍ او پخلي لپاره اور نه بلېده.

خلکو ترې وپوښتل:

«ای ابو هریره! هغوی به په څه شي ژوند کاوه؟»

ketabton.com - The Digital Library

هغه وويل:

**«په دوو تورو شيانو: خرما او اوبو.»**

او د انصارو له ډلې ځينو ګاونډيانو يې وزې درلودې، هغوی به د خپلو وزو يو څه شيدې رسول الله صلی الله عليه وسلم او د هغه کورنۍ ته رالېږلې. الله دې هغوی ته خير ورکړي.

نو که دنيا درته تنګه شوې وي، خپل ربانې مشر او د ټولو انسانانو سردار، محمد صلی الله عليه وسلم در په ياد کړه؛ د هغه مجلس داسې و چې پر يوه سخته حصيره به ناست و، تر دې چې د حصيرې نښې به يې پر مبارک بدن پاتې کېدې او عمر رضي الله عنه به د دې حالت په ليدلو ژړل.

مياشت به پر مياشت تېرېده، خو د هغه صلی الله عليه وسلم په کور کې به د پخلي لپاره څه نه وو؛ خواړه يې خرما، اوبه او هغه شيدې وې چې انصارو به ورته د مينې له مخې لېږلې.

که دنيا درته تنګه شوه، يوسف عليه السلام در په ياد کړه؛ د يوې ښځې د شهوت له امله د څو کلونو لپاره د زندان تيارو ته ولوېد، او تر دې وړاندې د خپلو وروڼو د حسد له امله د څاه تل ته وغورځول شو.

**ای ملګري! دا دنيا د کړاوونو او ازموينو کور دی.**

که دنيا درته تنګه شوه، د کريم زوی، يحيی بن زکريا عليهما السلام در په ياد کړه؛ هغه د يوې فاسدې ښځې د غوښتنې له امله ووژل شو، ځکه هغې غوښتل له پاچا سره واده وکړي، خو يحيی عليه السلام فتوا ورکړې وه چې دا کار حرام دی.

نو پر خپلو اصولو ټينګ ودرېږه؛ ځکه ستا سر د پيغمبرانو له سرونو څخه غوره نه دی!

که ژوند درته تنګ شو، ابو هريره رضي الله عنه در په ياد کړه؛ هغه چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د حديثونو تر ټولو ستر حافظ و، ډېر ځله به يوازې د لوږې له امله له کوره راووت.

هغه به له صحابه‌وو څخه داسې پوښتنې کولې چې خپله به يې په ځواب پوهېده؛مګر هدف يې يوازې دا و چې کېدای شي يو صحابي يې خپل کور ته د ډوډۍ لپاره دعوت کړي او هغه ورسره لاړ شي.

او که دنيا درته تنګه شوه، حذيفه بن اليمان رضي الله عنه در په ياد کړه؛ هغه د رسول الله صلی الله عليه وسلم د رازونو امين و او د **اهل صفې** له ډلې څخه و.

کېدای شي پوښتنه وکړې:

**«اهل صفه څوک وو؟»**

ای ملګري! هغوی د رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه بېوزله اصحاب وو چې د جومات په يوه برخه کې اوسېدل؛ ځکه هغوی دومره مال نه درلود چې د خوراک لپاره څه پرې واخلي.

نو اوس بيا له ځانه وپوښته:

**ايا ته په دې راضي نه يې چې هغوی ته دنيا وي او موږ ته آخرت؟**

يقيناً، دنيا تېرېدونکې ده؛ خو آخرت تلپاتې دی.

ketabton.com - The Digital Library

# ژوند د هېچا لپاره نه درېږي!

امریکایۍ ارواپوهه **«آنا لیمبیکي»** په خپل په زړه پورې کتاب **«د ډوپامین ملت»** کې وايي:

له شلو کلونو څخه د زياتې مودې راهيسې چې د ارواپوهې په توګه کار کوم، او د لسګونو زرو ناروغانو کيسې مې اورېدلې دي، دې پايلې ته رسېدلې یم چې په کومه طريقه چې **موږ خپله شخصي کيسه بیانوو، دا زموږ د رواني روغتیا یوه ښه او مهم شاخص دی.**

هغه ناروغان چې خپلې کيسې داسې بیانوي چې تل پکې دوی قرباني وي او ډېر کم د خپل ناسم چلند د بدو پایلو مسؤولیت مني، عموماً هېڅ د پام وړ ښه والی نه مومي او د درد په مماغه کړۍ کې پاتې کېږي.

دوی دومره د نورو پر ملامتي بوخت دي، چې د خپلې ستونزې د درک کولو او له هغې څخه د رغېدو لپاره ورته فرصت نه پاتې کېږي.

خو برعکس، کله چې زما ناروغان د خپلو کیسو په بیانولو کې خپل مسؤولیت په ښتینې ډول مني، پوهېږم چې هغوی د ښه کېدو پر لور روان دي.

زما په اند، لازمه نه ده چې هر څوک چې پرې کومه غمیزه راغلې وي، د هغې مسؤولیت ولري؛ حتی یوه برخه مسؤولیت هم شايد ورته متوجې نه وي.

له بده مرغه، موږ په دې ژوند کې کله ناکله ځکه ځورېږو داشي نه چې بد خلک وو، بلکې ځکه چې **له حده زیات ښه وو!**

هر څه چې د هغې غمیزې لامل شوي وي او هر څومره چې موږ بې ترخه تجربه کړې وي، په پای کې حقیقت دا دی چې **غمیزه رامنځته شوې ده!**

که موږ د هغې بشپړ مسؤولیت ولرو، یا یوازې یوه برخه یې؛ په دې معنا چې نور خلک زموږ پر اوږو هغه وخت سپرېږي چې موږ ورته اجازه ورکړو، او یا هېڅ ګناه او تقصیر ونه لرو ـ لکه یوسف علیه السلام چې په کوهي کې وغورځول شو، یوازې په دې دلیل چې ډېر ښکلی و او پلار یې ورسره ډېره مینه کوله ـ نو څه چې شوي، هغه شوي دي.

په علتونو کې ځان بندول یوازې د غمیزې موده اوږدوي.

**بدې پېښې تل رامنځته کېږي.**

دا دنيا له خيانت کوونکو او بې‌اصله خلکو ډکه ده؛ له هغو رواني ناروغانو هم ډکه ده چې خپله درملنه نه کوي، بلکې د هغوی قربانیان درملنې ته اړتیا پیدا کوي!

خو موږ یوازې دوه انتخابونه لرو، درېیم نشته:

**یا به د قرباني په توګه ژوند کوو، یا به د ژوندي پاتې شوي انسان په توګه!**

هغه څوک چې د قرباني په توګه ژوند کول غوره کړي، د خپل تېر وخت زنداني به پاتې شي.

عمر به پرې تېرېږي، خو د هغه د وخت ستن به لا هم د هغه د زخم پر وخت ولاړه وي.

بې ګټې به ژاړي، اوږده ملامتي او ګیله به کوي، او هر ځل چې یې زخم لږ وچ شي، خپله به یې پوټکي بېرته را پلټي، څو زخم یې بیا تازه او دردناک شي.

نه به دومره توان ولري چې خپله کيسه له سره تکرار کړي او له هغې څخه عبرت واخلي، او نه به دومره توان ولري چې پاڼه واړوي او مخته لاړ شي!

ketabton.com - The Digital Library

خپله به هم ستړې شي او له ځان سره به نور خلک هم ستړې کړي.

خپل ځان ته به دا فرصت ورنه کړي چې بیا له چا سره مینه وکړي او یا د چا له خوا مینه وویني.

پر هېچا به د باور کولو توان نه لري؛ او د دې پایله به دا وي چې دی به هم د بل چا د باور وړ نه وي.

ځکه **مینه او باور لومړی تخم دی، بیا یې حاصل دی؛ او حاصل یوازې هغه څوک ترلاسه کوي چې تخم یې کرلی وي!**

خو هغه څوک چې د **ژوندي پاتې شوي انسان** په توګه ژوند کول غوره کړي، پاڼه به واړوي او مخته به لاړ شي.

له خپلې غمیزې څخه به درس واخلي.

هوښیار او محتاط به وي، خو شکمن به نه وي.

په عقل به مخته ځي او زړه ته به لږ شاتګ ورکوي.

د الله تعالی شکر به وباسي چې هغه بدې پېښې چې رامنځته شوې، له دې څخه هم بدې کېدای شوې.

او دا به ومني چې هغه خپېړه شاید د دې لپاره یو عادلانه قیمت وه چې له غفلته راویښ شي.

ځکه تر دې لویه غمیزه دا ده چې انسان هماغسې غافل او د نورو د لوبې وسیله پاتې شي!

ژغورل شوی انسان پوهېږي چې څه پېښ شوي، د هغه د ځینو ناسم انتخابونو پایله وه؛ خو پدې هم پوهېږي چې دنیا لکه څنګه چې له بدو خلکو ډکه ده، له ښو خلکو هم ډکه ده.

**د مینې زخم په نوې مینه رغېږي؛** البته دا ځل به ډېر محتاط وي.

ځکه دویم فرصت له لومړي فرصت څخه ډېر وېروونکی وي؛ ځکه انسان اوس پوهېږي چې څومره ستر خطر مني.

هغه څه چې په خطر کې یې اچوي، **د هغه زړه دی!**

یو بد او بې‌وفا ملګری به د یوه ښه او وفادار ملګري په راتګ هېر شي، او د باور زخم د یوه وفادار انسان په ملګرتیا ورو ورو رغېږي.

**له بدو خلکو تېر شئ!**

هغوی ته اجازه مه ورکوئ چې ستاسو اوسنی ژوند هم خراب کړي، لکه څنګه چې یې ستاسو تېر ژوند خراب کړی و.

**هیڅوک دومره ارزښت نه لري چې تاسو خپل عمر دوه ځله ورته ورکړئ!**

د هغو خلکو ژوند په پټه مه څارئ چې تاسو یې ځورولي یئ.

له دې ناوړه تجسس څخه ځانونه خلاص کړئ!

هغوی د خپل ژوند له کیسې څخه وباسئ، خاورو ته یې وسپارئ او خپل ژوند ته دوام ورکړئ.

بیا روښانه شئ.

لومړی ځان ته او بیا هغوی ته ثابته کړئ چې:

**ژوند د هېچا لپاره نه درېږي!**

څوک چې زموږ د زړونو وړ وي، مینه به ورسره کوو؛ او څوک چې بې‌ارزښته او نذل وي، له هغه څخه به هم د کرکې احساس نه کوو.

ketabton.com - The Digital Library

ځکه هغه دومره هم نه ارزښت چې موږ ورته **حتی یو احساس هم ورکړو، که هغه مینه وي او که کرکه!**

# «دا د عثمان لاس دی!»

کله چې د **حديبيې کال** راغی، رسول الله صلی الله علیه وسلم له مسلمانانو سره د مکې پر لور روان شو. د دوی هدف يوازې **عمره** وه.

په مکه کې دا اوازه خپره شوه چې مسلمانان د عمرې لپاره نه، بلکې د جګړې لپاره راغلي دي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم پرېکړه وکړه چې يو استازی مکې ته ولېږي، څو قريشو ته ووايي چې موږ د جګړې اراده نه لرو؛ يوازې د عمرې لپاره راغلي يو او له يوې شپې او ورځې څخه زيات به په مکه کې نه پاتې کېږو.

په پيل کې رسول الله صلی الله علیه وسلم د **عمر بن الخطاب رضي الله عنه** د استازي په توګه د لېږلو اراده وکړه.

خو عمر رضي الله عنه وويل: په هغه وخت کې په مکه کې زموږ د «بني عدي» خپلوان لږ وو، او که قريشو د خيانت اراده کړې وای، هغوی به زما د ساتنې توان نه درلود.

نو عمر رضي الله عنه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وړانديز وکړ چې د ده پر ځای **عثمان بن عفان رضي الله عنه** ولېږي؛ ځکه عثمان رضي الله عنه د بني اميه له کورنۍ څخه و، چې په قريشو کې يوه پياوړې او شتمنه کورنۍ وه، او څوک به زړه نه ښه کوي چې عثمان ته زيان ورسوي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د عمر رضي الله عنه وړانديز ومانه او عثمان رضي الله عنه يې د خپل استازي په توګه قريشو ته ولېږه، څو ورته ووايي:

**«موږ د جګړې لپاره نه يو راغلي؛ يوازې د عمرې لپاره راغلي يو.»**

عثمان رضي الله عنه مکې ته ورسېد او د رسول الله صلی الله علیه وسلم پيغام يې ابوسفيان او د قريشو مشرانو ته ورساوه.

هغوی ورته وويل چې په دې اړه به فکر وکړي.

ابوسفيان عثمان رضي الله عنه ته وويل:

**«که غواړې چې ته طواف وکړې، نو طواف وکړه!»**

عثمان رضي الله عنه وويل:

**«زه به تر هغه طواف ونه کړم، څو رسول الله صلی الله علیه وسلم طواف نه وي کړی.»**

قريشو عثمان رضي الله عنه له ځان سره وساته، څو خپله پرېکړه وکړي او بيا هغه پرېکړه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورسوي.

کله چې عثمان رضي الله عنه ډېر ناوخته شو، اوازه خپره شوه چې عثمان وژل شوی دی.

د هغه وخت د ډيپلوماتيکو دودونو له مخې، سفيران نه وژل کېدل. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ډېر غوسه شو او له مسلمانانو څخه يې وغوښتل چې د يوې ونې لاندې ورسره داسې بيعت وکړي چې که اړتيا شوه، د قريشو پر وړاندې به تر مرګه جګړه کوي.

دا بيعت وروسته د **بيعت رضوان** په نوم مشهور شو.

ketabton.com - The Digital Library

رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل مبارک لاس کېښود او صحابه‌وو به یو په بل پسې خپل لاسونه د هغه صلی الله علیه وسلم پر مبارک لاس ایښودل او د مرګ تر بریده یې د وفادارۍ بیعت کاوه.

کله چې ټول لاسونه د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر لاس راټول شول، هغه صلی الله علیه وسلم خپل بل مبارک لاس پورته کړ او ویې فرمایل:

**«او دا د عثمان لاس دی!»**

یقیناً، که عثمان رضي الله عنه نه وای تللی، ښایي دا بیعت د دې پېښې له امله نه وای شوی؛ خو عثمان رضي الله عنه سره له دې چې په بدن کې حاضر نه و، په حقیقت کې حاضر و.

**د خلکو سردار صلی الله علیه وسلم د عثمان رضي الله عنه استازیتوب وکړ، او خپل مبارک لاس یې د عثمان د لاس تشه ډکه کړه.**

رسول الله صلی الله علیه وسلم پوهېده چې که دا د مرګ بیعت د بل دلیل له امله هم وای او عثمان رضي الله عنه حاضر وای، نو هغه به هېڅکله له بیعته نه وی پاتې شوی.

نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه غیابت داسې وساته لکه چې حاضر وي.

## خو موږ د خپلو ملګرو غیابت څومره ساتو؟

ایا کله داسې شوي چې د یوه ښوزله لپاره صدقه راټولوو او زموږ له ډلې یو کس ووایي:

**«دا صدقه زما د هغه ملګري له طرفه ده چې حاضر نه دی؛ که حاضر وای، خامخا به یې صدقه ورکړې وای؟»**

ایا کله مو خپل پلار یا مور روغتون ته بیولې او د زړه له اخلاصه څخه مو د هغوی یوه تن ته ویلې:

**«زما ورور د عذر له امله نه شي راتلای؛ که هغه له موږ سره وای، نن به زما پر ځای هغه ستاسو خدمت کاوه. ما خو له هغه څخه د مور او پلار په خدمت کې ځان مخکې نه دی ګڼلی!»**

د تبوک د غزا پر مهال رسول الله صلی الله علیه وسلم **کعب بن مالک رضي الله عنه** ونه موند، نو پوښتنه یې وکړه:

**«کعب بن مالک څه وکړل؟»**

د بني سلمه له ډلې یوه سړي وویل:

**«یا رسول الله! د هغه دوه جامو او خپل ځان ته د کتو مشغولتیا له راتلو څخه منع کړی دی!»**

معاذ بن جبل رضي الله عنه راپورته شو او ویې ویل:

**«څومره بده خبره دې وکړه! په الله قسم، یا رسول الله، موږ د هغه په اړه له خیر پرته بل څه نه دي لیدلي!»**

هو، کعب رضي الله عنه غایب و؛ خو د معاذ رضي الله عنه په زړه کې حاضر و.

**معاذ د خپل ملګري غیابت وساته.**

یو سړي مشهور نحوي عالم **مُبَرِّد** ته وویل:

«فلانی ماته بد رد وویل، خو ما صبر وکړ او چوپ پاتې شوم. وروسته یې تاته هم بد رد وویل، نو ما ته هم له خپل ځان سره برابر وګڼلې او چوپ پاتې شوم.»

ketabton.com - The Digital Library

مُبَرِّد ورته وويل:

**«دا دواړه یو شان نه دي؛ ستا د خپل ځان په اړه زغم حِلم دی، خو د خپل ملګري په اړه زغم کول خیانت دی.»**

نو هر کله چې یو داسې ملګری درڅخه غایب شي چې ته یې **مروت او نېکي** پېژنې، د هغه ځای خالي مه پرېږده؛ په حق کې یې خبره وکړه، د هغه عزت وساته او د هغه نشتوالی د هغه پر ضد مه کاروه.

او تل دا خبره در په یاد کړه:

**«دا د عثمان لاس دی!»**

# راز په سترګو کې نه، بلکې په لید کې دی!

یوه ستر سوداګر خپل مرستیال یوه مخ پر ودې هېواد ته ولېږه، څو وګوري چې هلته د بوټانو د یوې فابریکې د جوړولو امکان شته که نه.

مرستیال یوه میاشت وروسته بېرته راغی او په خپل راپور کې یې ولیکل:

**«ښاغلیه! په دې هېواد کې د بوټانو د فابریکې جوړول هېڅ امکان نه لري؛ ځکه د دې ځای خلک له بنسټه پښې لوڅ ګرځي او بوټان نه اغوندي. د داسې یوه شي خرڅول چې خلک یې اصلاً نه کاروي، زما په نظر یو لېونی فکر دی!»**

سوداګر وغوښتل چې د پرېکړې له کولو مخکې خپل بل مرستیال هم د همدې کار لپاره هماغه هېواد ته ولېږي.

دوهم مرستیال هم یوه میاشت وروسته بېرته راغی او په خپل راپور کې یې ولیکل:

**«په دې هېواد کې د بوټانو د فابریکې جوړولو مفکوره ماته یوه ډېره هوښیارانه او brilliant مفکوره ښکاري!**

موږ کولای شو له دې لارې ډېر زیات عاید ترلاسه کړو؛ ځکه تر اوسه دلته هېڅوک زموږ په څېر بازار ته نـه دي داخـل شوي.

خلک د دې له امله په ستونزه کې دي چې پښې یې لوڅې دي، نو یقیناً به زموږ د فابریکې تولیداتو ته ډېر زیات مخـه کړي!

زه مبالغه نه کوم که ووایم چې زموږ د بوټانو فابریکه به دلته ډېر ستر بری ترلاسه کړي.»

په حقیقت کې، دا کیسه د ټول ژوند یو مهم راز راښيي!

البته که موږ د کیسې پېښې او کسان نه، بلکې **د هغې ژور مفهوم** وګورو.

موضوع یوازې دا نه ده چې دوه مرستیالان یوه دنده ترسره کوي، او نه هم یوازې د بوټانو د فابریکې او یوه سوداګر موضوع ده.

خلک د یوې واحدې مسئلې په اړه ډېر متفاوت نظرونه لري.

خو دا توپیر اکثره وخت د مسئلې له ذات څخه نه راولاړېږي؛ بلکې له هغې **لیدلوري** څخه راولاړېږي چې هر انسان د هماغې مسئلې په اړه یې لري.

ketabton.com - The Digital Library

له همدې امله په دې باوري اوسئ چې د خلکو چلند د یوې پېښې په وړاندې، تر دې ډېر د هغې پېښې حقیقت نه څرګندوي، څومره چې **د هماغو خلکو طبیعت او شخصیت** څرګندوي.

کله چې موږ د یوه حالت په اړه خپل لید بدل کړو، د هغه حالت په وړاندې زموږ دریځ هم بدلېږي؛ حتی کېدای شي په بشپړه توګه سرچپه شي.

کله ناکله د ژوند د واقعیت د بدلولو لپاره له دې پرته بل څه ته اړتیا نه وي چې **هغه لید بدل کړو چې د ژوند په اړه یې لرو.**

نو هره ستونزه یوازې د ستونزې له زاویې مه ګورئ؛ هڅه وکړئ د هغې بل اړخ هم ووینئ.

**کېدای شي هغه څه چې نن یې ستونزه ګڼې، سبا ستا لپاره تر ټولو ستر فرصت وي.**

# له الله تعالی څخه د عافیت غوښتنه وکړئ!

ابن کثیر په «**البدایة والنهایة**»، ابن عساکر په «**تاریخ دمشق**» او ابن الجوزي په «**صفة الصفوة**» کې روایت کوي:

عبدالوهاب بن سعید وایي:

حجاج حج ته ولاړ او د مکې او مدینې ترمنځ په یوه ځای کې تم شو. د غرمې ډوډۍ یې وغوښته او خپل حاجب ته یې وویل:

**«وګوره، څوک پیدا کولی شې چې له ما سره ډوډۍ وخوري او زه ترې د ځینو چارو په اړه پوښتنې وکړم.»**

حاجب د غره خوا ته وکتل، یو اعرابي یې ولید. ورغی او ورته یې وویل:

**«امیر ته راشه!»**

اعرابي ورغی. حجاج ورته وویل:

**«لاسونه ووینځه او له ما سره ډوډۍ وخوره.»**

اعرابي وویل:

**«زه هغه چا راوبللم چې له تا غوره دی، نو ما د هغه بلنه ومنله.»**

حجاج وپوښتل:

**«هغه څوک دی؟»**

اعرابي وویل:

**«الله تعالی! هغه زه د نفلي روژې لپاره راوبللم، ما یې بلنه ومنله.»**

حجاج ورته وویل:

**«په دې سخته ګرمي کې هم روژه نیسې؟»**

اعرابي وویل:

**«ما د هغې ورځې لپاره روژه نیولې چې له دې ورځې به لا ګرمه وي.»**

ketabton.com - The Digital Library

حجاج ورته وویل:

**«نو نن روژه ماته کړه او سبا یې ونیسه.»**

اعرابي ورته وویل:

**«ایا ته ماته دا ضمانت راکولی شې چې تر سبا به ژوندی پاتې شم؟»**

حجاج وویل:

**«دا زما په واک کې نه دي.»**

اعرابي وویل:

**«نو ته ولې له ما څخه د داسې سبا په بدل کې د نن کار غواړې چې ته یې د راتلو ضمانت نشې کولی؟»**

حجاج ورته وویل:

**«دا خو ډېر خوندور او ښه خواړه دي!»**

اعرابي وویل:

**«نه تا ښه کړي دي او نه پخونکي؛ بلکې **عافیت** هغه خوندور کړي دي!»

## په دې خبره ژور فکر وکړئ: «عافیت هغه خوندور کړي دي!»

د نعمتونو اصلي ارزښت یوازې په دې کې نه دی چې انسان یې ولري؛ بلکې په دې کې دی چې **د هغو له نعمت څخه د ګټې اخیستلو توان هم ولري.**

څومره داسې خلک شته چې د نعمتونو خاوندان دي؛ ځینې خلک ورته په سترګه د خوښۍ او هیلو ګوري، او ځینې پرې حسد کوي، خو حقیقت کې هغوی له ډېر څه محروم وي!

ډېر شتمن خلک داسې دي چې دومره پیسې لري چې د یوه ښار د خلکو لپاره د خوراک خواړه پرې اخیستلای شي؛ خو د یوې ناروغۍ له امله هغه خواړه نشي خوړلای چې د اخیستلو توان یې لري.

ما یو ځل د ډاکټر محمد النابلسي یوه وینا اوربدله. هغه یکې د یوه شتمن سړي کیسه کوله چې پېژنې یې. هغه سړی یوازې **جوش کړې سبزي** خوړلای شي؛ که له دې پرته بل څه وخوري، ژوند یې له خطر سره مخ کېږي.

د هغه او د ده په څېر نورو خلکو لپاره دنیا، سره له دې چې د دوی په لاس کې ده، هغه وخت خوند نه لري چې د بدن له **عافیت** څخه محروم وي.

او څومره داسې ستر او ښکلي ماڼۍ دي چې خلک یې له لرې ګوري او هیله کوي چې کاشکې دوی هم د داسې کور خاوندان وای؛ خو حقیقت کې کېدای شي هغه ماڼۍ د ژوندیو خلکو قبر وي!

په داسې کور کې کېدای شي یوه مېرمن وي چې له پامه غورځول شوې وي، لکه د کور د سامان یوه برخه؛

اولادونه وي چې مور او پلار یې د سوداګرۍ او دنیا په چارو کې دومره بوخت کړي وي چې له خپلو اولادونو یې غفلت کړی وي.

هلته د ظاهري ژوند تجمل وي، خو د حقیقت ژوند سخت او بې‌رحمه وي.

ketabton.com - The Digital Library

لکه د يوې ښکلې ښځې مړی چې څوک يې له لرې ويني، فکر وکړي چې ويده ده او زړه يې وغواړي چې د ده وای؛ خو کله چې پوه شي چې هغه مړه ده، نو په بشپړ ډول ترې مخ واړوي.

همداسې هغه کور دی چې ترې د **مينې، الفت او رحمت عافيت** اخيستل شوی وي.

نو کله چې له الله تعالی څخه د کوم نعمت غوښتنه کوئ، له هغه څخه يې **له عافيت سره يو ځای** وغواړئ.

ځکه کله چې عافيت له کوم نعمت څخه واخيستل شي، هغه نعمت بيا **ډېر لږ ارزښت** لري.

**نو تل ووايئ:**

**اللهم إنا نسألك العفو والعافية في الدنيا والآخرة.**

**اې الله! موږ له تا څخه په دنيا او آخرت کې ښښنه او عافيت غواړو.**

# د جريان خلاف لامبو وهل!

د غلامۍ پر ضد مبارز ليکوال **فريدريک ډګلاس** په ۱۸۱۷ کال کې د امريکا د مېرېلنډ ايالت کې د يوه غلام په توګه وزېږېد.

هغه په خپل مشهور کتاب «**زما غلامي او زما آزادي**» کې ليکلي وو:

**«غلامي داسې يو نظام دی چې د انسان په زړه کې د ژورې وېرې د رامنځته کولو پر بنسټ جوړ شوی دی.»**

ډګلاس تل د وخت د جريان خلاف روان و.

هغه په داسې حال کې چې د سختې سزا خطر يې موجود و، په خپله يې لوستل او ليکل زده کړل. کله چې د خپل سرغړاند چلند له امله په دورو ووهل شو، د شلو کلونو په عمر، پرته له پيسو او اړيکو، د امريکا شمالي ايالتونو ته وتښتېد.

خو ډېر ژر د غلامۍ ضد غورځنګ له مشرانو څخه شو. د شمالي ايالتونو په بېلابېلو سيمو کې به ګرځېده او خلکو ته به يې د غلامۍ د ظلمونو کيسې کولې.

د غلامۍ مخالفانو غوښتل چې هغه يوازې د ويناوو په همدې محدوده کې پاتې شي او تل هماغه کيسې تکرار کړي؛ خو هغه له دې څخه ډېر څه غوښتل.

نو يو ځل بيا يې سرغړونه وکړه او خپله د غلامۍ ضد ورځپاڼه يې جوړه کړه؛ دا د يوه پخواني غلام لپاره بې‌ساری اقدام و.

د هغه ورځپاڼې ډېر ستر بری ترلاسه کړ!

کله ناکله انسان بايد **يو ګام نور هم مخکې واخلي**؛ ځکه هغه يوازينی ګام چې انسان ته موجود ښکاري، ډېر وخت هغه پايلې نه لري چې انسان يې غواړي.

ډګلاس له دوو لارو پرته بله لار نه لرله:

يا به يې هر ځل د دورو وهلو عذاب زغمه، يا به تښتېده.

هغه د تېښتې لار غوره کړه.

ketabton.com - The Digital Library

ده ولیدل چې هغه نامعلوم ژوند چې پکې آزادي او ماجرا وي، له هغې غلامۍ څخه غوره دی چې یوازې د اطاعت په بدل کې د ظاهري امنیت وعده درکوي.

او په یاد ولره: **غلامي، غلامي ده؛ بل نوم نه لري.** مهمه نه ده چې د انسان پر غاړه تړل شوې رسۍ څومره اوږده وي.

انسان یا آزاد وي او یا غلام؛ **منځنۍ سیمه نشته!**

ژوند ډېرې وخت د هغو کسانو دی چې جرئت لري، د هغو چې د ستونزو مقابله کولی شي، او د هغو چې نه غواړي په غاړه یې زنځیر وي؛ که هغه زنځیر حتی له سرو زرو هم جوړ وي.

خو دا جرئت باید **له عقل او تدبیر سره مل وي**؛ که نه، په بې‌پروایۍ او بې‌احتیاطۍ بدلېږي.

او باید دا جرئت د یوه لوړ ارزښت او اصل څخه سرچینه واخلي؛ که نه، په بې‌بندوبارۍ بدلېږي.

## بلال بن رباح رضي الله عنه

بلال رضي الله عنه ځکه په تاریخ کې تلپاتې شو چې د جاهلیت هغه د غلامۍ نظام یې وننګاوه چې د انسان په اړه یې ویل:

**غلام د خپل بادار ملکیت دی.**

د هغوی په قانون کې غلام حق نه درلود چې خپل دین، خپل نظر او حتی خپل احساسات د بادار له غوښتنې څخه مخالف وټاکي.

خو بلال رضي الله عنه بل ډول دریځ درلود.

د هغه د آزادۍ تر ټولو ستره شیبه هغه وه چې د مکې پر تودو شګو یې وتاړه او یوه لویه ډبره یې پر سینه ور کېښوده.

په ظاهره تړل شوی و، خو په حقیقت کې آزاد و.

هغه د غلامۍ ټول نظام ولړزاوه!

## سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه

سعد رضي الله عنه هم ځکه په تاریخ کې تلپاتې شو چې د مکې او حتی د ټولو عربو له دودیز فکر څخه یې خلاف دریځ غوره کړ.

د هغه د انقلاب شعار دا و:

**عقیده له کورنۍ څخه مهمه ده!**

کله چې د هغه مور قسم وکړ چې د لمر لاندې به ولاړه وي، نه به خوراک کوي او نه به اوبه څښي، تر څو سعد له خپل دین څخه بېرته راوګرځي، سعد رضي الله عنه ورته وویل:

**«مورې! که ته سل ساګاني ولرې او هر ورځ دې یوه ساه ووځي، زه به له دې دین څخه لاس وانخلم.»**

## صُهیب رومي رضي الله عنه

صهیب رومي رضي الله عنه ځکه په تاریخ کې تلپاتې شو چې د **ملکیت مفهوم یې بدل کړ.**

ketabton.com - The Digital Library

عربو به ویل چې مال د انسان د روح په څېر دی؛ خو کله چې صهیب رضي الله عنه د هجرت لپاره مدینې ته روان شو، قریشو ورپسې شول او غوښتل یې چې بېرته یې راوګرځوي.

کله چې یې ولیدل چې په زور یې نشي درولای، د هغه له مال سره یې معامله وکړه.

لکه چې ورته یې وویل:

**«ته موږ ته هغه وخت راغلی چې بې‌ماله او بې‌وزله وې، اوس شتمن شوی یې او غواړې موږ پرېږدې؟!»**

صهیب رضي الله عنه هغوی ته د خپل مال ځای وښود او ټول مال یې پرېښود، خو خپله د خپل محبوب، رسول الله صلی الله علیه وسلم، پر لور مدینې ته روان شو.

کله چې مدینې ته ورسېد، رسول الله صلی الله علیه وسلم په خوږه موسکا ورته ښه راغلاست ووایه.

جبرائیل علیه السلام رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د صهیب او قریشو ترمنځ د معاملې خبر ورکړی و.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:

**«ربح البیع أبا یحیی!»**

یعنې:

**«اې ابو یحیی! ستا معامله ګټوره شوه!»**

هو، کله ناکله د ژوند تر ټولو لویه بریا دا وي چې انسان د خلکو د تمې خلاف، د حق او خپل لوړ اصل په لاره کې یو ګام نور هم واخلي.

**د جریان خلاف لامبو وهل اسانه نه دي؛ خو ډېر وخت همدا لاره انسان د آزادۍ او د عزت تر ساحله رسوي.**

# وچه ډوډۍ، خو عزت!

**د نفس عزت** په لوړ غږ، په مغرورانه تګ، او نه په هغو تشو خبرو کې دی چې له ځان‌ښودنې ډکې وي.

د نفس عزت تر دې ډېر ارام، خو ډېر ژور شی دی.

دا هغه پټه ځواکمنه اراده ده چې انسان نه پرېږدي خپل ځان په ارزانه بیه وپلوري، حتی هغه وخت چې ډېرې اړتیاوې ولري.

او دا هغه داخلي احساس دی چې انسان په اسانه خپل لاس د ورکولو لپاره اوږدوي، خو د اخیستلو لپاره یې له اوږده سوچ وروسته غځوي.

د نفس عزت دا معنا هم نه لري چې انسان دې یوازې ژوند وکړي او له خلکو دې بې‌نیازه شي؛ بلکې معنا یې دا ده چې له خلکو سره خپل حدود وپېژني.

نه د طمعې لپاره سر ټیټ کړي، او نه د تکبر له امله سر لوړ کړي.

دا د **عزت او تواضع ترمنځ یو ډېر نازک توازن** دی؛ داسې توازن چې انسان خپل قدر وپېژني، خو د نورو قدر هم هېر نه کړي.

ketabton.com - The Digital Library

«کیکاووس بن اسکندر» په خپل کتاب **«قابوس‌نامه»** کې یوه ډېره په زړه پورې کیسه کوي:

فقیه **شبیلي** یوه جومات ته لاړ، څو دوه رکعته لمونځ وکړي او لږه شېبه استراحت وکړي.

په هغه جومات کې د لیک لوست څو ماشومان هم وو، او د ډوډۍ وخت یې و؛ نو هغوی خپل خواړه خوړل.

په اتفاقي ډول دوه ماشومان د شبلي مخې ته ناست وو.

یو یې د یوه شتمن سړي زوی و او بل د یوه بېوزله سړي.

د شتمن ماشوم په کڅوړه کې خواړه وو، خو د بېوزله ماشوم په کڅوړه کې **وچه ډوډۍ** وه.

د شتمن زوی خواړه خوړل او د بېوزله ماشوم زړه هم ورته وشو او ترې وېې غوښتل.

هغه ورته وویل:

**«که غواړې خواړه درکړم، نو زما سپی شه!»**

ماشوم وویل:

**«زه ستا سپی یم!»**

د شتمن زوی ورته وویل:

**«د سپي په څېر غاپه!»**

هغه بېوزله، مسکین ماشوم ټيټ شو او د سپي په څېر یې غپل پیل کړل، تر دې چې شتمن ماشوم یوه ټوټه خواړه ورکړل.

شبلي دواړو ماشومانو ته کتل او وژړل.

مریدانو یې وپوښتلو:

«شیخه! څه دربانديې وشول چې ژاړې؟»

شبلي وویل:

**«وګورئ، طمعه انسان تر کومه ځایه رسوي! که هغه ماشوم په خپلې وچې ډوډۍ قناعت کړی وای او د خـواړو طمعه یې نه وای کړې، نو اړتیا نه وه چې د داسې ماشوم سپی شي!»**

فقر تل د پیسو په کموالي کې نه وي؛ کله ناکله فقر د **قناعت په کموالي** کې وي.

د هغه ماشوم په کڅوړه کې وچه ډوډۍ عیب نه وه؛ عیب دا و چې هغه **خواړه د خپل عزت څخه لوی وبلل.**

طمعه په کوچني شي پیل کېږي؛ یوه ژر تیریدونکې هیله، یوه ساده غوښتنه یا یوه لنډمهاله ارزو.

خو که د نفس عزت یې مخه ونه نیسي، ورو ورو دومره لویېږي چې انسان دې ته رسوي چې په هغه څه راضي شي چې یوه ورځ یې هېڅکله د منلو تصور هم نه کاوه.

څومره خلک شته چې د یوه اضافي شي د ترلاسه کولو لپاره یې خپل ځان بایللی دی؛ حال دا چې که په هغـه څـه یې قناعت کړی وای چې په لاس کې یې وو، نو خپل عزت به یې په بشپړ ډول ساتلی و.

هغه شیان چې موږ یې ډېره طمعه کوو، ډېر ځله دومره واړه وي چې **زموږ د عزت په بدل کې د اخیستلو ارزښت نه لري.**

ketabton.com - The Digital Library

په هغه شېبه کې د خوارږو يوه ټوټه ماشوم ته ډېره لويه ښکاره شوه؛ خو په حقيقت کې دومره ارزښت يې نه درلود چې د هغې لپاره دې انسان د سپي په څېر وغاپي!

له همدې امله د شبلي ژړا د يوه حکيم ژړا وه؛ هغه څوک چې د دې پېښې تر شا پټ حقيقت يې ليد.

هغه د يوه وږي ماشوم لپاره نه ژړل؛ بلکې د هغې کوچنۍ روح لپاره يې ژړل چې ډېر ژر يې يو سخت درس زده کړ:

**طمعه کولی شي انسان دې ته ورسوي چې خپل ځان او عزت له لاسه ورکړي، مخکې له دې چې خپله هم پرې پوه شي!**

# رباني اوسه، نه يوازې رمضاني!

کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفات شو، مسلمانانو ته سخت غم ورغی، حيران او سرګردانه شول. د دې امت صديق، **ابوبکر صديق رضي الله عنه**، جومات کې ودرېد او د خلکو ذهنونو ته يې وضاحت ورکړ. هغه مهال يې خلکو ته خپله مشهوره وينا وکړه:

**«ای خلکو! چا چې د محمد صلی الله عليه وسلم عبادت کاوه، نو محمد صلی الله عليه وسلم وفات شوی دی؛ او څوک چې د الله عبادت کوي، نو الله ژوندی دی او هېڅکله نه مري!»**

د ابوبکر رضي الله عنه د همدې خبرې پر بنسټ، که يې په بله بڼه ووايو، زه هم غواړم خلکو ته داسې غږ وکړم:

**ای خلکو! څوک چې يوازې د رمضان عبادت کوي، نو رمضان د تېرېدو په حال کې دی؛ او څوک چې د الله عبادت کوي، نو الله تعالی د ټولو مياشتو رب دی!**

زه د خلکو زړه ماتول او ناهيلي کول نه خوښوم. ماته د ګيلاس ډکه نيمايي دومره خوښه ده چې کله ناکله يې د تشې نيمايي له ليدلو څخه هم غافلوي.

زه دې لپاره شمعه بلول خوښوم، څکه په داسې ځای کې چې تياره وي، په **تياره د لعنت ويلو پر ځای ښه ده شمعه بله شي!**

د دې امت له خپلې هغې مبارکې مياشتې سره مينه او استقبال چې الله تعالی ورته غوره کړی، رښتيا هم زړه خوشحالوي او سينه پرې پراخېږي.

په سهار د فجر لمانځه کې د اوږدو صفونو ليدل د سترګو لپاره خوند او د زړه لپاره ډاډ دی؛ دا انسان ته دا هيله ورکوي چې دا امت ناروغېږي، خو مړ کېږي نه.

الله سبحانه وتعالی هر کال ورته داسې يوه مياشت راولي چې په هغې کې د کال په اوږدو کې د دې امت هغه مړه شوې روحونه بيا راژوندي کوي.

د تراويح لمانځه لپاره له پيله تر پايه د جوماتونو له خلکو ډکېدل، د خوښۍ او خوشحالۍ سبب دی.

د خلکو ترمنځ د قرآن کريم د ختمونو په اړه خبرې کول ـ يوه ختم پسې بل ختم ـ ډېر خوښونکې دي.

او د رمضان د قرآن‌کريم د حفظ په سياليو کې د کوچنيانو ګډون دا پيغام راکوي چې د دې امت د راتلونکې تخمونه لا هم سالم دي؛ يوه ورځ به وده وکړي او خپله مېوه به ورکړي.

د ګاونډيانو ترمنځ د خوړو د لوښو تبادله يوازې د خوړو يو دود نه دی؛ **دا د مينې، محبت او خپلولۍ له مراسمو څخه يو مراسم دی.**

ketabton.com - The Digital Library

د صدقو زیاتوالی او د بېوزلو پوښتنه او لاسنیوی، د ټولنیز یووالي او یو بل سره د مرستې له ښکلو نښو څخه ده.

خو یوه خبره ده چې زه یې نه شم درک کولای:

**ولې د رمضان اخلاق او عبادتونه له ځان سره د ټول کال لپاره نه وړو؟**

ولې د رمضان په وروستیو لسو شپو کې د فجر په لمانځه کې صفونه زیاتېږي، خو د شوال په لومړیو ورځو کې حتی لومړی صف هم په سختۍ بشپړېږي؟

ولې باید له قرآن کریم سره داسې چلند وکړو، لکه دا چې یوازې د یوې میاشتې کتاب وي، نه د ټول عمر کتاب؟

ولې د کال په نورو میاشتو کې د بېوزلو په لټه کې نه شو؟

ولې په ربیع الاول، جون یا ډسمبر کې خپلو ګاونډیانو ته د خوړو لوښي نه لېږو؟

ولې د کوچنیانو د قرآن د حفظ هڅونه له رمضان وروسته کمه یا ختمه شي؟

ولې د قرآن د حفظ سیالۍ د ټول کال لپاره نه وي؟

د رمضان د درناوي هغه منظرې، چې خلک یې په لمانځه، روژې، قرآن او صدقو سره حق ادا کوي، بې له شکه سترې او د خوښۍ وړ دي.

هغه امت چې له رمضان سره دومره ټینګه اړیکه لري، او هغه نه ضایع کوي لکه پخوانیو امتونو چې خپل فرصتونه ضایع کړي وو، داسې امت دی چې د دې وړتیا لري چې یوه ورځ بېرته خپل پخوانی مقام ترلاسه کړي؛ د بشریت لارښود شي او د تمدن او انسانیت بیرغ بیا پورته کړي، لکه څنګه چې یې د پېړیو په اوږدو کې کړی دی.

خو دا امت به تر هغه خپل طبیعي مقام بېرته ترلاسه نه کړي، **ترڅو چې د رمضان پیغام له رمضان څخه نورو میاشتو ته یونسي.**

نو:

**ربانیان اوسئ، یوازې رمضاني مه اوسئ!**

د الله بندګي یوازې د رمضان لپاره مه ځانګړې کوئ؛ د ټول کال لپاره د الله بندګان اوسئ.

**الله دې هر کال په خیر او برکت راولي!**

# له نبوت څخه یوازې زېرې پاتې دي!

ذهبي رحمه الله په خپل مشهور کتاب «**سیر أعلام النبلاء**» کې روایت کوي:

کله چې فرانجیانو پر **دمیاط** برید وکړ او هلته ښکته شول، **نورالدین زنګي** شل ورځې پرله‌پسې روژه ونیوله او له اوبو پرته یې هېڅ شی نه خوړل.

بدن یې ډېر کمزوری شو او نږدې وه چې ځان له لاسه ورکړي.

هغه دومره باهیبت و چې هېچا جرئت نه کاوه ورته ووایي:

**«له ځان سره لږ نرمي وکړه!»**

یوه شپه د هغه استاد **یحیی** په خوب کې رسول الله صلی الله علیه وسلم ولید.

ketabton.com - The Digital Library

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:

**«ای یحیی! نورالدین ته د دې زېری ورکړه چې فرانجیان به له دمیاط څخه ووځي.»**

یحیی وویل:

«یا رسول الله صلی الله علیه وسلم! کېدای شي هغه زما خبره ونه مني.»

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«د حارم د ورځې په نښه یې خبر کړه!»**

د **حارم جګړه** هغه سخته جګړه وه چې د نورالدین زنګي په مشرۍ د مسلمانانو د لښکر او د صلیبیانو د یوه لوی ائتلاف ترمنځ وشوه؛ په دغه ائتلاف کې د طرابلس، انطاکیه، ارمنیانو او د بیزانس د ستراوکۍ ځواکونه شامل وو.

الله تعالی په هغه ورځ مسلمانانو ته ستر او پرېکنده بری ورکړ.

کله چې سهار یې د فجر لمونځ ادا کړ، یحیی نورالدین ته وویل:

«زه درته یوه خبره وکړم، که ته راته یوه خبره کوې؟»

نورالدین ورته وویل:

**«ته یې راته وکړه!»**

یحیی وویل:

«رسول الله صلی الله علیه وسلم تاته د دې زېری درکړی چې فرانجیان به له دمیاط څخه وځي، او د دې خبرې نښه یې د حارم د ورځې پېښه ټاکلې ده.»

یحیی وپوښتل:

**«د حارم د ورځې نښه څه وه؟»**

نورالدین وویل:

«کله چې له دښمن سره مخ شو، زه د اسلام په اړه ووېرېدم. له خلکو څخه جلا شوم، خپل مخ مې پر خاورو کېښود او له خپل رب ته مې په زارۍ وویل:

**ای زما باداره او زما مولا! زه، ستا فقیر بنده نورالدین یم. دین ستا دین دی، لښکر ستا لښکر دی، او نن ورځ له موږ سره هغه څه وکړه چې ستا د کرم او سخا وړ وي!»**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**«له نبوت څخه پرته له مبشراتو (زېري ورکوونکو خوبونو) بل څه نه دي پاتې.»**

صحابه کرامو وپوښتل:

«یا رسول الله صلی الله علیه وسلم! مبشرات څه دي؟»

ویې فرمایل:

**«ښه خوب؛ چې یو انسان یې ویني، یا د هغه لپاره ولیدل شي.»**

ketabton.com - The Digital Library

خو په دې وروستیو وختونو کې موږ له دوو ډلو خلکو سره مخ شوي یو، او دواړو د خوبونو مقام له خپل اصلي ځای څخه ښکته کړی دی.

### لومړۍ ډله

دوی په خوبونو کې ژوند کوي او له واقعیت څخه یې مخ اړولی دی.

په خوبونو دومره اخته شوي چې خپل ژوند او عمر یې د هغو تابع کړی دی.

### دویمه ډله

دوی بیا خوبونه په بشپړه توګه ردوي او هېڅ اعتبار ورته نه ورکوي.

خو حقیقت نه د لومړۍ ډلې په افراط کې دی او نه د دویمې ډلې په انکار کې.

حقیقت په **منځلارۍ** کې دی؛ داسې منځلارۍ چې نه پکې افراط وي او نه مطلق انکار.

زه نه پوهېږم چې څوک قرآن کریم ولولي او د **سورت یوسف** پېښې وپېژني، بیا څنګه د خوبونو اصل په بشپړه توګه انکارولای شي؟

او یا څنګه هغه څوک د خوبونو حقیقت ردولای شي چې د **ابراهیم علیه السلام** لپاره د خپل زوی د قربانۍ خوب او د هغه د الله تعالی له لوري د حکم په توګه راتلل یې لوستي وي؟

البته د پیغمبرانو خوبونه له نورو خلکو سره توپیر لري؛ **د انبیاوو خوبونه د وحی یوه برخه وي.**

نو نه باید انسان د خوبونو په دنیا کې داسې ډوب شي چې له واقعیت څخه بېل شي، او نه باید ټول خوبونه په بشپړه توګه رد کړي.

**منځلارۍ غوره ده؛ نه افراط او نه تفریط.**

## د مدیریت یو درس!

د خپل هنري مسیر په لومړیو پړاوونو کې، د سویډن ستر فلم جوړونکی **«انګمار برګمان»** دې پایلې ته ورسېد چې نه د خپلو فلمونو له پایلو ډېر راضي دی او نه د هغو لوبغاړو له اداکارۍ چې ورسره کار کوي.

نو پرېکړه یې وکړه چې یو بل ډول طریقه وازمويي.

هغه به د فلم سناریو لیکله، خو خبرې او مکالمې به یې تر ډېره پرانیستې پرېښودې. بیا به یې خپل لوبغاړي راوبلل، څو خپلې ورتیاوې، تجربې او احساسات د فلم له موضوع سره ګډ کړي.

په دې توګه به لوبغاړو خبرې داسې جوړولې چې د هغوی له واقعي احساساتي غبرګونونو سره برابرې وې؛ او په دې سره به سناریو لا ژوندۍ او طبیعي کېده.

کله ناکله دې کار ته اړتیا پېښېده چې د فلم د کیسې ځینې برخې له سره ولیکل شي، خو دا اضافي زحمت یې حیرانوونکې پایلې لرلې.

لوبغاړو دا طریقه ډېره خوښه کړه. هغوی احساس کاوه چې په کار کې رښتینې ګډون لري او د فلم یوه برخه دي.

ketabton.com - The Digital Library

له همدې امله يې له برګمان سره د کار کولو لا ډېره لېوالتيا پيدا شوه، حوصله او شوق يې زيات شو، او هره نوې اداکارۍ يې تر تېرې هغې غوره وه.

د هغه فلمونه هم د يوه کلک او نه بدلېدونکي متن پر وړاندې د ځان محدودولو پر ځای، لا زيات ژوند، احساس او طبيعي توب پيدا کړ.

او هر څومره چې برګمان په دې تګلاره کې وړاندې لاړ، د هغه د فلمونو محبوبيت هم زياتېده.

هغه څه چې برګمان هغه مهال ترسره کړل، نن ورځ د مديريت په برخه کې په يوه مهم اصل مشهور دي چې **«تفويض»** ورته ويل کېږي.

تفويض يعنې مسؤول کس د کار عمومي چوکاټ ټاکي، خو کارکوونکو ته دا آزادي ورکوي چې د ترسره کولو لپاره يې مناسبې لارې او طريقې خپله وټاکي.

دا يو برياليی اصل دی؛ ځکه کارکوونکي داسې احساس کوي چې دوی د کار يوه برخه دي، نه دا چې يوازې هغه ماشينونه دي چې له مخکې جوړه شوې طرحه پلې کوي.

البته دا معنا نه لري چې مسؤول کس دې له څارنې او کنټرول څخه لاس واخلي.

هغه کولای شي په دوامداره توګه کار وڅاري، تعقيب يې کړي، او کله ناکله د خپل نظر د څرګندولو او د اصلاحاتو د وړانديز لپاره مداخله وکړي.

په دې سره په کار کې **د ټيم او ګډ کار روحيه** رامنځته کېږي.

**عمر بن الخطاب رضي الله عنه**، سره له دې چې په خپل مشهور قاطعيت او ټينګ هوډ معروف و، د دولت چارې يې په کلکه تر نظر لاندې وې او حتی د وړو جزئياتو يې څارنه هم کوله؛ خو له دې سره سره په مديريت کې د **تفويض** اصل ته ډېر تمايل درلود.

يوه ورځ يې **محمد بن مسلمه** ته وويل:

**«د خلکو تر ټولو بشپړ نظر لرونکی هغه سړی دی چې کله د خپل مسؤول له لوري ورته کومه ځانګړې لارښوونه نه وي، نو په خپله د تدبير او احتياط له مخې عمل وکړي، يا هم همدا ډول نظر وړاندې کړي.»**

کله چې **معاويه بن ابي سفيان رضي الله عنه** عمر رضي الله عنه ته د شام په سيمه کې د پاچاهۍ په څېر د ځينو ظاهري تدابيرو ـ لکه د دروازې ساتونکی او د امنيتي ساتونکو د ټاکلو ـ د لاملونو په اړه وضاحت ورکړ، عمر رضي الله عنه ورته وويل:

**«نه يې درته امر کوم او نه يې درڅخه منع کوم!»**

يعنې هغه ته يې آزادي ورکړه چې د حالاتو له مخې هغه څه غوره کړي چې مناسب يې ګڼي.

او کله چې **ابوعبيده بن الجراح رضي الله عنه** عمر رضي الله عنه ته ليک واستاوه او د دښمن د تعقيب لپاره د تنګو لارو او درو ته د ننوتلو اجازه يې وغوښته، عمر رضي الله عنه ورته وليکل:

**«ته حاضر يې او زه غايب يم؛ ته د خپل دښمن په وړاندې يې، او ستا کسان درته خبرونه راوړي.»**

په دې سره يې ابوعبيده رضي الله عنه ته اجازه ورکړه چې د خپل ځای، حالاتو، معلوماتو او موجودو امکاناتو پر بنسټ خپله پرېکړه وکړي.

ketabton.com - The Digital Library

نو:

**خپل لاسونه لږ نرم کړئ!**

هغه کسان چې ستاسو تر مسؤولیت لاندې کار کوي، پرېږدئ چې ساه واخلي.

دوی ته ځای ورکړئ چې **نوښت وکړي او خپله پرېکړه وکړي.**

ستاسو حق دی چې څارنه وکړئ، تعقیب یې کړئ او د کار ارزونه وکړئ؛ خو هر څه په خپل لاس کې مه نیسئ.

دا هم ستاسو لپاره اسانه ده او هم د هغو خلکو لپاره چې ستاسو تر مدیریت لاندې کار کوي.

**ښه مدیر هغه نه دی چې هر کار پخپله کوي؛ ښه مدیر هغه دی چې خپل ټیم ته د ښه کار کولو فرصت ورکوي.**

# د هغوی د احساساتو په اړه!

د **خدیجې رضي الله عنها** د احساساتو په اړه فکر وکړئ، کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:

**«ستا رب تاته سلام وایي!»**

د **أُبي بن کعب رضي الله عنه** د احساساتو په اړه فکر وکړئ، کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:

**«الله تعالی ماته امر کړی چې قرآن درته ولولم.»**

أُبي رضي الله عنه وپوښتل:

«ایا الله زما نوم هم درته اخیستی دی؟»

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«هو، ستا نوم یې راته اخیستی دی!»**

د **سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه** د احساساتو په اړه فکر وکړئ، د أُحد په ورځ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:

**«غشي ووله، مور او پلار مې دې له تا قربان شي!»**

د **علي بن ابي طالب رضي الله عنه** د احساساتو په اړه فکر وکړئ، کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:

**«ته زما لپاره داسې یې لکه هارون چې د موسی لپاره و؛ خو له ما وروسته هېڅ پیغمبر نشته.»**

د **بلال بن رباح رضي الله عنه** د احساساتو په اړه فکر وکړئ، کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:

**«ما په جنت کې ستا د پښو د تګ غږ واورېد.»**

د **ابوبکر صدیق رضي الله عنه** د احساساتو په اړه فکر وکړئ، کله چې هغه له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په غار کې و او رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:

**«ای ابوبکره! ستا په اند د هغو دوو کسانو په اړه څه فکر کوې چې درېیم یې الله دی؟»**

ketabton.com - The Digital Library

د **عبدالله بن مسعود رضي الله عنه** د احساساتو په اړه فکر وکړئ؛ کله چې صحابه کرامو د هغه په نريو لنګويو پورې وخندل، رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

**«ايا تاسو د هغه د پنډيو(لنګيو) نريوالي پوري خاندئ؟ په هغه ذات قسم چې زما روح يې په لاس کې دی، د قيامت په تله کې به د هغه دواړه پنډۍ د اُحد له غره څخه هم درنې وي!»**

د **عثمان بن عفان رضي الله عنه** د احساساتو په اړه فکر وکړئ؛ کله چې صحابه کرام د بيعت رضوان لپاره راټول شول، خپل لاسونه يې وغځول، خو عثمان رضي الله عنه په مکه کې و.

رسول الله صلی الله عليه وسلم خپل بل لاس وغځاوه او ويې فرمايل:

**«دا د عثمان لاس دی!»**

د **سلمان فارسي رضي الله عنه** د احساساتو په اړه فکر وکړئ، کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

**«سلمان زموږ د اهل بيتو له ډلې دی!»**

د **عمر بن الخطاب رضي الله عنه** د احساساتو په اړه فکر وکړئ، کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل:

**«په هغه ذات قسم چې زما روح يې په لاس کې دی، شيطان هېڅکله له تا سره په داسې لار نه دی مخ شوی چې ته پرې روان يې، مګر دا چې هغه له بلې لارې تللی دی!»**

د **معاذ بن جبل رضي الله عنه** د احساساتو په اړه فکر وکړئ، کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل:

**«ای معاذه! په الله قسم، زه له تا سره مينه لرم!»**

د **صهيب رومي رضي الله عنه** د احساساتو په اړه فکر وکړئ؛ کله چې هغه له مکې څخه د هجرت په حال کې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ورسېد، او خپل ټول مال يې قريشو ته پرېښی و.

رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل:

**«ای ابو يحيی! ستا معامله ډېره ګټوره وه!»**

د **فاطمې رضي الله عنها** د احساساتو په اړه فکر وکړئ، کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

**«فاطمه زما د وجود يوه ټوټه ده؛ هر څه چې هغې ته خپه کوونکي وي، ما هم خپه کوي، او هر څه چې هغې ته زيان رسوي، ما ته هم زيان رسوي.»**

د **ابوعبيده بن الجراح رضي الله عنه** د احساساتو په اړه فکر وکړئ، کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

**«د هر امت يو امين وي، او د دې امت امين ابوعبيده دی!»**

د **سعد بن معاذ رضي الله عنه** د احساساتو په اړه فکر وکړئ؛ کله چې هغه د بني قريظه د يهودو په اړه پرېکړه وکړه او رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل:

**«تا د هغوی په اړه د الله تعالی د حکم مطابق پرېکړه وکړه، له اوو اسمانونو پورته!»**

د **سميه، ياسر او عمار رضي الله عنهم** د احساساتو په اړه فکر وکړئ، کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل:

**«صبر وکړئ، ای د ياسر کورنۍ! ستاسو وعده جنت دی!»**

ketabton.com - The Digital Library

د **حسان بن ثابت رضي الله عنه** د احساساتو په اړه فکر وکړئ؛ کله چې هغه خپل شعر د اسلام د دعوت لپاره کاراوه، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:

**«زما له طرفه دفاع وکړه، هغوی په شعرونو وځپه، او روح القدس له تا سره دی!»**

د **عکاشه رضي الله عنه** د احساساتو په اړه فکر وکړئ، کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«زما له امته به اویا زره کسان بې له حساب او عذابه جنت ته داخلېږي.»**

عکاشه رضي الله عنه وویل:

«یا رسول الله صلی الله علیه وسلم! دعا راته وکړه چې زه هم له هغوی څخه شم.»

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«ته له هغوی څخه یې!»**

د **ابوموسی اشعري رضي الله عنه** د احساساتو په اړه فکر وکړئ؛ کله چې هغه قرآن کریم تلاوت کاوه او رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته غوږ نیولی و.

بیا یې ورته وفرمایل:

**«ای ابوموسه! تا ته د داود علیه السلام د کورنۍ له سازونو څخه یو ساز درکړل شوی دی!»**

د **انصارو رضي الله عنهم** د احساساتو په اړه فکر وکړئ؛ کله چې هغوی څکه خپه شول چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د حنین د جګړې غنیمتونه د مکې هغو خلکو ته ورکړل چې تازه مسلمان شوي وو.

نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:

**«ای د انصارو ډلې! ایا تاسو په دې راضي نه یاست چې خلک له ځان سره پسونه او اوښان یوسي، خو تاسو له ځان سره رسول الله صلی الله علیه وسلم یوسئ؟!»**

او د **مور، د نن ورځې د مؤمنانو، د احساساتو په اړه** فکر وکړئ؛ هغه مهال چې رسول الله صلی الله علیه وسلم زموږ په اړه وفرمایل:

**«زما وروڼه هغه کسان دي چې پر ما یې ایمان راوړی، حال دا چې ما نه دي لیدلی!»**

صلی الله علیه وسلم

# تل داسې مه اوسئ چې هر څوک مو اټکل وکړای شي!

د **۱۸۰۰ میلادي کال د پسرلي** په موسم کې «ناپلیون» چمتو کېده چې خپل لښکر ایټالیا ته رهبري کړي.

خو د پوځ جنرالانو ورته وویل چې د کال په دې وخت کې د **الپ غرونه** د تېرېدو لپاره مناسب نه دي، او مشوره یې ورکړه چې انتظار وکړي.

ناپلیون ورته وویل:

**«خو انتظار به د بریا فرصت له منځه یوسي!»**

ketabton.com - The Digital Library

هغوی ورته وویل:

«او د الپ غرونه؟»

ناپلیون وویل:

**«د هغه پوځ پر وړاندې چې ناپلیون یې رهبري کوي، د الپ غرونه اصلاً وجود نه لري!»**

بیا پر خپل اس سپور شو او د پوځ په سر کې پخپله روان شو، له سختو لارو، ستونزمنو غرنیو سیمو او بې‌شمېره خنډونو څخه تېر شو.

بالاخره له خپل پوځ سره خپل هدف ته ورسېد، پر ایټالوي پوځ یې ناڅاپي برید وکړ او سخته ماتې یې ورکړه.

## تل داسې مه اوسئ چې هر څوک مو راتلونکی ګام اټکل کړای شي!

هغه څوک چې د راتلونکي ګام اټکل یې په اسانۍ سره کېدای شي، ډېری وخت هغه پایلې نه شي ترلاسه کولای چې تمه یې لري؛ ځکه راز په دې کې دی چې **د ناڅاپي اقدام عنصر** له ځان سره ولري.

د سیرت په کتابونو کې د داسې چلند لسګونه بېلګې شته چې انسان په یوه تکراري او د اټکل وړ ډول عمل نه کوي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم به ډېر پام کاوه چې د هغه حرکتونه د دښمن لپاره د اټکل وړ نه وي؛ له همدې امله به یې تل له نورو څخه **یو ګام مخکې** حرکت کاوه.

د هجرت پر مهال یې مدینې ته عادي او مستقیمه لار ونه نیوله.

په غزاوو کې به یې هم د خپل اصلي مقصد د پټولو لپاره داسې تګلاره کاروله چې دښمن پرې پوه نه شي.

کله به چې یې د کوم ځای د جګړې اراده کوله، داسې اوږده او تاوېدلې لار به یې غوره کوله چې واټن به یې زیات و، خو په بدل کې یې د **ناڅاپي برید** امکان درلود.

په همدې توګه به یې په لږو تلفاتو سره اسانه بری ترلاسه کاوه.

البته دا خبره یوازې د جګړې او جنګونو لپاره نه ده؛ بلکې د ژوند په ټولو برخو کې هم صدق کوي.

کولای شې خپلې مېرمنې ته داسې ډالۍ ورکړې چې هېڅ تمه یې نه لري.

او مېرمنه هم کولای شي خپل مېړه ته داسې نوي او خواږه کارونه وکړي چې زړه یې خپل کړي.

**تکراري چلند انسان د عادت او روټین پر لور وړي، او روټین وژونکی دی.**

د خپل کاروبار او شرکت د اعلان او بازارموندنې په طریقه کې هم کولای شې له نورو څخه متفاوت واوسې.

ځینې ډېرې کوچنۍ نوې او ابتکاري لارې کولی شي ډېر لوی توپیر رامنځته کړي او خلک دې کاروبار ته راجلب کړي.

حتی که خبره یوازې د پیسو او مشتریانو د جذب نه وي، بلکې د **ارزښتونو او اصولو** خبره هم وي، نو نادر او متفاوت کار د خلکو پام ځان ته اړوي.

زه یو دعوتګر پېژنم چې هر ځل له چا سره روغبړ کوي، له جېبه یوه کوچنۍ د عطرو بوتلچه راوباسي او د هغه لاس په عطر خوشبویه کوي.

له همدې امله هغه په خلکو کې په خپل دې ځانګړې عادت او ښه بوی مشهور شوی دی.

ketabton.com - The Digital Library

یو ځل مې د یوه ډاکټر نسخه ولیده چې د درملو تر لیکلو لاندې یې د عقیدې په اړه څو نصیحتونه هم لیکلي وو:

**۱. زه یوازې یوه وسیله یم؛ شفا ورکوونکی الله تعالی دی.**

**۲. خپل درمل د نسخې مطابق استعمال کړه، خو په یاد ولره چې الله تعالی کله د درملو له لارې او کله بې له درملو شفا ورکوي.**

**۳. خپل درد د ثواب په نیت وزغمه؛ ځکه حتی هغه اغزی چې مؤمن ته ور چوخیږي، الله تعالی د هغه په وسیله د مؤمن ځینې ګناهونه ببښي.**

دا ټولې خبرې موږ ته معلومې دي، خو بیا هم ځانګړې دي.

ولې؟

ځکه چې **نادر او متفاوت شی د خلکو پام ځان ته اړوي.**

# له خپل ځان څخه راضي کېدل؛ د پرمختګ وژونکی دی!

سقراط ته خبر ورسېد چې د ښار غیب‌ویونکې ښځې هغه په نړۍ کې تر ټولو هوښیار انسان بللی دی!

دا خبره سقراط حیران کړ؛ ځکه هغه خپل ځان د دې لقب وړ نه باله!

نو په ډېرې ساده‌ګۍ یې پرېکړه وکړه چې د آتن په ښار کې وګرځي او له ځان څخه د لا هوښیار انسان په لټه کې شي!

هغه فکر کاوه چې کار به په ښه توګه پر مخ ولاړ شي، یو داسې سړی به پیدا کړي چې تر ده هوښیار وي، او په دې توګه به ثابته کړي چې غیب‌ویونکې ښځه تېروتې ده!

هغه له سیاستوالو، شاعرانو، کسبګرو، او خپلو فلسفي ملګرو سره په ګڼو بحثونو کې ښکېل شو.

خو بالاخره ورو ورو دې پایلې ته ورسېد چې غیب‌ویونکې ښځې رښتیا ویلي وو!

ځکه هر هغه څوک چې ده ورسره بحث کړی و، د ډېرو شیانو په اړه یې بشپړ یقین درلود، او د هغو موضوعاتو په اړه یې کلک او نه بدلېدونکې نظرونه ورکول چې په حقیقت کې یې پرې هېڅ ژوره پوهه نه لرله.

هغوی داسې وو لکه له هوا څخه ډک شوي بالونونه!

خو کله چې سقراط به ترې پوښتنې کولې، نو د ځواب ورکولو وس به یې نه درلود!

سقراط دې حقیقت ته متوجه شو چې د ده د برلاسۍ راز په دې کې دی چې دی له لومړي سره په دې شک کوي چې ګوندې زه پر هر څه پوهېږم!

همدا شک دی چې هغه دې ته هڅوي چې ولولي، څېړنه وکړي او زده کړه وکړي!

البته انسان باید هېڅکله خپل ځان سپک او بې‌ارزښته ونه ګڼي؛ دا یو مهم اصل دی چې باید د دې خبرې له پیل مخکې پرې ټینګار وشي.

خو له بلې خوا، **له خپل ځان څخه بشپړ راضي کېدل د انسان د پرمختګ وژونکی دی!**

ځکه دا انسان په خپل ځای کنګلوي او له پرمختګ څخه یې راګرځوي!

ketabton.com - The Digital Library

د ژوند له هغو ښکلو پارادوکسونو څخه یو دا دی چې انسان یوازې هغه وخت د خپلې ناپوهۍ پراخوالی درک کوي، کله چې پوهه ترلاسه کړي!

د بېلګې په توګه، الله تعالی فرمایي:

**«لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الأُنثَيَيْنِ»**

یعنې: **«د نارینه لپاره د دوو ښځو د برخې هومره برخه ده.»**

هغه څوک چې د میراث له علم سره ژوره بلدتیا نه لري، کېدای شي دا آیت داسې روښانه او قطعي حکم وبولي چې ګواکې هېڅ ډول اجتهاد او تفصیل پکې ځای نه لري، او حتی د تشریح لپاره یې د یوه تورې زیاتول هم ناشوني وي.

خو حقیقت دا دی چې د میراث د فقهاوو په کتابونو کې داسې ډېر حالتونه شته چې ښځه پکې له نارینه څخه زیاته برخه اخلي!

تر هغه چې موږ یوازې د دې موضوع په اړه همدا یو آیت پېژنو، فکر کوو چې ګواکې د میراث له علم څخه عالمان یو.

خو کله چې د موضوع فرعي مسئلو ته داخل شو او د هغې جزئیات او شرایط وڅېړو، نو پوهېږو چې **موږ په حقیقت کې نه پوهېدو!**

شخصاً، زما د عمر تر ټولو هغه دوره چې ما پکې فکر کاوه زه پر هر څه پوهېږم، هغه وخت و چې د لومړي ټولګي زده‌کوونکی وم!

ما هغه مهال ګومان کاوه چې د نړۍ هره معما تشریح کولی شم؛ ځکه هغه وخت زما لپاره ټوله نړۍ زما د پوهې په اندازه وه.

یا په لا دقیق تعبیر:

**نړۍ زما د ناپوهۍ په اندازه وه!**

خو زما د عمر تر ټولو هغه دوره چې پکې مې په ژوره توګه درک کړه چې زه څومره ډېر نه پوهېږم، د دوکتورا د رسالې له دفاع وروسته وه!

هغه تر ټولو ډېره دوره وه چې ما پکې څېړنه وکړه، مطالعه مې وکړه، بېلابېل نظرونه، استنباطونه او لیدلوري مې ولیدل.

نو پوه شوم چې:

**د ناپوهۍ هغه پټه سیمه هېڅ شی نه شي راښکاره کولی، مګر دا چې د علم رڼا پرې واچول شي!**

# له خپل خالق پرته بل چا ته مه ټیټېږه!

ذهبي په **«سیر أعلام النبلاء»**، ابن حجر په **«الإصابة»**، بیهقي په **«شعب الإیمان»** او ابن عساکر په **«تاریخ دمشق»** کې روایت کړی چې ابن عباس رضي الله عنهما ویلي:

رومیانو د رسول الله صلی الله علیه وسلم یو صحابي، **عبدالله بن حذافة السهمي رضي الله عنه**، اسیر کړ.

د روم ظالم پاچا ورته وویل:

**«مسیحي شه، که نه نو په جوشېدلو تېلو کې به دې واچوم!»**

ketabton.com - The Digital Library

عبدالله رضي الله عنه وویل:

**«زه به هېڅکله داسې ونه کړم!»**

پاچا د تېلو لوی دیګ راوغوښت. دیګ له تېلو ډک او تېل یې ښه وجوشول. بیا یې یو مسلمان راوغوښت، مسیحیت یې ورته وړاندې کړ، خو هغه یې ونه مانه.

نو پاچا هغه مسلمان په جوشېدلو تېلو کې واچاوه، تر دې چې د هغه هډوکي ښکاره شول.

بیا یې عبدالله بن حذافه رضي الله عنه ته وویل:

**«مسیحي شه، که نه نو ته به هم په همدې دیګ کې واچوم!»**

عبدالله رضي الله عنه وویل:

**«زه به هېڅکله داسې ونه کړم!»**

پاچا امر وکړ چې دیګ ته یې واچوي.

کله چې عسکرو هغه د دیګ پر لور روان کړ، عبدالله رضي الله عنه وژړل.

پاچا وویل:

**«بېرته یې راوګرځوئ!»**

بیا یې ترې وپوښتل:

**«ایا تا له وېرې او ډار څخه وژړل؟»**

عبدالله رضي الله عنه وویل:

**«نه، په الله قسم! ما ځکه وژړل چې یوازې یوه ساه لرم. ما دا هیله کوله چې کاشکې سل ژوندونه مې لرلای، او ټول سل به مې د الله په لار کې قربان کړي وای!»**

پاچا د هغه له زړورتیا او استقامت څخه ډېر متأثر شو او ورته یې وویل:

**«مسیحي شه؛ خپله لور به درته په نکاح کړم او د خپل سلطنت نیمه برخه به درکړم!»**

عبدالله رضي الله عنه وویل:

**«زه به هېڅکله داسې ونه کړم!»**

پاچا وویل:

**«نو یوازې زما سر ښکل کړه، زه به تا او له تا سره اتیا مسلمان بندیان به خوشې کړم!»**

عبدالله رضي الله عنه وویل:

**«دا خبره بیا منم!»**

نو هغه د پاچا سر ښکل کړ، او پاچا دی او اتیا نور مسلمانان خوشې کړل.

کله چې دوی د مسلمانانو خلیفه **عمر بن الخطاب رضي الله عنه** ته ورسېدل، عمر رضي الله عنه عبدالله بن حذافه رضي الله عنه ته ودرېد او ویې ویل:

**«پر هر مسلمان لازمه دی چې د عبدالله سر ښکل کړي، او زه به لومړی دا کار وکړم!»**

ketabton.com - The Digital Library

بیا عمر رضي الله عنه د عبدالله رضي الله عنه سر ښکل کړ، او مسلمانان هم یو په بل پسې ورغلل او د هغه سر یې ښکل کړل.

مسلمان عزتمند دی؛ **سر یې یوازې خپل خالق ته ټیټېږي!**

د ژوند پای هرومرو مرګ دی، هر څومره چې یې بڼه او حالت ادلون بدلون وکړي. انسان یوازې یو ژوند لري او یوازې یو مرګ.

نو د مرګ له وېرې د ژوند ذلت مه اخلئ؛ ځکه زموږ عمرونه لا له دې مخکې لیکل شوي وو چې موږ نړۍ ته راغلو، قلمونه پورته شوي او صحیفې وچې شوې دي!

کله چې خبره د دنیا وي، نو **نرم او انعطاف‌من اوسئ.**

یو ځل هڅه وکړئ، بیا بیا هڅه وکړئ؛ که یوه وسیله مو هدف ته نه رسوي، وسیله بدله کړئ!

نرم‌خویه اوسئ؛ ځکه انسان په نرمۍ سره داسې مقام ته رسېږي چې په زور او سختۍ یې نه شي ترلاسه کولی.

په زړه کې د ټولو خلکو لپاره هغه که—مسلمان وي که کافر—رحمت(صله رحمي) ولرئ.

د خلکو په منځ کې د انسانیت نښه وګرځئ، له خپلو خوبونو تر وروستۍ سلګۍ پورې دفاع وکړئ، او د بریا او امتیاز لپاره هڅه وکړئ!

**خو کله چې خبره د عقیدې وي، نو بیا د غره په څېر کلک شئ!**

هیڅکله مه ټیټېږئ، هر څومره چې شرایط سخت وي!

ځکه کېدای شي ورځې بیا تاسو ته فرصت درنه کړي چې یو ځل بیا پورته شئ.

د اصولو او عقیدې څخه د تېرېدو سفر له یوه کوچني ګام څخه پیلېږي؛ بیا انسان ناڅاپهویني چې ډېر لرې تللی دی، او نور هغه انسان نه دی چې د سفر په پیل کې و!

تاریخ په خپلو پاڼو کې د هغو رنګارنګ او بې‌اصوله خلکو نومونه نه ساتي چې نه عقیده لري او نه ثابت اصول.

تاریخ د **عقیدې او اصولو د خاوندانو** نومونه تلپاتې کوي.

موږ د فرعون د لور د وېښتانو ږمنځوونکې ښځې په اړه ځکه پوهېږو چې هغه د فرعون په وړاندې د غره په څېر ودرېده او پر خپل دین ټینګه پاتې شوه.

او موږ **بلال بن رباح رضي الله عنه** ځکه پېژنو چې د امیه بن خلف په وړاندې یې په ټینګه ویل:

**«أَحَدٌ، أَحَدٌ!»**

یعنې:

**«یو دی، یو دی!»**

# راز په سترګو کې نه، بلکې په لید کې دی!

یو ستر سوداګر خپل مرستیال یوه مخ پر ودې هېواد ته ولېږه، څو وګوري چې هلته د بوټانو د یوې فابریکې د جوړولو امکان شته که نه.

ketabton.com - The Digital Library

مرستیال یوه میاشت وروسته بېرته راغی او په خپل راپور کې یې ولیکل:

**«صاحب! په دې هېواد کې د بوټانو د فابریکې جوړول ناممکن دي. د دې ځای خلک له بنسټه پښې لوڅ ګرځي او بوټان نه اغوندي. زما په نظر، د داسې توکي د خرڅولو فکر چې خلک یې اصلاً نه کاروي، یـو لېـونی فکـر ښکاري!»**

سوداګر پرېکړه وکړه چې مخکې له دې چې وروستۍ فیصله وکړي، خپل بل مرستیال هم په همدې دنده، هماغه هېواد ته ولېږي.

دوهم مرستیال هم یوه میاشت وروسته بېرته راغی او په خپل راپور کې یې ولیکل:

**«په دې هېواد کې د بوټانو د فابریکې جوړولو نظر ماته یو نابغه‌ګانه فکر ښکاري! موږ کولی شو له دې لارې بې‌ساري ګټه ترلاسه کړو؛ ځکه تر اوسه دلته زموږ په څېر هېڅوک دې بازار ته نه دي داخل شوي. خلک د پښې لوڅ ګرځېدو له امله له ستونزو سره مخ دي، او یقیناً به زموږ د فابریکې تولیداتو ته په پراخه کچه مخه کړي!»

زه مبالغه نه کوم که ووایم چې دا کیسه د ټول ژوند راز په خپل زړه کې رانغاړي!

البته که موږ د دې کیسې **ژور مفهوم** ته وګورو، نه یوازې د هغې پېښو او کسانو ته؛ نو خبره یوازې د دوو مرستیالانو د یوې دندې لپاره استولو نه ده، او نه یوازې د بوټانو د یوې فابریکې او د نوي کاروبار د پیلولو په اړه ده.

خلک کله ناکله د یوې واحدې موضوع په اړه له یو بل سره ډېر متفاوت نظرونه لري.

خو دا اختلاف تل د موضوع له خپل ذات څخه نه سرچینه اخلي؛ بلکې د هغې **له لیدلوري** سرچینه اخلي چې هر انسان له کومې زاویې څخه هغې موضوع ته ګوري.

له همدې امله په دې خبره یقین ولرئ:

**د یوې پېښې په اړه د خلکو دریځونه تر ډېره د هغې پېښې طبیعت نه راښیي؛ بلکې د هماغو خلکو طبیعتونه راښیي!**

کله چې موږ د یوه حالت په اړه خپل لید بدل کړو، زموږ دریځ هم ورسره بدلېږي، او کېدای شي په بشپړه توګه سرچپه شي.

کله ناکله د ژوند د واقعیت د بدلولو لپاره له دې څخه زیات څه ته اړتیا نه وي چې **هغه لید بدل کړو چې موږ پرې ژوند ته ګورو!**

# دین او دنیا؛ دواړه یو ځای

محمد الغزالي په خپل کتاب «**علل وأدوية**» کې وایي:

**«زه غواړم مؤمنانو ته دا خبره ور یاده کړم چې د الله په لار کې ژوند کول، لکه د الله په لار کې مړ کېدل، یـو بریالی او د اجر وړ جهاد دی! او دا چې په دنیا کې د بریا ناکامي به حتماً د دین د ملاتړ او نصرت په برخه کې هم ناکامي ورپسې ولري!»**

دا خبره یوازې یوه جمله نه ده، او حتماً تر یوه لنډ اقتباس ډېره پراخه معنا لري!

لا هم زموږ ډېر خلک په دې باور دي چې د دې دین تر ټولو لوی ځای چې ځان ور رسولی شو، **جومات** دی، او تر ټولو لوړه څوکه چې پرې ختلای شو، **منبر** دی!

ketabton.com - The Digital Library

دوی نه پوهېږي چې که دا دين د ژوند په ډګر کې له سیالۍ او مبارزې وروسته پاتې شي، نو آن د جوماتونو د پاتې کېدو ضمانت به هم ونه لري!

البته هېڅوک باید له دې خبرې داسې مفهوم وانخلي چې زه د جوماتونو سپکاوی کوم؛ مګر هغه خلک به ترې دا برداشت لري چې په بد نیت یې ولولي، او د هر چا خولې ته لاس نیول زما په وس کې نشته.

خو د اصل خبرې په اړه زه دلایل وړاندې کولی شم، استدلال کولی شم او بېلګې راوړلی شم!

د سيرت کتابونه راته وايي چې د **صلاح الدين ايوبي رحمه الله** د حطين له جګړې څخه یوه شپه وړاندې د خپلو سرتېرو څارنه کوله.

هغه د یوې خېمې نه تېر شو، ویې لیدل چې سرتېري قرآن کريم تلاوت کوي او لمونځونه کوي.

ويې ويل:

**«له همدې ځایه د بريا پيل راځي!»**

بیا د بلې خېمې ترڅنګ تېر شو، ويې ليدل چې سرتېري ناست دي، خبرې کوي او خاندي.

ويې ويل:

**«له همدې ځايه ماتې راځي!»**

خو همدا کتابونه موږ ته دا نه وايي چې صلاح الدين د جګړې لپاره داسې **منجنيقونه** هم چمتو کړي وو چې د صليبي لښکرو پوځونه يې حيران کړي وو!

نو امت يوازې په دعا او لمانځه نه بریالی کېږي، او یوازې په وسلو هم نه.

**بلکې دين او دنيا دواړه لازم او ملزوم دي.**

لومړی باید لازم اسباب ونیول شي، بيا توکل پر الله وشي، نه پر اسبابو!

د سيرت کتابونه دا هم راته وايي چې **محمد فاتح رحمه الله**—هغه متقي او پاک‌نفسه خليفه چې يوازې دوه ويشت کلن و، قسطنطنيه يې فتح کړه او د رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه ستر لقب يې ترلاسه کړه چې فرمايلي يې دي:

**«څومره ښه لښکر دی، او څومره ښه امير دی!»**

هغه روژه نيوونکی، لمونځ کوونکی او فرمانبردار انسان و!

دا خبره حق ده.

خو هماغه کتابونه دا نه وايي چې هغه مهال له ده سره **د نړۍ تر ټولو پياوړې توپ** هم موجود و!

یقيناً موږ يوازې په توپونو نه بريالي کېږو؛ دليل يې دا دی چې نن موږ ډېر توپونه لرو، خو بيا هم بريا تضمين شوې نه ده.

خو دا هم يقيني ده چې **بې له وسلو به له منځه يوړل شو!**

نو مسئله هېڅکله دا نه وه چې بايد د عبادت او د اسبابو تر منځ يو انتخاب وشي.

بلکې خبره د دواړو په **يو ځای کولو** کې ده.

او بيا، د اسبابو برابرول هم عبادت دی؛ هو، عين **عبادت دی!**

کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم هجرت وکړ، له ځان سره يې يو لارښود هم واخيست چې لاره ورته وښيي.

ketabton.com - The Digital Library

هغه له ځان سره داسې ونه ویل:

**«زه خو نبي یم، په هر صورت به خپل منزل ته ورسېږم!»**

که یې داسې ویلي وای، خبره به یې رښتیا وه.

خو هغه غوښتل **موږ ته درس راکړي!**

د احد په ورځ یې هم یوازې یوه زغره نه، بلکې **دوه زغرې** واغوستې.

ده داسې ونه ویل:

**«زه خو نبي یم، په هر صورت به ژغورل کېږم!»**

که یې ویلي وای، خبره به یې رښتیا وه.

خو هغه غوښتل موږ ته دا وښيي چې:

**جګړه یوازې په ایمان نه کېږي؛ د ایمان تر څنګ د اسبابو برابرول هم ضروري دي!**

هغه امت چې له ستنې څخه نیولې تر توغندي پورې هر څه له نورو هېوادونو واردوي، هېڅکله به بشپړه بریا ترلاسه نه کړي!

هو، واردات هم د اسبابو د برابرولو یو ډول سبب دی؛ خو دا **نیمګړی سبب** دی.

ځکه ته خپل ځان بل چا ته حواله کوې!

هغه امت چې خپله وسله نه جوړوي، د هغې د کارولو بشپړه ازادي هم نه لري!

**دین او دنیا دواړه؛**

**عبادت او اسباب دواړه؛**

**توکل او هڅه دواړه**

**—همدا بشپړ توازن دی.**

# سودا دې ګټوره شوه، اې ابا یحیی!

هغه وخت رارسېدلی و چې د مکې د دعوت له تنګ چاپېریال څخه د مدینې د دولت پراخې فضا ته ووځي.

هغوی په مکه کې دومره روزل شوي وو چې بسنه یې کوله، له سختې ازموینې څخه بریالي راوتلي وو.

جعفر رضي الله عنه له خپلو ملګرو سره حبشې ته هجرت وکړ، دین یې پر وطن مقدم کړ.

بلال رضي الله عنه د امیه بن خلف غرور په خاورو کې ور خاورې کړ.

حمزه رضي الله عنه ابوجهل پر مخ وواهه.

علي رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ژغورنې لپاره د هغه پر ځای د هغه په بستره کې شپه تېره کړه.

ابوبکر رضي الله عنه به د مسلمانانو غلامان اخیستل او آزادول یې.

ketabton.com - The Digital Library

بیا له خپل محبوب ملګري رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یو ځای د مدینې پر لور روان شو؛ داسې چې د یوې نوې مرحلې د پیل اعلان یې وکړ، هغې مرحلې چې د تل لپاره یې د ځمکې بڼه بدله کړه!

نور مکې مسلمانان دې ته نه هڅول چې هلته پاتې شي.

د دوی محبوب په مدینه کې و؛ او انسان له خپل محبوب پرته یوازې څه کولی شي؟

مسلمانان یو په بل پسې، د قریشو له سترګو پټ، له مکې څخه وتل.

او دا دی **صهیب رضي الله عنه** هم د مدینې پر لور روان شو.

خو قریشو د هغه د وتلو احساس وکړ او څو کسان یې ورپسې ولېږل، څو هغه بېرته راوګرځوي.

صهیب رضي الله عنه د هغوی مخې ته ودرېد، خپل غشي یې له پوښ څخه راوایستل او ویې ویل:

**«اې قریشو! تاسو پوهېږئ چې زه ستاسو په منځ کې تر ټولو ښه غشي ویشتونکی یم. په الله قسم، تاسو به تر هغه ماته رانږدې نه شئ، څو چې خپل ټول غشي دربانديې ونه ختم نکړم. بیا به خپله توره دربانديې وچلوم، تر هغه چې زما په لاس کې د تورې هېڅ شی پاتې نه شي!»**

هغوی ورته وویل:

**«ته موږ ته هغه وخت راغلې چې یو بې‌وسه او بې‌وزله سړی وې، خو زموږ په منځ کې دې شتمني پیدا کړه. اوس غواړې له ځان او خپلې شتمنۍ دواړو سره ووځې؟ په الله قسم، داسې به هېڅکله ونه شي!»**

صهیب رضي الله عنه وویل:

**«که زه خپله ټوله شتمني تاسو ته پرېږدم، ایا زما لاره به خوشې کړئ؟»**

هغوی وویل:

**«هو!»**

صهیب رضي الله عنه هغوی ته په مکه کې هغه ځای ور وښود چې خپله شتمني یې پکې پټه کړې وه.

هغوی هم پرېښود چې په خپله لار لاړ شي.

په همدې وخت کې رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې پېښې له جریان څخه په بشپړه توګه خبرول کېده؛ جبرائیل علیه السلام هغه ته د پېښې خبر ورساوه، او د الله تعالی دا آیت نازل شو:

**«وَمِنَ النَّاسِ مَن يَشْرِي نَفْسَهُ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللَّهِ وَاللَّهُ رَؤُوفٌ بِالْعِبَادِ»**

ژباړه:

**«او له خلکو څخه ځینې داسې دي چې د الله د رضا د ترلاسه کولو لپاره خپل ځان پلوري، او الله پر خپلو بندګانو ډېر مهربان دی.»**

کله چې صهیب رضي الله عنه مدینې ته ورسېد، رسول الله صلی الله علیه وسلم یې په داسې موسکا هرکلی وکړ چې مخ یې د سپوږمۍ د ټوټې په څېر ځلېده، او ورته یې وفرمایل:

**«رَبِحَ الْبَيْعُ أَبَا يَحْيَى! رَبِحَ الْبَيْعُ أَبَا يَحْيَى!»**

یعنې:

**«اې ابا یحیی! ستا سودا ګټوره شوه! اې ابا یحیی! ستا سودا ګټوره شوه!»**

ketabton.com - The Digital Library

سودا څکه ګټوره شوه چې هر **څه یې د الله لپاره پرېښودل!**

هره ګناه چې تا ته ښکلې او زړه راښکونکې ښکاري، ټول امکانات درته برابر وي خو ته یې یوازې د الله لپاره پرېږدې؛ نو په هغه وخت کې له ځان سره ووایه:

**«رَبِحَ البَیْع!» — سودا مې ګټوره شوه!**

هغه مهال به د ګناه پرېښودل دومره خوندور شي چې د ګناه له کولو څخه به یې خوند ډېر ښکلی وي!

هر غچ چې ته یې اخیستلای شې، خو ته یې یوازې د الله لپاره پرېږدې؛ نو ووایه:

**«رَبِحَ البَیْع!»**

بیا به ښه داسې خوند درکړي چې د انتقام له خوند څخه به ډېره خوږه وي!

هر هغه پوروړی چې نور نه شي کولی ستا پاتې پور درکړي، او ته د دې پر ځای چې هغه رسوا او شکایت ترې وکړې، پرېکړه وکړې چې پور ور وبښې، صدقه یې وګرځوې او پرده پرې واچوې؛ نو هماغه وخت ووایه:

**«رَبِحَ البَیْع!»**

بیا به د صدقې خوند د خپل مال د بېرته ترلاسه کولو له خوند څخه درته ډېر ښکلی شي!

هر هغه مال چې د یوه بېوزله په لاس کې ږدې، په دې پوهېږې چې تر هر څه وړاندې یې د الله په لاس کې ږدې؛ نو ورسره ووایه:

**«رَبِحَ البَیْع!»**

بیا به د ورکولو خوند د اخیستلو له خوند څخه هم لوړ شي!

او هر هغه حالت چې د خپلې مېرمنې یا خپل اولاد ته ډېر په غوسه شوې، بیا دې له الله څخه پناه وغوښته او خپله غوسه دې یوازې د الله لپاره وځپله؛ نو له ځان سره ووایه:

**«رَبِحَ البَیْع!»**

بیا به د بښنې خوند داسې بریا درکړي چې د خپل حق په تر لاسه کولو له خوند څخه به زر ځله ښکلی وي!

# له خپلو ځایونو مه خوځېږئ!

قریش د بدر له جګړې څخه په داسې حال کې ووتل چې سختې ماتې یې خوړلې وې.

اسلام د هغوی غرور له خاورو سره پیمال کړی وه، او د کفر ډېر مهم مشران یې وژل شوي وو.

له همدې امله، د اُحد غزا یوازې د حق او باطل د جګړې دوهم پړاو نه و؛ د قریشو لپاره دا د **غچ اخیستنې جګړه** وه.

خو مسلمانان له داسې یوې ازموینې سره مخ کېدل چې د اسلام په تاریخ کې به له تر ټولو اغېزناکو درسونو څخه وي!

رسول الله صلی الله علیه وسلم د قریشو د لښکر شئ اړخ ته متوجه شو چې مشري یې **خالد بن ولید رضي الله عنه** کوله.

هغه وېره درلوده چې خالد به له خپلو سپرو سره د غره له شا څخه راوګرځي، پر مسلمانانو بـه لـه شـا بریـد وکـړي او مسلمانان به د دوو لښکرو ترمنځ راګیر شي.

ketabton.com - The Digital Library

نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اویا تنه غشيویشتونکي پر غره کېنول او هغوی ته یې ډېر روښانه پوځي امر وکړ:

**«له خپلو ځایونو مه خوځېږئ! که موږ مو ولیدو چې ماتېږو، زموږ د مرستې لپاره هم مه راکوزېږئ؛ او که مو ولیدل چې موږ بریالي کېږو، بیا هم زموږ په بریا کې مه رلسره ګډېږئ!»**

جګړه پیل شوه.

مسلمانان په ډېرې زړورتیا وجنګېدل او ښه وځلېدل.

قریشو د بدر د ماتې یو څه خوند بیا وڅښه؛ سرتېرې یې وتښتېدل او مسلمانان ورپسې شول.

بیا پر غره ناستو غشيویشتونکو فکر وکړ چې جګړه پای ته رسېدلې ده.

نو له غره راکوز شول، څو د بریا او غنیمتونو برخه ترلاسه کړي!

هماغه وخت هغه څه پېښ شول چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ترې وېره لرله.

خالد رضي الله عنه له خپلو سپرو سره د غره له شا را تاو شو، او مسلمانان د دوو لښکرو ترمنځ راګیر شول.

د هغوی بریا په ماتې بدله شوه.

او مسلمانانو یو ستر درس زده کړ:

**دا امت به تر هغه بریا ترلاسه نه کړي، څو چې د خپل نبي صلی الله علیه وسلم او خپل مشر امر ته بشپړ غاړه کېنږدي!**

که څه هم د اُحد جګړه پای ته ورسېده، خو د هغو غشيویشتونکو دنده چې د مسلمانانو شا یې ساتله، لا نه وه پای ته رسېدلې.

نو نېکمرغه دي هغه څوک چې د دې دین دفاع کوي، هر یو په خپل ډګر کې!

نېکمرغه دي هغه کسان چې د سختیو پر مهال هم خپل اصول نه پرېږدي، نه ټيټېږي او نه له حالاتو سره رنګ بدلوي.

هر کله چې لږ کمزوري شي، د رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه غږ دې یې زړونه پیاوړي کړي چې ویل یې:

**«له خپلو ځایونو مه خوځېږئ!»**

نو **له خپلو ځایونو مه خوځېږئ!**

هغه میندې چې خپل اولادونه پر لمانځه، روژې او ښو اخلاقو روزي؛

**تاسو زموږ شا ساتئ، نو له خپلو ځایونو مه خوځېږئ!**

هغه پلرونه چې له خپلو اولادونو څخه د «جزء عمّ» په اړه هم پوښتنه کوي، لکه څنګه چې د هغوی د ښوونځي د نمرو پوښتنه کوي؛

**تاسو زموږ شا ساتئ، نو له خپلو ځایونو مه خوځېږئ!**

هغه ښوونکي چې باور لري که دا نسل په سمه توګه وروزل شي، یو ځل بیا ترې ابوبکر، عمر، عثمان او علي رضي الله عنهم په څېر انسانان راوتلای شي؛

**تاسو زموږ شا ساتئ، نو له خپلو ځایونو مه خوځېږئ!**

ketabton.com - The Digital Library

هغه کارکوونکي چې خپل کار په مسلکي توب، صداقت او وجدان ترسره کوي، او تر خپل مدير مخکې له الله څخه وېرېږي؛

**تاسو زموږ شا ساتئ، نو له خپلو ځايونو مه خوځېږئ!**

هغه انجنيران چې پلونه جوړوي او لارې جوړوي، خو په کار کې درغلي، خيانت، رشوت او مشکوکې معاملې نه کوي؛

**تاسو زموږ شا ساتئ، نو له خپلو ځايونو مه خوځېږئ!**

هغه نجونې چې حجاب او عفت ته ژمنې دي او خپل ځانونه د دې لپاره روزي چې يوه ورځ خپل اولادونه په ښه ډول وروزي؛

**تاسو زموږ شا ساتئ، نو له خپلو ځايونو مه خوځېږئ!**

هغه ځوانان چې د سهار لمونځ کوي، د حديثو په مجلسونو کې ګډون کوي او د قرآن په حلقو او مدرسو کې حاضرېږي؛

**تاسو د اسلام تر ټولو پياوړې او خطرناکه وسله‌خانه ياست، نو له خپلو ځايونو مه خوځېږئ!**

که موږ هر يو يوازې د خپلو پښو لاندې ځای ته لږ فکر وکړو، نو وبه مومو چې **د دې دين په خاطر يو سرتېری يم.**

که موږ هر يو په خپل ځای کې په زړورتيا، اخلاص او امانتدارۍ مبارزه وکړو، نو يو مهم کمزوری ځای به پياوړی کړو، يو ستر خطر به دفع کړو.

هر يو له موږ څخه په هغه ځای کې دی چې الله تعالی ورته ټاکلی، او پر اوږو يې يوه دنده، مسؤليت او امانت ايښی دی.

نو:

**له خپلو ځايونو مه خوځېږئ!**

**له خپلو ځايونو مه خوځېږئ!**

**له خپلو ځايونو مه خوځېږئ!**

# د هغوی د احساساتو په اړه!

**د خديجې رضي الله عنها د احساساتو په اړه فکر وکړئ**؛ کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل:

**«ستا رب درته سلام وايي!»**

**د أُبي بن کعب رضي الله عنه د احساساتو په اړه فکر وکړئ**؛ کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل:

**«الله تعالی ماته امر کړی چې قرآن پر تا ولولم!»**

أُبي رضي الله عنه وپوښتل:

**«ايا الله زما نوم تا ته اخيستی؟»**

رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل:

**«هو، الله ستا نوم راته اخيستی دی!»**

ketabton.com - The Digital Library

**د سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه د احساساتو په اړه فکر وکړئ**؛ د اُحد په ورځ چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل:

**«غشي وويشته، مور او پلار مې دې له تا قربان!»**

**د علي بن ابي طالب رضي الله عنه د احساساتو په اړه فکر وکړئ**؛ کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل:

**«ته له ما سره داسې مقام لرې لکه هارون چې له موسىٰ سره درلود، مګر له ما وروسته هېڅ نبي نشته!»**

**د بلال بن رباح رضي الله عنه د احساساتو په اړه فکر وکړئ**؛ کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل:

**«ما په جنت کې ستا د څپليو د قدمونو غږ واورېد!»**

**د ابوبکر رضي الله عنه د احساساتو په اړه فکر وکړئ**؛ کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د غار په دننه کې ورته وفرمايل:

**«اې ابوبکره! ستا په اند د هغو دوو کسانو په اړه څه فکر کوې چې درېيم يې الله دی؟»**

**د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د احساساتو په اړه فکر وکړئ**؛ کله چې صحابه‌وو د هغه د نريو پښو له امله وخندل، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

**«ايا تاسو د هغه د پښو د نريوالي له امله خاندئ؟ په هغه ذات قسم چې زما روح يې په لاس کې دی، د هغه دواړه پښې به د قيامت په تله کې د اُحد له غره څخه هم درنې وي!»**

**د عثمان بن عفان رضي الله عنه د احساساتو په اړه فکر وکړئ**؛ کله چې صحابه‌وو د رضوان بيعت لپاره يو بل راوبلل او لاسونه يې د بيعت لپاره وغځول، خو عثمان رضي الله عنه په مکه کې و.

رسول الله صلى الله عليه وسلم خپل يو لاس د بل لاس پر سر کېښود او ويې فرمايل:

**«دا د عثمان لاس دی!»**

**د سلمان فارسي رضي الله عنه د احساساتو په اړه فکر وکړئ**؛ کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

**«سلمان زموږ د اهل‌بيت له ډلې څخه دی!»**

**د عمر بن الخطاب رضي الله عنه د احساساتو په اړه فکر وکړئ**؛ کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل:

**«په هغه ذات قسم چې زما روح يې په لاس کې دی، شيطان هېڅکله له تا سره په کومه لاره نه دی مخ شوی، مګر دا چې له ستا له لارې پرته په بله لاره تللی دی!»**

**د معاذ بن جبل رضي الله عنه د احساساتو په اړه فکر وکړئ**؛ کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل:

**«اې معاذه! په الله قسم، زه له تا سره مينه لرم!»**

**د صهيب رومي رضي الله عنه د احساساتو په اړه فکر وکړئ**؛ کله چې هغه له مکې څخه مدينې ته راغی، خپله ټوله شتمني يې قريشو ته پرېښې وه.

رسول الله صلى الله عليه وسلم يې هرکلی وکړ او ورته يې وفرمايل:

**«سودا دې وګټله، اې ابا يحيى!»**

ketabton.com - The Digital Library

**د فاطمې رضي الله عنها د احساساتو په اړه فکر وکړئ**؛ کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«زما لور فاطمه زما د بدن یوه ټوټه ده؛ هر څه چې هغې ته تکلیف ورکوي، ما ته تکلیف راکوي، او هر څه چې هغه ځوروي، زه ځوروي!»**

**د ابو عبیده بن جراح رضي الله عنه د احساساتو په اړه فکر وکړئ**؛ کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«د هر امت یو امین وي، او د دې امت امین ابو عبیده دی!»**

**د سعد بن معاذ رضي الله عنه د احساساتو په اړه فکر وکړئ**؛ کله چې هغه د بني قریظه د یهودو په اړه حکم وکړ او رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:

**«تا د هغوی په اړه د الله تعالی هغه حکم وکړ چې د اوو اسمانونو له پاسه دی!»**

**د سمیې، یاسر او عمار رضي الله عنهم د احساساتو په اړه فکر وکړئ**؛ کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:

**«صبر وکړئ، اې د یاسر کورنۍ! ستاسو وعده جنت دی!»**

**د حسان بن ثابت رضي الله عنه د احساساتو په اړه فکر وکړئ**؛ هغه خپل شعر د اسلام د دعوت لپاره کاراوه، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:

**«زما له خوا دفاع وکړه، هغوی په شعرونو وځپه، او روح‌القدس له تا سره دی!»**

**د عکاشه رضي الله عنه د احساساتو په اړه فکر وکړئ**؛ کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«زما له امت څخه به اویا زره کسان بې له حساب او عذابه جنت ته داخلېږي.»**

عکاشه رضي الله عنه وویل:

**«اې د الله رسوله! دعا راته وکړه چې زه هم له هغوی څخه واوسم!»**

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:

**«ته له هغوی څخه یې!»**

**د ابو موسیٰ اشعري رضي الله عنه د احساساتو په اړه فکر وکړئ**؛ هغه قرآن کریم تلاوت کاوه، رسول الله صلی الله علیه وسلم یې تلاوت ته غوږ نیولی و او ورته یې وفرمایل:

**«اې ابا موسیٰ! تا ته د داود علیه السلام د کورنۍ له نغمو څخه یوه نغمه درکړل شوې ده!»**

**د انصارو رضي الله عنهم د احساساتو په اړه فکر وکړئ**؛ کله چې هغوی خپه شول، ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم د حنین د جګړې غنیمتونه د مکې هغو خلکو ته ورکړل چې تازه مسلمان شوي وو.

نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:

**«اې د انصارو ډلې! ایا تاسو په دې راضي نه یاست چې خلک له ځان سره پسونه او اوښان یوسي، خو تاسو له ځان سره د الله رسول صلی الله علیه وسلم یوسئ؟!»**

او بالاخره...

**زموږ د احساساتو په اړه فکر وکړئ!**

ketabton.com - The Digital Library

د هغو کسانو د احساساتو په اړه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم زموږ په اړه وفرمایل:

**«زما ورونه هغه دي چې پر ما یې ایمان راوړی، حال دا چې ما نه دی لیدلی!»**

موږ هغه کسان یو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یې د لیدلو له نعمت څخه بې برخې وو، خو هغه موږ د خپلو **ورونو** په نوم یاد کړل!

نو د دې مینې، دې مقام او دې خطاب تصور وکړئ...

# مننه، زموږ ښاغلی سلیمانه!

## ۱ ـ مننه، زموږ ښاغلی سلیمانه!

ستا له کیسې مې زده کړل چې په خپلو لاسته راوړنو ویاړ ونه کړم، داسې چې ګواکې دا هر څه ما خپله کړي دي؛ بلکې له الله سره ادب وکړم او ټول فضل هغه ته منسوب کړم.

تا هم همدا کار وکړ او ودې ویل:

**«موږ ته د مرغانو ژبه راښوول شوې ده!»**

تا دا فضیلت خپل ځان او خپلې هڅې ته منسوب نه کړ.

او هغه ستا مرستیال چې د سترګې له رپېدو مخکې یې د بلقیس تخت درته راوړ، هغه هم له الله سره د ادب لـه مخې وویل:

**«دا زما د رب له فضل څخه دی، څو ما وازمويي چې ایا شکر ویستونکی یم که ناشکره!»**

## ۲ ـ مننه، زموږ ښاغلی سلیمانه!

ستا له کیسې مې زده کړل چې متواضع واوسم، او یوه شېبه هم دا هېر نه کړم چې له خاورو یم او بېرته بـه خـاورو تـه ستنېږم.

ته د ځمکې له ختیځه تر لویدیځه پراخ سلطنت لرلې، خو بیا هم دومره خاکساره وې چې خپل لښکر دې ودرولو، څو د یوې مېږۍ خبرې واورې!

## ۳ ـ مننه، زموږ ښاغلی سلیمانه!

ستا له کیسې مې زده کړل چې د خلکو لپاره عذر ولټوم.

تېروتنه کېدای شي له هر چا څخه وشي، او هر هغه څوک چې ما ته یې زیان رسولی وي، لازمه نه ده چې له مخکې یې د زیان رسولو اراده لرله.

**حکمت د مؤمن ورک شوی مال دی.**

د هغې مېږۍ په خبرو کې چې ستا د لارې پر سر ودرېدلو، د عذر غوښتلو، د خلکو په اړه د ښه ګومان او د هغوی د نیتونو د سم درک یو ستر درس پروت دی.

ketabton.com - The Digital Library

څومره نرمه او ښکلې خبره يې وکړه:

**«اې مېږيانو! خپلو کورونو ته ننوزئ، هسې نه سليمان او د هغه لښکر مو په ناپوهۍ کې تر پښو لاندې کړي!»**

## ۴ ـ مننه، زموږ ښاغلی سليمانه!

ستا له کيسې مې زده کړل چې **مسؤليت امتياز نه، بلکې درونده امانت دی.**

درونده او شريف انسان چې مسؤليت يې زياتېږي، د هغه د مسؤليت احساس هم بايد ورسره زيات شي.

ته د پېريانو، انسانانو، بادونو او حيواناتو واکمن وې؛ خو بيا دې د خپل رعيت پوښتنه کوله او يو په يو دې د هغوی څارنه کوله.

تا وويل:

**«ولې هدهد نه وينم؟»**

## ۵ ـ مننه، زموږ ښاغلی سليمانه!

ستا له کيسې مې زده کړل چې د يوه غايب پر مخ بايد دروازه په بشپړه توګه ونه تړم.

هر غايب له ځان سره خپل عذر لري.

څومره ښکلې دې وکړل کله چې هدهد ته دې د سزا ګواښ وکړ، خو په عين حال کې دې د خلاصون لاره هم ورته پرېښوده او د روغې جوړې لپاره دې هم ځای پرېښود.

تا وويل:

**«يا به سخت عذاب ور کړم، يا به يې حلال کړم، يا به راته روښانه دليل راوړي!»**

کله چې هدهد بېرته راغی، له هماغې لارې داخل شو چې تا ورته پرېښې وه، او د سولې له هماغه ځايه راغی.

نو له سبا څخه يې تا ته **يقيني خبر** راوړ!

## ۶ ـ مننه، زموږ ښاغلی سليمانه!

ستا له کيسې مې زده کړل چې انسان هر څومره علم او مقام ته ورسېږي، بيا هم يوازې په هغه څه پوهېږي چې الله تعالی ورته ور پيرزو کړی وي.

ستا د پراخ سلطنت او ستر علم باوجود، يوه هدهد په داسې څه پوهېده چې ته، سره له دې چې نبي وې، پرې نه وې خبر!

له دې پېښې مې زده کړل چې بايد متواضع واوسم؛ ځکه کېدای شي **هغه څه چې زه پرې نه پوهېږم، تر هغو څه ډېر وي چې زه پرې پوهېږم!**

## ۷ ـ مننه، زموږ ښاغلی سليمانه!

ستا له کيسې مې زده کړل چې احساسات بايد دومره غالب نه شي هره خبره چې واورم، سمدستي يې تصديق کړم.

او بايد دومره ساده هم ونه اوسم چې هره دعوه او هر دليل راته د منلو وړ شي.

ketabton.com - The Digital Library

کله دې چې د هدهد خبره واورېده، ورته ودې ویل:

**«موږ به وګورو چې ته رښتیا وایې، که له دروغجنو څخه یې!»**

هو، هوښیار انسان **پلټنه او تثبت** کوي.

تر هغه اقدام نه کوي، څو یې خبره په دلیل روښانه شوې نه وي، او خپل دریځ پر شک او ګومان نه بنا کوي.

## ۸ ـ مننه، زموږ ښاغلی سلیمانه!

ستا له کیسې مې د **مشورې ادب** زده کړ.

عادل مشر هغه دی چې د خلکو غږ اوري؛ مستبد هغه دی چې یوازې خپل غږ اوري او یوازې خپل نظر د منلو وړ ګڼي.

بلقیس څومره ښکلې خبره وکړه کله چې ستا لیک ورته ورسېد.

هغې خپل قوم راټول کړ او، د دموکراسۍ له رامنځته کېدو زرګونه کاله مخکې،یې وویل:

**«زه هېڅ کار نه کوم، څو چې تاسو حاضر نه شئ او خپل نظر راسره شریک نه کړئ!»**

## ۹ ـ مننه، زموږ ښاغلی سلیمانه!

ستا له کیسې مې زده کړل چې **د بااصوله انسان نه اخیستل کېږي!**

که هغه شتمن وي او که غریب؛ ځکه د انسان د شتمنۍ اندازه له دې سره هېڅ تړاو نه لري چې هغه به خپل ځان وپلوري که نه.

تجربې دا ثابته کړې، او واقعیت هم پرې ګواهي ورکوي.

او ته څومره پاک او بې‌نیازه وې، کله دې چې وویل:

**«ایا تاسو ماته مال راکوئ؟! کوم څه چې الله ماته راکړي، له هغه څه غوره دي چې تاسو ته یې درکړي دي!»**

## ۱۰ ـ مننه، زموږ ښاغلی سلیمانه!

ستا له کیسې مې زده کړل چې انسان باید په خپلو ځوابونو کې ډېر دقیق وي.

کله چې دې له بلقیس څخه وپوښتل:

**«ایا ستا تخت همداسې دی؟»**

هغې درته وویل:

**«داسې ښکاري چې همدا دی!»**

دا د تاریخ له تر ټولو هوښیار ځوابونو څخه دی!

که یې ویلي وای: **«هو، همدا دی!»** نو بیا به دا څنګه ممکنه وه چې د هغې تخت تر هغې مخکې دلته راغلی وای؟

او که یې ویلي وای: **«نه، دا زما تخت نه دی!»** نو انسان څنګه کولی شي خپل تخت ونه پېژني؟

نو انسان د خپلې ژبې په وسیله نیول کېږي؛ او له **هر لوښي له هغه څه راڅڅېږي چې دننه یې وي!**

ketabton.com - The Digital Library

# دا د نوي هجري کال پیل دی!

## ۱ ـ دا د نوي هجري کال پیل دی؛ نو چې دا نوی کال په لومړي ګام پیل کوې، دا خبره په یاد ولره:

اړیکې د دې لپاره جوړې شوې دي چې انسان ته **ارام، ډاډ، تسلیت، ملاتړ او تکیه** ورکړي!

هر هغه څوک چې ستا د زړه سکون درنه اخلي، ستا په ژوند کې ورته اړتیا نشته!

هر هغه څوک چې مینه درسره یوه ورځ کوي او بله ورځ یې بدلوي، ته ورته اړتیا نه لرې!

هر هغه څوک چې تا یوازې د خپل فرصت او اړتیا پر مهال یادوي، پرېږده یې!

د چا لپاره دوهم انتخاب مه کېږه، او نه هم د انتخابونو په لېست کې یوه بله شمېره!

له هغه چا سره واوسه چې **له ټولو خلکو ورته محبوب یې!**

د شخصیت د دوه‌مخیتوب ځای رواني درملنې په مرکزونو کې دی، نه ستا په ژوند کې!

## ۲ ـ دا د نوي هجري کال پیل دی؛ نو له خلکو سره خپلې اړیکې سمې کړه!

هغه محبوب چې ورسره دې اړیکه پرې کړې، هغه ورور چې د اړیکو دروازه مو پر مخ تړلې، هغه ملګری چې ورسره دې سړه رویه کړې، او هغه ګاونډی چې ورسره دې شخړه کړې ده!

دنیا دومره اوږده نه ده چې موږ یې په لربوالي، خپګان او پرېکون کې تېره کړو.

او دنیا په اصل کې دومره ارزښت هم نه لري چې د هغې لپاره له یو بل سره دښمني وکړو!

څه ته انتظار کوو؟

ایا دې ته چې هغوی خپلو قبرونو ته د مات زړه سره ور ولېږو، بیا د جنازې پر مهال ودرېږو او د هغوی د مړینې په خاطر تسلیت واخلو؟

د جنازې پر مهال اوښکې څه ګټه لري، کله چې د ژوند ټول وخت مو په پرېکون او قهر کې تېر کړی وي؟

البته، دا خبره له تېرې خبرې سره په ټکر کې نه ده!

موږ ټول باید پوه شو چې **اړیکې د کورونو په څېر دي؛ ځینې یې د ترمیم وړ وي، او ځینې باید ونړول شي!**

## ۳ ـ دا د نوي هجري کال پیل دی؛ نو دا هم په یاد ولره:

**دا دین به ستا په شتون یا ستا له شتون پرته بریالی کېږي!**

که ته جوماتونه پرېږدې، نور خلک به یې آباد کړي.

که ته قرآن پرېږدې، نور خلک به یې تلاوت کړي.

کاروان د الله پر لور روان دی، او تر هغه به نه درېږي څو د جنت دروازې ته ونه رسېږي.

**که ته په دې کاروان کې ونه اوسې، یوازنی تاوان کوونکی ته یې!**

ketabton.com - The Digital Library

## ۴ ـ دا د نوي هجري کال پیل دی؛ نو په یاد ولره:

د حق او باطل جګړه به تر هغه توده روانه وي، څو اسرافیل علیه السلام په صور کې پوکی وکړي.

باطل که هر څومره ځواکمن وي، بالاخره به په ګونډو شي.

او حق که هر څومره کمزوری ښکاري، بالاخره به کامیاب شي.

نو **خپل ځای وټاکه!**

له هغه ناپوه څخه بل لوی ناپوه نشته چې خپله آخرت د خپلې دنیا په بدل کې وپلوري؛ مګر هغه څوک ترې غټ ناپوه دي چې خپل آخرت د **بل چا د دنیا** په بدل کې وپلوري!

## ۵ ـ دا د نوي هجري کال پیل دی؛ نو له الله سره خپله اړیکه اصلاح کړه!

که داسې ګناه لرې چې لا هم پرې ټینګ ولاړ یې— موږ ټول ګناهکاران یو—نو نن ورځ دې فرصت دی چې د خپلې **توبې نوی تاریخ** پیل کړې!

## ۶ ـ دا د نوي هجري کال پیل دی؛ نو له قرآن څخه د ځان لپاره د ورځې یوه برخه وټاکه!

له ځان سره کلکه ژمنه وکړه چې هېڅکله به یې نه پرېږدې، که هر څومره ستونزې او مصروفیتونه دې هم راګیر کړي!

د تسبیح او ذکر لپاره هم د ځان لپاره یوه ورځ وټاکه، او ژمنه وکړه چې هېڅکله به سستي پکې نه کوې؛ که هر څومره کارونه او مشغولیتونه دې هم زیات شي!

## ۷ ـ دا د نوي هجري کال پیل دی؛ نو د ځان لپاره یو پټ نیک عمل هم وټاکه!

یوه وړه صدقه، که څه هم د یوې ډوډۍ په اندازه وي، خو هېچا ته یې مه وایاست.

د یوه ناروغ لپاره د درملو داسې تلپاتې مرسته چې ته یې پر غاړه واخلې، خو له الله پرته بل څوک پرې خبر نه وي.

د چاشت دوه رکعته لمونځ چې هېڅوک دې ونه ویني، او ټول کال یې پرېنږدې.

او د شپې دوه رکعته لمونځ چې په پټه دې الله ته ورنږدې کړي؛ داسې چې آن ستا د کورنۍ له سترګو هم لرې وي!

## ۸ ـ دا د نوي هجري کال پیل دی؛ نو د ځان لپاره یو ګټور کار وټاکه!

کتابونه ولوله.

ارزښتناک پروګرامونه وګوره.

په یوه علمي کورس کې ګډون وکړه.

په یوه ټولنیزه پروژه کې ځان بوخت کړه.

یا په داسې رضاکارانه کار کې برخه واخله چې خلکو ته ګټه رسوي!

ketabton.com - The Digital Library

### ۹ ــ دا د نوي هجري کال پیل دی؛ نو دا خبره په یاد ولره:

ډېر خلک د **مناسب انسان** د راتلو انتظار کوي؛ خو ډېر لږ خلک پر خپل ځان کار کوي، څو **پخپله مناسب انســـان** وګرځي!

ټول خلک د حاصلاتو د راټولولو موسم خوښوي؛ خو ډېر لږ کسان ځمکه قلبه کوي، تخم شیندي، اوبه ورکوي او د فصل ساتنه کوي!

نو ته له هغې لږې ډلې څخه واوسه چې **د نورو خلکو خوبونه رښتیا کوي**؛

له هغې لویې ډلې څخه مه کېږه چې په خپل ځای ناست وي او یوازې خوبونهویني!

### ۱۰ ــ دا د نوي هجري کال پیل دی؛ نو دا هم په یاد ولره:

ټول هغه کسان چې تېر کال مړه شول، فکر یې کاوه چې مرګ لا ډېر لرې دی!

لکه څنګه چې موږ ته امر شوی چې **داسې لمونځ وکړو لکه وروستی لمونځ مو چې وي**؛ ځکه کېدای شي همدا زموږ وروستی لمونځ په رښتیا شي؛

نو دا کال د داسې انسان په څېر ژوند وکړه چې له دنیا سره مخه‌ښه کوي؛

ځکه کېدای شي **همدا ستا وروستی کال وي!**

# هغه نصیحتونه چې باید حتماً یې واورو!

### ۱ ــ د مینې د ترلاسه کولو یوازینۍ لار دا ده چې مینه ورکړې!

که غواړې د مینې احساس وکړې، نو نورو ته د مینې احساس ورکړه!

دا څومره ناپوهي ده چې خپله ټوکرۍ او لور واخلې، خپلې هغې ځمکې ته لاړ شې چې یوه دانه دې هم پکې نه ده کرلې، بیا تمه ولرې چې له ډېرو حاصلاتو سره به کور ته راستون شې!

**د ریبلو لپاره باید لومړی کښت وکړې!**

### ۲ ــ خلک تل بدلېږي!

له خلکو څخه ستا پخوانۍ برداشتونه او اندازې د هغوی نه، بلکې ستا پورې تړاو لري.

یو تکړه خیاط که درته یوه جوړه جامې جوړه کړي او یوه میاشت وروسته بیا ورشې چې نوې اندازه دې واخلي، سره له دې چې ستا پخوانۍ اندازه یې له ځان سره لري، بیا هم نوې اندازه اخلي.

**ته هم تکړه خیاط اوسه!**

ته نن هغه انسان نه یې چې یو کال مخکې وې؛ نو دا تمه مه کوه چې نور خلک به هماغسې پاتې وي لکه مخکې چې وو!

ketabton.com - The Digital Library

## ۳ ـ هغه وحی چې له اسمانه راکوزه شوې وه، د ځمکې ډېرو خلکو ونه منله!

حال دا چې هغه وحی وه!

نو تمه مه کوه چې خلک به ستا د هرې خبرې لپاره چکچکې ووهي، که ستا په نظر هر څومره سمه هم وي.

په یاد ولره، ته هم ډېر داسې فکرونه ردوې چې د هغو د خاوندانو په نظر بالکل سم دي!

نو نورو خلکو ته د هغه حق د ورکولو څخه انکار مه کوه چې ته خپله نه غواړې له خپل حق څخه تېر شې!

## ۴ ـ کومه لار چې ته یې د تګ لپاره غوره کړې، ستا خپله لار ده!

د دې سیارې هېڅ اوسېدونکی مکلف نه دی چې ستا پر ځای په دې لار کې حتی یو ګام هم واخلي.

هو، د خلکو په اړه ښه ګومان کول ښه کار دی؛ خو **ښه ګومان کول یو شی دی، او له خلکو څخه دا تمه کول چې حتماً به ستا د ښه ګومان مطابق وي، بل شی دی!**

ځکه له چا څخه د فرښتې تمه مه کوه چې تا هغه فرښته ګڼلې ده.

**خپله لار داسې ووهه، لکه پر دې ځمکه چې یوازې ته اوسېږې!**

## ۵ ـ ابن خلدون وایي:

**«که د خلکو ذوقونه سره بېل نه وای، نو مالونه به خراب شوي وای!»**

ستا لومړیتوبونه کېدای شي د بل چا لپاره ثانوي او بې‌اهمیته وي؛ لکه څنګه چې د هغه لومړیتوبونه ستا لپاره بې‌اهمیته کېدای شي.

د نورو خلکو ژوند د هغوی خپل دی، او حق لري چې هغه په هغه ډول تېر کړي چې دوی یې مناسب ګڼي.

خپل ځان پدې عادت کړه چې **اختلاف د ژوند یوه اساسي برخه ده، پردی شی نه دی!**

## ۶ ـ انسانان کله ناکله خپل ځان هم نه شي درک کولای!

نو کله چې خلک تا غلط درک کړي، حیرانېږه مه!

## ۷ ـ ته ښایي د یوه تصویر یوازې یوه برخه وویني، حال دا چې حتماً د هغه تصویر نورې برخې هم شته چې ته یې نه وینې!

نو داسې پرېکړه مه کوه لکه ته چې هر څه وینې!

کله چې ماشوم وم، له ځان سره مې ویل:

«خوشحاله دې وي زما پلار! هېڅوک ورته امر نه کوي، خو دی مور ته امرونه کوي!»

خو نن چې پخپله پلار شوی یم، وایم:

**«څومره اسانه ده چې انسان زوی وي، او څومره سخته ده چې پلار وي!»**

ketabton.com - The Digital Library

او کله چې زده‌کوونکی وم، ویل مې:

«خوشحاله دې وي ښوونکی! نه درس وايي، نه يې حفظ کوي؛ خپله برخه تشریح کړي او ولاړ شي!»

خو کله چې څو کاله پخپله ښوونکی شوم، اوس وایم:

**«خوشحاله دې وي هغه زده‌کوونکی چې په خپل څوکۍ کې ناست وي!»**

## ۸ ـ خلک د عقل په کچه کې سره توپیر لري!

هغه څه چې ستا لپاره ډېر ساده او ځرګند دي، کېدای شي بل کس د درک کولو لپاره وخت وغواړي.

ته هم ښايي د هغه څه د درک کولو لپاره وخت ته اړتیا ولرې چې نور خلک يې درک کوي؛ او کېدای شي ته يې هېڅکله هم درک نه کړې!

همدا لامل دی چې **پاولو کوئيلو** د «کیمیاګر» د ناول لیکوال دی، خو ته نه يې!

او **بیل ګېټس** د مایکروسافټ بنسټګر دی،خو ته نه يې!

## ۹ ـ که ته د یوه کار توان لرې، دا معنا نه لري چې بل کس هم د هغه توان لري!

د فوټبال لوبغاړي نړدې نوي دقیقې منډې وهي، خو زه او ته له پنځلس دقیقو وروسته لا پسې ساه اخلو!

حتی که ته هم نوي دقیقې منډې وهلی شې، بیا هم د نړۍ نوي سلنه خلک دا کار نه شي کولای!

نو خپل توان د نورو خلکو د توان معیار مه ګرځوه!

## ۱۰ ـ ما په لومړي نصیحت کې درته وويل:

که غواړې مینه ترلاسه کړې، **باید مینه ورکړې!**

ښه، اوس د دې وخت دی چې درته ووایم:

**تل دا تمه مه کوه چې نور خلک به له تا سره هماغسې چلند کوي لکه ته چې ورسره کوې!**

ته خپله ښه انسان اوسه؛ خو د نورو د چلند په بدل کې د هغوی لپاره شرط مه ږده.

# په مور ټولو د طائف یوه ورځ راځي!

زموږ ټولو په ژوند کې یوه ورځ د **طائف د ورځې** په څېر راځي!

مکه پرې تنګه شوې وه. هغه تره، ابو طالب، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم ساتنه او پالنه يې کوله، وفات شوی و. او خدیجه رضي الله عنها، چې د هغه صلی الله علیه وسلم د کور دننه ستره ملاتړې او ډال وه، هغه هم له دنیا تللې وه.

خو په مکه کې هېڅ شی بدل نه شو!

لا هم په ګمراهۍ کې ډوبه وه، خپل نبي صلی الله علیه وسلم يې دروغجن باله، او د هغه ملګرو ته يې ډول ډول عذابونه ورکول.

ketabton.com - The Digital Library

نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د طائف پر لور روان شو، ښايي هلته داسې زړونه ومومي چې د قریشو د مشرانو لـه سختو زړونو څخه نرم وي.

په طائف کې يې خپله بلنه د ښار مشر، ابن عبد یالیل، ته وړاندې کړه؛ خو هغه يې د ابو جهل په څېر سخت‌زړی وموند، د ابو لهب په څېر دروغجن او د امیه بن خلف په څېر ځوروونکی!

هغه د طائف کم‌عقلان او هلکان پسې ورولېږل، هغوی رسول الله صلی الله علیه وسلم په ډبرو وویشته، تر دې چې د هغه مبارکو پښو څخه وینه روانه شوه!

له دې پېښې څو کاله وروسته، ټوله عربي ټاپوزمه د اسلام په دین مشرفه شوه.

د الله نصرت او فتح راغله، او خلک ډلې ډلې د الله په دین کې داخل شول!

عایشې رضي الله عنها له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه وپوښتل:

**«ایا پر تا داسې ورځ هم تېره شوې چې له اُحد څخه درته سخته وي؟»**

هغه پوهېده چې د اُحد ورځ څومره دردناکه وه؛ حمزه رضي الله عنه، هغه زړور جنګیالی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم ستر ملاتړی، پکې شهید شوی و.

او اویا تنه له غوره صحابه‌وو څخه شهیدان شوي وو.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم سر مبارک ټپي شوی و او د مخ غاښونه يې مات شوي وو.

خو رسول الله صلی الله علیه وسلم هغې ته د **طائف د ورځې** کیسه وکړه.

هغه ورځ ورته له اُحد څخه هم سخته وه!

کله چې مشرکانو په ډبرو وویشت او له طائفه يې وشړلو، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«زه روان شوم، په داسې حال کې چې له غمه مې سر ټیټ و، او تر هغه په لار پوه نه شوم چې تر څو قرن الثعالب ته ورسېدم.»**

بیا مې سر پورته کړ، ګورم چې یوه وریځ ده او جبرائیل علیه السلام پکې دی.

هغه را غږ کړ او ويې ویل:

**«الله تعالی ستا د قوم خبرې او هغه څه چې هغوی ستا په ځواب کې وویل، واورېدل. او د غرونو فرښته يې تا ته رالېږلې ده، ته ورته امر وکړه چې له هغوی سره څه وکړي.»**

بیا د غرونو فرښتې غږ وکړ او ويې ویل:

**«که ته وغواړې، زه به دا دوه غرونه پر هغوی راوغورځوم!»**

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«بلکې زه هیله لرم چې الله تعالی به د دوی له نسلونو داسې خلک راوباسي چې یوازې به د الله عبادت وکړي او هېڅوک به ورسره شریک نه کړي.»**

ketabton.com - The Digital Library

## د دې کیسې اصلي خبره دا ده:

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«زه روان شوم، په داسې حال کې چې له غمه مې سر ټیټ و، او تر هغه پوه نه شوم چې کله قرن الثعالب ته ورسېدم.»**

هغه پوهېده چې نبي دی.

پوهېده چې د هغه دین به بالاخره بریالی کېږي.

پوهېده چې الله ورسره دی او هېڅکله به یې یوازې پرېنږدي.

خو بیا هم **انسان و!**

خفه کېده، زړه یې تنګېده، غم پرې راتلو؛ آن دومره چې په ټیټ سر، بې‌اختیاره روان شو او نه پوهېده چې پښې یې چېرته وړي!

تر هغه چې ناڅاپه یې پام شو، له طائفه ډېر لیرې تللی او قرن الثعالب ته رسېدلی دی.

نو زموږ په اړه به څه وایو؟

که زموږ ټول ایمان په یوه تله کې کېښودل شي او د رسول الله صلی الله علیه وسلم ایمان په بله تله کې، د هغه ایمان به زموږ پر ټولو دروند شي!

د هغه یقین پر الله به زموږ له یقین څخه ډېر لوړ وي.

د هغه صبر به زموږ له صبره ډېر پیاوړی وي.

ایا موږ کله ناکله د ماتېدو حق نه لرو؟

ایا موږ حق نه لرو چې کله ناکله داسې روان شو او پخپله هم ونه پوهېږو چې پښې مو چېرته وړي؟

ایا موږ د یو بل لپاره دا خبره درک کړې ده؟

ایا پوهېږو چې په انسان داسې شېبې هم راځي چې له خپل عادي طبیعت څخه وځي؟

له هغه ارام او متوازن حالت څخه چې موږ یې پرې پېژنو.

او له هغه پوخ او سنجول شوي عقلي حالت څخه چې تل مو ترې لیدلی وي.

ځینې وخت انسان داسې حالت ته رسېږي چې نه یوه خبره کولای شي، نه نصیحت اورېدلای شي، او نه حتی د چا لیدل زغملای شي!

نو ولې دا موضوع شخصي اخلو؟

ولې د یو بل غمونه نور هم زیاتوو؟

ولې دا نه مراعاتوو چې **د انسان نفس کله مخ پر وړاندې ځي او کله شاته راګرځي، او روح هم د بدن په څېر ناروغېږي؟**

که دې خپل ملګری تنګ او ستړی ولید، نو د هغه پر غم یو بل غم مه ورزیاتوه!

**د هغه لپاره قرن الثعالب اوسه؛ هغه ځای چې هلته له خپل غمه راویښ شي!**

ketabton.com - The Digital Library

د هغه خپګان ته درناوی وکړه.

که یوازې پاتې کېدل غواړي، پرې يې ږده چې یوازې پاتې شي.

بیا چې ارام شو، لاس پر اوږه ورته کېږده.

پر سینه یې لاس تېر کړه.

د زړه تسلي ورکړه.

له زړه سره د زړه خبرې وکړه، او له روح سره د روح!

لږ وخت له منطق څخه تېر شه.

ځکه **نفس د ماتېدو پر مهال درس ته اړتیا نه لري؛ احتواء او غېږې ته اړتیا لري.**

او **روح د سرګردانۍ پر مهال لکچر ته اړتیا نه لري؛ غېږې او مهربانۍ ته اړتیا لري!**

موږ کله ناکله د ایمان د کمښت له امله نه کمزوري کېږو؛

**بلکې د ژوند د سختۍ له امله کمزوري کېږو!**

د طائف په ورځ د رسول الله صلی الله علیه وسلم ایمان کم نه و؛ خو ژوند پرې ډېر سخت شوی و.

الله تعالی د هغه د درد او مات زړه په اندازه ښه پوهېده.

نو ځکه یې هغه صلی الله علیه وسلم ملامت نه کړ چې ولې دې سر ټیټ نیولی او بې‌اختیاره روان یې؟

ورته یې ونه ویل:

«ستا ایمان چېرته دی؟»

بلکې ملائکې یې ورته راولېږلې، چې شاوخوا یې وګرځي او مرسته ورسره وکړي.

الله تعالی پوهېده چې د هغه رسول صلی الله علیه وسلم، سره له دې چې د الله نبي دی، په پای کې **انسان هم دی!**

او په انسانانو کله ناکله د کمزورۍ داسې شېبې هم راځي چې په هغو کې ورته د فیلسوف عقل او د خطیب ژبه نه؛

**بلکې یو مهربان زړه پکار وي!**

# هغه خبرې چې باید پر ټولو ونه تپل شي!

افریقایان په خپلو ولسي کیسو کې داسې یوه کیسه کوي:

یوه ورځ یوې هوسۍ له زرافې وپوښتل:

«سیند څومره ژور دی؟»

زرافې ورته وویل:

«تر زنګنو پورې دی!»

هوسۍ سیند ته ورټوپ کړو، خو اوبو ټوله ډوبه کړه او نږدې وه چې غرقه شي؛ په ډېر زحمت یې ځان تر غاړې ورساوه او له اوبو راووته.

ketabton.com - The Digital Library

کله چې وژغورل شوه، لومړی کار يې دا و چې په غوسناک انداز يې په زرافې ور چيغه کړه:

«تا خو ويل چې اوبه تر زنګون پورې دي!»

زرافې ورته وويل:

«هو، زما تر زنګنو پورې!»

ای زرافو!

د خلکو حالت او شرايط په پام کې ونيسئ؛ په هغو نعمتونو او امکاناتو يې مه وهئ چې الله تعالی تاسو ته درکړي دي.

هر څوک ستاسو په څېر لوړ معاش نه لري، ستاسو په څېر لوکس کور نه لري او ستاسو په څېر قيمتي موټر نه لري.

تاسو چې دې ځای ته رسېدلي یاست، یوازې د خپلې هڅې له امله نه یاست؛ ټوله کیسه د الله په تقدیر او رزقونو پورې تړلې ده!

هغه څوک چې د اولاد په پيدا کولو کې يې ځنډ راغلی، په دې پوښتنه يې مه ځوروئ:

«ولې تر اوسه اولاد نه لرې؟! لږ همت وکړه!»

ته به وايې اولاد پيدا کول د پوهنتون يوه مضمون وي چې يوازې په هڅه او درس سره تر لاسه کيږی!

مجرد انسان هم په دې پوښتنه مه ځوروئ:

«نو کله واده کوې؟»

ته څه پوهيږې چې هغه هره شپه له دننه زر ځله نه مرې؟!

کېدای شي هغه داسې مهربانه سينه ونه لري چې سر پرې کېږدي، او هغه داسې غېږ ونه لري چې پکې د خپل زړه سترړيا هيره کړي.

خلک په بې‌ځايه پوښتنو مه ځوروئ:

«ولې نوې جامې نه اخلئ؟»

«ولې په رخصتۍ کې چکر نه وهې؟»

«ولې خپل کور نه بدلوئ؟!»

خلک د ژوند کولو لپاره پر خپلو زخمونو غاښونه ټينګوي؛ نو پر زخمونو يې مالګه مه ور شيندئ!

او ای هوسيو!

لوړ هدف لرل ښکلي دي، او د نورو له تجربو زده کړه تر هغه هم ښکلې ده؛ خو زموږ د ځينو برخليک داشي دی چې بايد هوسۍ واوشي.

دا يې ژوند دی، دا يې امکانات دي، او دا يې وس دی.

نو خپل ژوند د نورو له ژوند سره په پرتله کولو مه خرابوئ!

هغه انسان چې تل په مقايسه کې ژوند کوي او د نورو خلکو لاسونو ته ګوري، له سکون څخه محروم انسان دی.

ستاسې شرايط له نورو سره توپير لري؛

ستاسې وړتیاوې له نورو سره توپير لري؛

ketabton.com - The Digital Library

ستاسې لاره له نورو سره توپیر لري.

نو خپل ځان له بل چا سره مه اندازه کوئ!

او د وهم او تشو خبرو پر پلورونکو باور مه کوئ.

هغوی درته وایي:

«د سهار د قهوې پیسې سپما کړئ، ډېر ژر به له ایلان ماسک څخه هم شتمن شئ!»

«څو دندې یو ځای وکړئ، ژر به د نړۍ د لویو نړیوالو شرکتونو څښتن شئ!»

«له منفي خلکو ځان خلاص کړئ، د بالښت پوښ بدل کړئ، سبا سهار به اندلس فتح کوئ!»

څومره اسانه دي دا خبرې!

پر نقشه د سمندر له یوې غاړې څخه بلې غاړې ته تېرېدل، د کښتۍ په وسیله د هماغه سمندر له منځه د تېرېدلو په څېر نه دي!

# ناپوه نه ناپوهي ووژنئ!

کله چې د کارتاژ ستر قوماندان **هانیبال** په ۲۱۸ ق.م کال پر ایټالیا یرغل وکړ، د روم ښار سخت وارخطا شو. هغه امپراتورۍ چې هېڅکله یې ځان په دفاعي حالت کې نه و لیدلی، اوس د دفاع په درېځ کې ولاړه وه!

د روم هر پوځي قوماندان غوښتل تاریخ داسې ثبت کړي چې **ده** د روم دښمن مات کړ؛ خو ټولو په یوه خبره اتفاق درلود: باید له پوځ سره ووځي او په میدان کې له هانیبال سره مخامخ وجنګېږي.

دا طبیعي فکر دی، او عموماً همداسې کېږي!

خو یوازې جنرال **افریکانوس** موضوع له بلې زاویې وکتله.

هغه د روم سنا ته وویل:

«ستونزه خپله هانیبال نه دی، نه یې په هسپانیه کې پوځي مرکز دی، او نه هم دا چې له اوسني تونس، یعنې کارتاژ څخه د سمندر له لارې ورته غله او خوراکي توکي رسېږي؛ اصلي ستونزه خپله **کارتاژ** ده!

کارتاژ هغه هېواد دی چې له روم څخه کرکه لري، او د دواړو ترمنځ د نړۍ پر مشرۍ سیالي ورځ تر بلې زیاتېږي.»

نو د دې پر ځای چې په ایټالیا کې له هانیبال سره مخامخ شي، د افریکانوس پلان دا و چې **پر خپله په کارتاژ برید وکړي!**

د روم سنا له دې پلان څخه اغېزمنه شوه او د جګړې اجازه یې ورکړه.

یوازې یوه میاشت وروسته، د روم پوځونو کارتاژ له بیخه وباسلو.

په دې توګه هانیبال نه شو کولای پر روم برید ته دوام ورکړي، او نه یې وکولای شول کارتاژ بېرته ونیسي!

د ستر مفکر **علي عزت بېګوویچ** یوه خبره ډېره خوښوم:

**«مچان مه وژنئ؛ بلکې ډنډونه وچ کړئ!»**

ketabton.com - The Digital Library

بېګوويچ چې څه ويلي، افريکانوس هم هماغه کار زرګونه کاله وړاندې کړی و:

**د ستونزې ريښې يې پرې کړې.**

له بده مرغه، کله چې خلک د يوې ستونزې د حل پرېکړه کوي، ډېری وخت يوازې د هغې ښکاره برخه حل کوي؛ يعنې **پايله**.

نو هغه حلونه چې وړاندې کېږي، يوازې لنډمهاله او وصله‌کاري حلونه وي؛ لاره له مېخونو، ښيښو او داسې شيانو ډکه وي چې ستا د موټر ټاير سوری کوي، د دې ستونزې سطحي حل دا دی چې له ځان سره څو اضافي ټايرونه ولرې!

په دې کار سره ته ځان هغو شرايطو ته سپارې چې پر تا واک چلوي.

خو هوښيارۍ او ابتکار دا دی چې **ته پر شرايطو واک ولرې!**

يا بله لاره وټاکه، او يا همدا لاره پاکه کړه؛ ته او ټول هغه کسان چې له همدې ستونزې سره مخ دي.

که د کور ښيښه ماته وي، په ژمي کې سړه هوا کور ته ننوځي، او په دوبي کې د کور محرميت له منځه وړي.

د دې ستونزې سطحي حل دا دی چې يوه اضافي بخارۍ ولګوې، يا د کور اوسېدونکي ټوله ورځ ځانونه پټ وساتئ!

خو عاقلانه حل دا دی چې **ماته ښيښنه جوړه کړې** او ځان له هغو ټولو ستونزو او سترياوو وژغورې چې د ستونزې د نه‌حل له امله رامنځته کېږي.

دا د ورځني ژوند داسې واقعي مثالونه دي چې حل يې دومره څرګند ښکاري چې بحث ته هم اړتيا نه لري.

خو په عامه ژوند کې د ستونزو ريښې تل دومره روښانه نه وي، او پايلې يې دومره بيړنۍ ښکاري چې خلک د علت پر ځای د پايلې د درملنې په لټه کې شي.

موږ د بېکارۍ له امله د رامنځته کېدونکو ستونزو پر درملنه تر هغه ډېرې پيسې لګوو، چې که مو خپله **بېکاري** له ريښې حل کړې وای، دومره لګښت به مو نه درلود.

او په هغه کلي کې چې ښوونځی نه لري، د يوه ښوونځي جوړول تر هغې ډېر ارزانه دي چې د ښوونځي د نشتوالي له وجې ټولې پايلې وروسته ورغوو.

سطحي فکره خلک د زندانيانو ترمنځ د رامنځته کېدونکو ستونزو علتونه څېړي؛ خو ژورفکره خلک لومړی دا څېړي چې:

**ولې دا خلک اصلاً زندان ته داخل شول؟**

ته چې د زندان د دېوالونو دننه د زندانيانو د ستونزو لپاره حللارې لټوې، په حقيقت کې د زندان دروازه پرانيستې پرېږدې چې نور خلک هم ورننوزي، بيا هغوی هم په نوې ستونزه بدلېږي او د حل لپاره يې بيا نوې لارې لټوې.

**مقاومت پايله ده؛ اشغال علت دی!**

دا خبره دومره څرګنده ده چې له يوه عاقل انسان سره يې بحث ته اړتيا نشته؛ لا پرېږده چې هغه عاقل مسلمان هم وي!

خو پر غزه جګړې موږ ته وښودله چې زموږ د ډېرو خلکو **عقل او دين دواړه کم دي!**

هغه کسان چې په غزه کې د رامنځته شوې پېښې مسؤليت پر مقاومت اچوي، يوازې پايلې ته ګوري او خپل نظر له هغه اصلي علت څخه اړوي چې **اشغال** دی.

ketabton.com - The Digital Library

هغوی مقاومت داسې انځوروي لکه بریدګر چې وي، او اشغالګر داسې بې‌ګناه معرفي کوي چې ګواکې یوازې له ځانه دفاع کوي!

لکه مقاومت چې پر هغوی په واشنګټن یا مسکو کې برید کړی وي، نه په **عسقلان** کې!

منطق دا ایجابوي چې مخکې له دې چې په عسقلان کې د اشغالګرو د وژلو غندنه وکړي، له ځانه وپوښتي:

**«هغه اصلاً په عسقلان کې څه کوي؟»**

د هغو ستونزو تر ټولو بده پایله چې له ریښې نه حل کېږي، دا ده چې د وخت په تېرېدو سره لا ډېرېږي، تر دې چې په پای کې په داسې **ستري غوټې او پېچلتیا** بدلېږي چې خلاصول یې ډېر ستونزمن شي.

# مقام خلک ښایسته ښکاره کوي!

**محمد کرد علي** په خپلو یادښتونو کې لیکي:

یوه سړي، چې د ختیځ له یوه پاچا سره ډېر نږدې پاتې شوی و، راته وویل:

«ما هغه وخت ولید، چې پاچاهي یې له لاسه ورکړې وه؛ نو د یوه ماشوم په څېر شوی و او فکر یې هم کمزوری شوی و.»

ما ورته وویل:

«هغه ټول عمر همداسې و؛ یوازې **سلطنت پرې پرده اچولې وه!**»

مقامونه خپل خاوندان ښایسته او ستر ښکاره کوي.

کېدای شي یو کوچنی انسان پر یوه لویه څوکۍ کښېني، خو هېڅوک یې واقعي اندازې ته پام ونه کړي؛ ځکه د څوکۍ درندوالی او هیبت د خلکو پام دومره ځان ته اړوي چې پر څوکۍ ناست کس ته نه ګوري.

خو کله چې له هغې څوکۍ څخه راکوز شي، نو د هغه د وړتیاوو کمزوري ښکاره شي، د امکاناتو نیمګړتیاوې یې راووځي او د شخصیت دننه تشوالی یې څرګند شي!

**قلمونه داسې کلک ډالونه دي چې خلک یې تر شا ځانونه پټوي!**

د زهد او دنیا پرېښودنې (ترک دنیا) ډېرې خبرې داسې خلکو لیکلې چې خپله زاهدان نه وو.

د عشق ډېر شعرونه داسې خلکو ویلي چې خپله په عشق کې مبتلا نه وو، بلکې یوازې ساعت تېروونکي وو.

د غلو ډېری لیکنې د **امانتدارۍ** په اړه وي.

او څومره ډېر دي هغه خیانتکاران چې د **وفادارۍ** خبرې کوي!

ډېر ځله به هغه کسان هم ووینې چې زړ مخونه لري، د خلکو له نقاب اغوستلو شکایت کوي نو مه غولېږئ.

ځینې وخت خلک په یوه دره کې وي، خو خبرې یې په بله دره کې!

بشریت تر اوسه د ځان پټولو لپاره له **لیکلو** څخه بله بریالۍ وسیله نه ده موندلې!

جاحظ وایي:

«فرزدق د ښځو عاشق و، خو په دې اړه یې یو شعر هم نه دی ویلی.

ketabton.com - The Digital Library

او جریر پاک‌دامن و، هېڅکله یې له کومې ښځې سره عشق نه و کړی؛ خو د عشق تر ټولو ښکلي شعرونه یې ویلي دي!»

زه هم له شعر څخه یو بیت درزیاتوم، او په دې باندې د موسیقۍ په څېر یوه نغمه غږوم:

کله چې **عمر بن ابي ربيعه** د مرګ پر بستر پروت و، له الله تعالی څخه یې د بښنې غوښتنه کوله.

ورته وویل شول:

«له دې ټولو کارونو وروسته هم؟!»

هغه خپل کمربند ونیوه او ویې ویل:

**«په الله قسم، ما دا هېڅکله د حرامو لپاره نه دی خلاص کړی!»**

هغه اتل لوبغاړی چې خلک یې پر اوږو وړي او د اتلولۍ پر سټېجونو ورته مډالونه ورکوي، لازمه نه ده چې په ژوند کې هم اتل وي.

ځینې داسې «اتلان» شته چې خلک یې پر اوږو وړي، خو هغه کسان چې ورسره نږدې اوسېدلي، یوازې دا یې هیله وه چې کاشکې د دوی تر پښو لاندې شوی وای!

ډېر هغه کسان چې په ټولنیزو رسنیو کې راڅرګندېږي او موږ ته ښيي چې:

«څنګه باید ژوند وکړو!»

خپل ژوند یې ډېر خراب وي!

نو هغه څوک چې مقام، قلم او شهرت یې موږ ته ښه انځوروي، لازمه نه ده چې په حقیقت کې هم **ښه انسان** وي.

او هغه څوک چې موږ یې یوازې د ظاهري حالت له مخې بد ګڼو، لازمه نه ده چې په حقیقت کې هم دومره بد وي!

ډېر داسې ګناهګاران شته چې له الله تعالی او د هغه له رسول صلی الله علیه وسلم سره مینه لري؛ خو شیطان پرې غالب شوی او هغوی یې پر خپلو نفسونو بې‌وسه کړي دي.

د خیر تخم یې لا هم په زړونو کې شته.

هغوی پر خپلو ځانونو ظلم کړی، خو پر بل چا یې ظلم نه دی کړی!

د عثماني دولت په زمانه کې په شام کې د یوه بازار د جومات امام ولیدل چې جومات پر لمونځ کوونکو تنګ شوی دی.

نو یوه ورځ یې د جمعې په خطبه کې له سوداګرو لمونځ کوونکو وغوښتل چې د جومات د پراخولو لپاره چنده ورکړي.

خو هېچا صدقه ورنه کړه!

کله چې شیخ له جوماته په غوسه راووت، د جومات له ګاونډې سره مخ شو.

هغه د ټوکرانو یو شتمن سوداګر و، خو شراب یې څښل.

سوداګر ترې وپوښتل:

«ولې غوسه یې؟»

شیخ ټوله کیسه ورته وکړه.

سوداګر خپل مرستیال ته غږ وکړ:

«د پیسو کڅوړه راوړه!»

ketabton.com - The Digital Library

په هغه وخت کې پیسې د سرو زرو وې.

سوداګر د جومات د پراخولو **ټول لګښت په یوازې ځان ورکړ!**

شیخ پیسې واخیستې او روان شو.

سوداګر ورته وویل:

**«زما لپاره له الله څخه د هدایت دعا وغواړه!»**

شیخ ورته وویل:

**«وېرېږم چې ته هم د مغوی په څېر نه شې!»**

# نفاق خپور کړه، حکومت پرې وکړه!

هندیان په خپلو ولسي کیسو کې وایي:

کارغانو او بازانو له یو بل سره هوکړه وکړه چې په ځنګل کې هر څه چې دوی ترلاسه کړي، په مساوي ډول به یې سره وېشي.

یوه ورځ یې یو ګیدړ ولید چې ښکاریانو ټپي کړی و او د یوې ونې لاندې بې‌وسه پروت و.

ټول مرغان پرې راټول شول.

بازانو وویل:

«موږ به د ګیدړ پاسنۍ نیمایي اخلو.»

کارغانو وویل:

«ښه ده، موږ به یې ښکته نیمایي اخلو!»

په دې وخت کې ګیدړ وویل:

«ما تل فکر کاوه چې کارغان له بازانو هوښیار دي؛ خو اوس راته برعکس ثابته شوه!

دوی وغولول شول؛ ځکه د ګیدړ پاسنۍ برخه چې سر او مغز پکې دي، باید کارغانو اخیستې وای. همدا زما تر ټولو خوندوره برخه ده!»

کارغانو وویل:

«خبره دې سمه ده! موږ وغولول شو. باید د ګیدړ پاسنۍ برخه موږ واخلو.»

بازانو وویل:

«دا به هېڅکله ونه شي! موږ لومړی پاسنۍ برخه انتخاب کړې ده!»

د دواړو ډلو ترمنځ جګړه پیل شوه.

ډېر مرغان پکې ووژل شول، او څوک چې ژوندي پاتې شو، یا ټپي و او یا له سختې ستړیا سره مخ و.

ketabton.com - The Digital Library

ګيدړ څو ورځې هماغلته پاتې شو او د هغې جګړې له قربانيانو يې خواړه جوړول؛ تر دې چې ببرته يې روغتيا او ځواک ترلاسه کړ.

بيا په خپله مخه روان شو!

تاريخ د جاهليت د زمانې له عربو څخه ډېر زړور او مېړني جنګيالي نه دي ليدلي.

خو د هغوی ځواک او مېړانه يوازې هغه وخت د نورو لپاره د پام وړ وه چې **د يو بل پر ضد يې کاروله.**

هغوی د څړځايونو او اوبو پر سر يو له بل سره جنګېدل، پر يو بل يې بريدونه کول، او جګړې به يې کولې.

ان د تره زامنو ترمنځ به څلوېښت کاله جګړه روانه وه، يوازې د اوښانو د يوې سيالۍ له امله!

د **داحس او غبراء** او **د بسوس جګړې** کيسې خو به مو هم اورېدلې وي.

خو کله چې ستر اسلام راغی، دا له يو بل سره په جګړه اخته امت يې د **يوه بيرغ** لاندې راټول کړ.

اسلام د دوی دې مېړانې ته د عقيدې ادب ورکړ.

هغه توره چې پخوا يې موخه يوازې د واښو او اوبو ترلاسه کول وو، اسلام د هغې هدف داسې بدل کړ چې مخې ته يې **داسې جنت** ودرېد چې پراخوالی يې د اسمانونو او ځمکې په اندازه دی.

او هغه وينه چې پخوا د غچ اخيستلو لپاره ارزانه تويېدله، اوس د دې لپاره ارزانه شوه چې **د الله کلمه لوړه شي.**

نو په ډېر لنډ وخت او بې‌سارې چټکتيا سره سترې امپراتورۍ د دوی په وړاندې راوپرځېدې!

نن له پرون سره څومره ورته والی لري!

د يوه داسې امت په تل کې لا هم يو **پياوړی ځواک** پروت دی چې غواړي يو ځل بيا راپاڅېږي.

خو د هغه ځواک په وړاندې ډلې، اختلافونه او وېشونه ولاړ دي.

زموږ دښمنان د دغو اختلافونو اور بل ساتي او زموږ د اختلافاتو پر اور تېل شيندي.

که موږ لږ فکر وکړو، وبه وينو چې ډېری دا اختلافونه د داسې **وړو او بې‌ارزښته دنياوي مسايلو** پر سر دي، چې دنيا به هېڅکله زموږ په وړاندې په عاجزۍ سر ټيټ نه کړي، مګر هغه وخت چې موږ **يوه موټی او يو لاس** شو!

# غزوۀ بدر موږ ته لس درسونه را زده کړل

## ۱ ـ غزوۀ بدر را زده کړلو چې بنده يې هم غواړي، او الله تعالی يې هم غواړي؛ مګر يوازې هغه څه به کېږي چې الله يې وغواړي!

مسلمانان د قريشو د کاروان په لټه کې ووتل.

ابوسفيان له کاروان سره وتښتېد او د مشرکانو کاروان وتښتېد؛ د مسلمانانو ښکار له لاسه ووت.

د جګړې دواړو لورو فکر وکړ چې خبره همدلته ختمه شوه.

خو د ځمکې چارې تر هغه نه ختمېږي، څو اسمان خپله خبره ونه کړي.

ketabton.com - The Digital Library

او اسمان خپله خبره وکړه:

**«جګړه دې وشي!»**

## ۲ ـ غزوهٔ بدر را زده کړل چې باطل خپل مرګ ته پخپله را روان وي!

کاروان له هغو کسانو څخه وژغورل شو چې په لټه کې يې وو، خو قريش د ابوجهل له غرور څخه ونه ژغورل شول.

هغه دا حالت يو ښه فرصت وباله او ويې ويل:

**«راځئ چې هغوی يو ځل او د تل لپاره ختم کړو!»**

عتبه وويل:

**«زما پر سر يې وتړئ او خلکو ته ووايئ چې عتبه ووېرېد او بېرته ستون شو!»**

خو دا د باطل غرور و.

او د دې امت فرعون، **ابوجهل**، خپل غرور ووژلو!

## ۳ ـ غزوهٔ بدر را زده کړلو چې له الله تعالی پرته هېڅوک پر غيبو نه پوهېږي!

حتی رسول الله صلی الله عليه وسلم هم په لومړي سر کې داسې ګومان کاوه چې خبره به له يوه کاروان څخه د مالونو د ترلاسه کولو له هڅې ډېره نه وي.

که د جګړې دواړو لورو له مخکې د مقابلې وعده کړې وای، ښايي په ټاکلې ورځ کې به هم اختلاف شوی وای.

خو دا هغه وعده وه چې الله تعالی پرې فيصله کړې وه؛ نو حتماً به پېښېدله، او همداسې وشول!

## ۴ ـ غزوهٔ بدر را زده کړل چې هوښيار انسان له خپل دښمنه نه غافل کېږي، که هغه حتی يوه مېږی هم وي!

د الله جل جلاله تر ټولو هوښيار بنده، رسول الله صلی الله عليه وسلم، د خپل دښمن له چارو څخه د دعوت په خاطر غافل نه شو.

قرآن او د شپې عبادت يې د قريشو د حالاتو له څارلو څخه را ونه ګرځاوه.

هغهصلی الله عليه وسلم د هغوی د خبرونو په لټه کې و.

که داسې نه وای، نو اصلاً څنګه به د قريشو د کاروان له راتګ څخه خبر شوی وای؟

دا دين **متوازن** دی.

دين د دنيا په ورانولو نه قايميږی، او دنيا هم د دين په ورانولو نه سمېږي!

## ۵ ـ غزوهٔ بدر را زده کړل چې اسلام په توره نه دی خپور شوی!

هغه کسان چې په بدر کې يې تورې په لاس کې وې، تر دې جګړې وړاندې کلونه له جګړې منع شوي وو.

اسلام د هغه حق په وسيله خپور شو چې په خپله يې درلود؛ د هغه نور په وسيله چې له هرې خوا يې رڼا خپروله.

ketabton.com - The Digital Library

خو هغه حق چې ځواک يې ملاتړ ونه کړي، خلک يې سپک ګڼي.

نو توره يوازې د دعوت له مخې څخه د خنډونو د لرې کولو لپاره وه.

ګڼې ډېر داسې هېوادونه وو چې **مسلمان سوداګرو د خپلو اخلاقو په وسيله فتح کړل!**

## ۶ ـ غزوهٔ بدر موږ ته د رهبرۍ تر ټولو مهم درس را زده کړ: مشوره!

د نظرونو تبادله او د مختلفو نظرونو اورېدل، د امت د خير لپاره.

د جګړې له پيل مخکې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

**«ای خلکو! خپل نظرونه راته ووايئ!»**

کله چې يې د صحابه‌وو داسې نظرونه وليدل چې زړه يې پرې خوشحال شو، له هغوی سره د جګړې پر لور روان شو.

د جګړې د تنظيم پر مهال يې د **حُباب بن منذر رضي الله عنه** په نظر عمل وکړ.

هغه وړانديز وکړ چې:

«د بدر څاګانې دې زموږ تر شا وي؛ موږ به ترې اوبه څښو او هغوی به يې نه څښئ.»

تر هغه چې خبره د وحې نه وي، بلکې د نظر، جګړې او تدبير خبره وي، د مشر نظر هم د مشورې تابع دی.

او له جګړې وروسته رسول الله صلی الله عليه وسلم له خپلو اصحابو سره د بنديانو په اړه هم مشوره وکړه.

که کوم مشر له مشورې بې‌نيازه کېدای، نو له ټولو څخه به **رسول الله صلی الله عليه وسلم** ډېر بې‌نيازه و!

## ۷ ـ غزوهٔ بدر را زده کړل چې دعا هم د اسبابو له نيولو څخه ده!

که څوک يوه ورځ له دعا څخه بې‌نيازه کېدای، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم به د بدر په ورځ له دعا څخه بې‌نيازه شوی وای.

دا د هغه ايمان جګړه وه چې هېڅ شک پکې نه و، د هغه شرک پر وړاندې چې هېڅ شک پکې نه و.

خو رسول الله صلی الله عليه وسلم بيا هم له زړه دعا کوله:

**«اې الله! هغه بريا راکړه چې تا زموږ سره ژمنه کړې ده!»**

او ويل يې:

**«اې الله! که دا ډله هلاکه شي، بيا به په ځمکه کې ستا عبادت کوونکی هېڅوک پاتې نه شي!»**

## ۸ ـ غزوهٔ بدر را زده کړل چې جنت د تورو تر سيورو لاندې دی، جهاد عبادت دی!

هغه رب چې فرمايي:

**«روژه پر تاسو فرض کړل شوه»**

هماغه رب فرمايي:

**«جګړه پر تاسو فرض کړل شوه.»**

ketabton.com - The Digital Library

له همدې امله رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلو اصحابو ته یوازې دا ونه ویل:

«جګړې ته ورشئ!»

بلکې ویې فرمایل:

**«هغه جنت ته ورشئ چې پراخوالی یې د اسمانونو او ځمکې په اندازه دی!»**

نو هلته مرګ هم خوږ شو.

**عمیر بن الحمام رضي الله عنه** څو خرماوې په لاس کې لرلې.

هغه ورته وکتل او ویې ویل:

«څومره اوږد وخت به وي چې دا خرماوې مې له جنت څخه جلا کوي!»

بیا یې خرماوې وغورځولې او جګړې ته ورغی.

## ۹ ـ غزوهٔ بدر را زده کړل چې شریف او باوفا خلک د بریا په خاطر وفادارۍ نه هېروي!

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په طائف کې وویشتل شو او قریشو اجازه ورنه کړه چې مکې ته داخل شي، **مطعم بن عدي** هغه صلی الله علیه وسلم په خپل پناه کې داخل کړ.

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د بدر په ورځ د مشرکانو بندیان په ځنځیرونو کې ولیدل، د وفادارۍ له تر ټولو ستر درسونو څخه یې یو را زده کړ.

ویې فرمایل:

**«که مطعم بن عدي ژوندی وای او د دغو بندیانو په اړه یې راسره خبرې کړې وای، ما به ټول د هغه لپاره خوشې کړي وای!»**

اې د وفادارۍ ستر پیغمبره صلی الله علیه وسلم!

څومره لوړه وفاداري دې ده!

ته هغه کسان خوشې کوې چې ستا پر وړاندې جنګېدلي دي، یوازې د دې لپاره چې یو مشرک انسان درسره یوه نېکي کړې وه!

## ۱۰ ـ غزوهٔ بدر را زده کړل چې مشر خپل خپلوان نه پټوي او د نورو اولادونه د جګړې اور ته نه غورځوي!

کله چې د جګړې د پیل شېبه راورسېده او دواړه لښکرې د مقابلې لپاره ودرېدلې، رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل تر ټولو ګران ترونه، **حمزه رضي الله عنه**، چې د شهیدانو سردار و، میدان ته ولېږه.

خپل زوم او ګران ملګری، **علي بن ابي طالب رضي الله عنه** یې هم ولېږه.

او خپل بل د تره زوی، **عبیده بن الحارث بن عبدالمطلب رضي الله عنه** یې هم ولېږه.

**دا د رهبرۍ درس دی: مشر هغه څوک نه دی چې خلک جګړې ته ولېږي او خپل خپلوان خوندي کړي؛ بلکې لومړی باید خپله کورنۍ د مسؤلیت او قربانۍ په میدان کې وویني.**

ketabton.com - The Digital Library

# څوک چې زغم او حوصله کوي، خپلې هیلې ترلاسه کوي!

په چين کې، نږدې دوه نیم زره کاله وړاندې، د «**وو» پاچاهي** راڅرګنده شوه او ورو ورو يې ځان د یوې نوې او د حساب وړ ځواک په توګه پر سیمه تحمیل کړ.

خو دې پاچاهۍ يو څه کم درلودل: **تاريخ او تمدن!**

او دا هغه ميراث و چې یوازې هغه وخت يې ترلاسه کولای شوای، چې د «**منځنی پاچاهی**» واک يې تر لاسه کړی وای؛ هغه پاچاهي چې له ستر تاریخي او تمدني میراث څخه برخمنه وه.

د «وو» پاچا خپل پوځ په څو لورو وویشه، خو وزیر یې، **هسیو**، هغه ته خبرداری ورکړ او ويې ویل:

«په جګړه کې یوازې پر یوه دښمن تمرکز وکړه. په یوه وخت کې له یوې څخه له ډېرو پاچاهيو سره جګړه مه کوه.»

پاچا د خپل وزیر پر دې مشوره وخندل او په یو ډول غرور او سپکاوي يې ورته وویل:

«اې هسیو! ته ډارن يې!»

کله چې پاچا خپل وزیر ته امر وکړ چې د «**یویه» پاچاهی** پر ضد پوځي لښکرکشي وکړي، هسیو د پاچا له امر څخه انکار وکړ؛ ځکه پوهېده چې دا کار به خپله پاچاهي بېدفاعه پرېږدي.

هغه وویل:

«باید په خپله پاچاهۍ کې یو ځواک پاتې شي چې که پرې برید وشو، دفاع ترې وکړي. یوه دښمنه پاچاهي بس ده، اې جلالتمآبه پاچا! بس ده! ټول مه دښمنان کوه!»

دا د هسیو وروستۍ خبرې وې.

پاچا د هغه انکار **خیانت او نافرماني** وګڼله، نو امر يې وکړ چې وزیر دې د ده په مخ کې ځان ووژني.

هسیو د خنجر له ننویستلو مخکې پاچا ته وویل:

«کله چې زما روح ووځي، زما سترګې وباسه او د پاچاهۍ پر دروازه يې وځړوه. غواړم هغه مهال د دښمنانو لښکرې ووینم چې دا پاچاهي اشغالوي!»

هسیو د پاچا د امر د عملي کولو لپاره ځان وواژه.

پاچا هم د هغه سترګې وایستلې او د ملنډو په ډول يې د پاچاهۍ پر دروازه وځړولې.

خو ډېر وخت تېر نه شو چې د «**منځنی پاچاهی**» پاچا خبر شو چې د «وو» پاچا خپل پوځ له هېواده بهر لېږلی او تقریباً بېدفاعه پاتې ده. نو هغه یو ستر پوځي لښکر تیار کړ، پر «وو» يې برید وکړ او پاچاهي يې ونیوله.

کله چې د دښمن لښکر د مغرور پاچا ماڼۍ محاصره کړه، هغه داسې احساس وکړ لکه د خپل وژل شوي وزیر سترګې چې د **ملنډو او پښېمانۍ په نظر** ورته ګوري.

پاچا پرېکړه وکړه چې ځان ووژني.

همداسې د «**وو» پاچاهي** د تل لپاره له منځه ولاړه.

له بریا پرته بل هېڅ شی انسان دومره نه مغروره کوي، او له ماتې پرته بل هېڅ شی انسان دومره نه **هوښیار او محتاط** کوي!

ketabton.com - The Digital Library

له همدې امله، له هغو کسانو څخه چې ډېر ژر بريالي کېږي، تر هغو کسانو زيات ووېرېږئ چې د لارې په پيل کې يې پښې ښويېدلې وي!

**بريا د غرور لامل کېداى شي، او غرور د اتلانو قبر دی.**

يوازې هغه کسان په لوړه څوکه پاتې کېږي چې خپلې برياوې يې نه مستوي.

خو ماتې خپله يو بشپړ ښوونځی دی!

ماتې انسان ماتوي، غرور يې له منځه وړي، د حسابونو په دقيق کولو يې پوهوي، او د لوېدو درد ورښيي.

او هغه کسان چې له خپلې ماتې څخه درس واخلي، ډېر ځله داسې سترې برياوې ترلاسه کوي چې ماتې يې تصور هم نه شي کولای.

بلکې په حقيقت کې، **هيڅ بريالی انسان داسې نه شته چې يوه ورځ يې پښه نه وي ښويېدلې!**

خپل ځواک مه وبښه!

هغه څوک چې په يوه وخت کې له څو جګړو سره مخ کېږي، بالاخره ستړی او کمزوری کېږي.

او هغه څوک چې غواړي د ونې پر سر ټولې مرغانې ونيسي، ډېر ځله هغه مرغه هم له لاسه ورکوي چې په لاس کې يې نيولې وي!

زه د الله تعالی پر دغه حکمت نه پوهېږم چې ولې يې اسمانونه او ځمکه په **شپږو ورځو** کې پيدا کړل، حال دا چې هغه قادر و چې په يوه شېبه کې يې پيدا کړي.

خو ماته داسې ښکاري چې ښايي الله غوښتل موږ ته دا درس راکړي:

**بيړه مه کوئ...**

زغم وکړئ...

په حوصله مخکې لاړ شئ!

# روژې، قيام او قرآن ته ښه راغلاست!

له يمن څخه دوه کسان رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغلل او دواړو د هغه په حضور کې اسلام قبول کړ. له دواړو څخه يو د عبادت په برخه کې تر بل ډېر کوښښ کوونکی و.

هغه له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره په يوه غزا کې هم ګډون وکړ او **شهيد شو!**

بل کس تر هغه وروسته يو کال ژوندی پاتې شو، بيا وفات شو.

طلحه بن عبيدالله رضي الله عنه په خوب کې وليدل چې د جنت پر دروازه ولاړ دی، او ناڅاپه يې هماغه دوه کسان هلته وليدل.

يوه فرښته راغله او هغه کس ته يې، چې تازه وفات شوی و، امر وکړ چې جنت ته داخل شي.

بيا فرښته بېرته راووتله او هغه کس ته يې، چې تر ده يو کال مخکې شهيد شوی و، امر وکړ چې جنت ته داخل شي.

ketabton.com - The Digital Library

وروسته فرښته بېرته راووتله او طلحه رضي الله عنه ته يې وويل:

«ته بېرته لاړ شه؛ ځکه ستا د عمر يوه برخه لا پاتې ده!»

سهار چې طلحه رضي الله عنه له خوبه راپاڅېد، خلکو ته يې د خپل خوب کيسه وکړه، هغوی ډېر حيران شول.

دا خبره رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ورسېده، نو ويې فرمايل:

«تاسو په څه شي حيران یاست؟»

هغوی وويل:

«يا رسول الله صلی الله عليه وسلم! هغه لومړی کس په عبادت کې تر بل ډېر هڅاند و، بيا شهيد هم شو، خو بل کس تر هغه مخکې جنت ته داخل شو!»

رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

«ايا دا کس تر هغه وروسته يو کال ژوندی پاتې نه شو؟»

هغوی وويل:

«هو.»

رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

«او رمضان يې هم وموند، روژه يې ونيوله او لمونځ يې وکړ؟»

هغوی وويل:

«هو.»

نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

**«نو د دوی ترمنځ توپير تر هغه واټن هم زيات دی چې د ځمکې او اسمان ترمنځ دی!»**

اوس رمضان ستاسو مخې ته دی!

تاسو هم هغه څه وموندل چې ستاسو هغه ملګري موندلي وو؛ نو هغه د خپلې **روژې او قيام** په وسيله له خپل هغه ملګري مخکې شو چې تر ده وړاندې شهيد شوی و.

نو يو له بل سره د مخکې کېدو سيالي وکړئ!

ځکه د مؤمن عمر چې هر څومره زياتېږي، که يې په خير کې تېر کړي، هماغومره يې خير زياتېږي.

**د الله تعالی په لار کې لوږې او تندې ته ښه راغلاست!**

دا يوازې څو لنډ ساعتونه دي چې تېرېږي؛ وروسته به کولمې له خوړو ډکې شي، ستوني به مو اوبه وويني، خو **اجر به، ان شاء الله، پاتې وي.**

**قرآن کريم ته ښه راغلاست!**

هغه د ټپي زړونو مرهم دی، د غمجنو روحونو تسلي ده، او د بې‌شمېره حسناتو غرونه دي.

او زه يوازې دا نه وايم چې د قرآن د هر توري په لوستلو يوه نېکي ده؛ بلکې:

**الف يو توری دی، لام يو توری دی، او ميم يو توری دی!**

ketabton.com - The Digital Library

**قیام او تراویحو ته ښه راغلاست!**

هغو قدمونو ته ښه راغلاست چې د الله تعالی لپاره په لمانځه کې درېږي، او هغو زړونو ته چې د خپل رب دروازې ته خپلې ټولې هیلې او سترګاوې راوړي.

د خوږې سترګا څو شپې دي چې تېرېږي، خو **ستر اجر یې پاتې کېږي.**

**صدقاتو ته ښه راغلاست!**

فقیرانو او مسکینانو ته د خوړو ورکولو ته ښه راغلاست!

همدا هغه څه دي چې له انسان سره پاتې کېږي.

ځکه **کفن جیبونه نه لري!**

او صدقه زموږ د مال د لېږلو یوازینۍ لار ده چې پدې طریقه کولی شو مال مو **آخرت ته واستوو.**

# باطل زړور وي!

ابن النسوي ته دوه کسان راوستل شول چې د غلا په تور پرې شکمن شوي وو؛ یو یې غل و او بل بې‌ګناه.

هغه دواړه خپل مخې ته ودرول.

بیا یې خپل خدمتګار ته غږ وکړ:

«هلکه! یو ګیلاس اوبه راوړه.»

کله چې اوبه راوړل شوې، هغه ګیلاس واخیست او اوبه یې وڅښلې، بیا یې قصدا ګیلاس له خپل لاسه وغورځاوه او مات یې کړ.

له دواړو کسانو څخه یو د ګیلاس له ټنګ سره سخت ووېرېد او ولړزېد، خو بل کس هېڅ ونه ښورېد.

ابن النسوي هغه کس ته چې وېرېدلی و، وویل:

«ته غل نه یې، خپل کور ته لاړ شه!»

بیا یې بل ته وویل:

«څه چې دې غلا کړي، بېرته یې وسپاره!»

خلکو ترې وپوښتل:

«تاسو له کومه پوه شوئ؟»

هغه وویل:

«غل عموماً زړه‌ور وي او په اسانۍ نه وېرېږي؛ خو دا کس چې ولړزېد، بې‌ګناه دی. ځکه که د ده په کور کې یوه موږک هم وخوځېږي، هغه به ووېروي؛ نو څنګه به د غلا جرئت وکړی ؟!»

**څومره به ښه وای چې دا جرئت او دا زړورتیا د حق په لاره کې وای!**

ketabton.com - The Digital Library

څومره لاړې وهونکې او غله زورور وي،خوکاش همدا زړورتیا یې د الله تعالی په لار کې د جهاد، د هغه د شریعت د دفاع او د هغه د کلمې د لوړولو لپاره کارولې وای!

څومره به د هغه شخص دا ښکلی غږ ارزښتناک وای چې په سندرو کې یې ضایع کوي، کاش همدا غږ یې د قرآن کریم د تلاوت لپاره کارولی وای او د رحمان پیغام یې د هغه د بندګانو تر غوږونو رسولی وای!

څومره به د هغه شتمن بې‌حسابه لګښت کوونکی قوت ارزښتناک وای، که همدا مال یې په صدقاتو کې مصرف کړی وای!

هغه به د **ورکولو خوند** تر هغه خونده ډېر ښکلی موندلی وای چې د شهوتونو په پوره کولو کې یې لټوي.

او مال به یې داسې پاتې کېدونکې پانګه ګرځېدلی وای چې له ده څخه مخکې به قبر ته تللې وای؛ بیا چې دی قبر ته داخلېده، خپل مال به یې هلته د انتظار په حال کې موندلی وای!

د خلکو ستونزه دا نه ده چې **وړتیاوې او امکانات نه لري؛**

ستونزه دا ده چې خپل امکانات **په مناسب ځای کې نه کاروي!**

ابوجهل د زړورتیا له کمښت سره نه وه مخ؛ خو دا زړورتیا یې په باطل کې وکاروله!

امیه بن خلف د مال له کمښت سره نه وه مخ ؛ خو خپل مال یې د حق د مخنیوي په لار کې ولګاوه!

عتبه بن ربیعه د عقل او تدبیر له کمښت سره نه وه مخ؛ خو داسې عقل یې درلود چې د حق پر وړاندې یې په زړه‌نا زړه تګ کاوه، او داسې نظر یې ورکړ چې بالاخره یې خپل خاوند هلاک کړ!

له انسان څخه به د هغو وړتیاوو په اړه پوښتنه کېږي چې الله تعالی ورکړې دي:

**زړورتیا دې چېرته وکاروله؟**

مال دې چېرته ولګاوه؟

علم دې چېرته استعمال کړ؟

عقل دې په څه کې وکاراوه؟

ټولنیز مقام دې د څه لپاره وکاراوه؟

دنده او وظیفه دې څنګه ترسره کړه؟

که دا هر څه دې **د الله تعالی په لار کې** کارولې وي، نو څومره ښه وړتیا او څومره ښه پانګونه ده!

خو که دې د **شیطان په لار کې** کارولې وي، نو څومره بده پانګونه ده!

ځکه انسان یوازې په دې نه ارزول کېږي چې **څه لري؛ بلکې په دې هم ارزول کېږي چې څه لري او په کومه لار یې لګوي.**

# په عقل، نه په عضلو!

مشهور یوناني فیلسوف او تکړه کیسه‌لیکوال **ایسوپ** په خپل کتاب «خرافات» کې روایت کوي چې یوه ورځ **باد او خوب** پر دې شخړه وکړه چې له دوی څخه کوم یو زورور دی؟

وروسته یې هوکړه وکړه چې ګټونکی به هغه وي چې وکولای شي د یوه سوالګر ماشوم له لاسه ډوډۍ راوباسي.

ketabton.com - The Digital Library

لومړی باد هڅه وکړه.

په لېونۍ او مغروره څپې سره به يې زور وهلو، ماشوم به يې پورته کاوه او پر ځمکه به يې غورځاوه، په دې هيلــه چې ماشوم به ډوډۍ پرېږدي.

خو ماشوم دومره وړی و چې ډوډۍ يې پر خپلې سينې پورې کلکه نيولې وه او پرېکړه يې کړې وه چې **د هېڅوکو ماتېدل ورته تر دې غوره دي چې ډوډۍ له لاسه ورکړي!**

باد څو ځله هڅه وکړه، خو ټولې هڅې يې ناکامې شوې.

بالاخره يې وويل:

«نور له دې هڅو تير هېڅ ګټه نکړي!»

نو اوس د خوب وار شو چې خپل زور وښيي.

خوب په ډېرې آرامۍ ماشوم ته ورنږدې شو، په نرمه مينه يې د ماشوم پر سر لاس راکاږه.

لا يوه دقيقه نه وه تېره چې ماشوم په ژور خوب ويده شو او ډوډۍ يې له لاسه ولوېده.

خوب ډوډۍ واخيسته، پورته يې کړه او باد ته يې وويل:

**«اوس ووايه، له موږ دواړو څخه څوک زورور دی؟!»**

باد شا واړوله، خپله ماته يې ومنله او په خپله لاره روان شو.

د ژوند ډېرې ستونزې **عضلو نه، بلکې عقل** ته اړتيا لري.

که لږ پام وکړې، ډېر څه به زده کړې؛ ځکه توپان کولای شي يوه بېړۍ ماته کړي، خو د رسۍ يوه غوټه نه شي خلاصولای!

**ارامتيا او متوازن چلند** ستونزې په لږ زيان حل کوي.

خو تاوتريخوالی، که ستونزه حل هم کړي، د شخړې د دواړو خواوو څخه به يو څه خامخا مات کړي.

هغه څوک چې تل د خلکو د ګټلو پر ځای د **موقفونو ګټلو** په لټه کې وي، د ژوند په پای کې به يوازې پاتې شي او يوازې به مړ شي!

ارامتيا او توازن که ستونزه حل نه کړي، لږ تر لږه يې لا پسې خرابه کوي نه.

خو تاوتريخوالی که ستونزه حل هم کړي، يو زړه به يې مات کړی وي؛ او که يې حل نه کړي، ستونزه به يې نوره هم غټه کړې وي!

يوه ورځ رسول الله صلی الله عليه وسلم زموږ د مور **عائشې رضي الله عنها** په کور کې و.

د رسول الله صلی الله عليه وسلم د نورو مېرمنو څخه يوې خواړه پاخه کړي وو او غوښتل يې چې له هغه څخه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته هم خواړه ورکړي؛ نو خپل خدمتګار يې له يوې کاسې سره ورولېږه.

کله چې خدمتګار دروازه وټکوله، عائشه رضي الله عنها د دروازې خلاصولو ته پاڅېده.

رسول الله صلی الله عليه وسلم له خپلو څو صحابه‌وو سره ناست و.

عائشې رضي الله عنها چې دا صحنه وليده، د خپلې مېرمنې توب غيرت پرې غالب شو او ځان يې ونه شو کنټرولولای؛ د خدمتګار لاس يې وواهه، کاسه يې له لاسه ولوېده او ماته شوه!

ketabton.com - The Digital Library

**د یوه مېږه لپاره څومره شرموونکی او حساس حالت!**

او که مېږه زموږ له عامو خلکو څخه وای، ښایي له دې ځایه به یوه ستره ستونزه پیل شوې وای!

خو رسول الله صلی الله علیه وسلم په ډېرې آرامۍ سره د کاسې ماتې ټوټې راټولې کړې، بیا یې هغه خواړه چې پر ځمکه توی شوي وو، راټول کړل او بېرته یې په کاسه کې واچول.

بیا یې خپلو صحابه‌وو ته وویل:

**«ستاسې مور غیرتي شوه، ستاسې مور غیرتي شوه!»**

همداسې یې ستونزه لا د زېږېدو په لومړۍ شېبه کې **له منځه یووړه!**

**ارامتیا او توازن د دې لوبې راز دی؛ نو آرام اوسئ!**

# په لاره کې اغزي هم شته او ګلان هم!

په اروپایي ولسي کیسو کې راغلي:

یوه ورځ یوې بوډۍ مېرمنې خپلو لمسیانو ته وویل:

«ما په ټول عمر کې هېڅکله په اورګاډي کې سفر نه دی کړی.»

لمسیانو یې د خپلې نیا د اورګاډي د سفر هیله ولیدله، نو سمدستي یې ورته ټکټ واخیست، څو نږدې ښار ته لاړه شي او خپله ملګرې ووینې.

نیا اورګاډي ته وخته.

هلته یې ولیدل چې په یوه کوټه کې د یوه څوکۍ پوښ څېرې شوی دی. په غوسه یې خپل سامان راواخیست او بلې کوټې ته لاړه.

په نوې کوټه کې یې بیا د څوکۍ پر څرمنو ځینې رسمونه ولیدل چې خوښ یې نه شول، نو یو ځل بیا یې کوټه بدله کړه.

په حقیقت کې، نیا د ټول سفر په اوږدو کې له یوې کوټې بلې ته تلله.

بالاخره، کله چې نور انتخابونه هم ورته کم شول، په یوه ځای کې کښېناسته.

هلته یې ناڅاپه د هغه ښکلي کلیوالي طبیعت منظرې ته پام شو چې اورګاډی د دواړو ښارونو ترمنځ ترې تېرېده.

لا یې د دې زړه‌راښکونکې منظرې له لیدو خوند نه وه اخیستی چې د اورګاډي چلوونکي اعلان وکړ:

«ستاسې ټاکلي تمځي ته نږدې کېږو!»

بوډۍ له ځان سره وویل:

«که زه پوهېدلی چې دا سفر دومره لنډ دی، نو دومره وخت به مې په شکایت او نارضایتۍ نه تېراوه؛ بلکې د طبیعت له ښکلا څخه به مې خوند اخیستی وای!»

د انسان د ژوند سفر، له **زېږون څخه تر مرګه** پورې، تر ډېره د همدې بوډۍ د دوو ښارونو ترمنځ له سفر سره ورته دی.

دا سفر هېڅکله له ستونزو او ناخوښیو خالي نه وي؛ خو ښکلي شیان هم زموږ د سترګو مخې ته پراته وي.

ketabton.com - The Digital Library

له بده مرغه، موږ ډېری وخت خپل نظر له ښکلاوو اړوو او یوازې پر ستونزو تمرکز کوو؛ نو د سفر ښکلا رانه ضایع شي.

زه پوهېږم چې ستا دنده سخته ده، خو بل څوک بېکاره دی!

ولې لږ فکر نه کوې چې دا څومره لوی نعمت دی چې **الله تعالی دې د خلکو له محتاجۍ بېنیازه کړی یې؟**

ستا مېړه کېدای شي لږ توند مزاجه وي.

خو هېڅ انسان له کوم خوی پرته نه دی.

هغه مېړنی او سخي دی، پر تا غیرت کوي او ستا خیال ساتي.

نو ولې باید ته د سپينې پاڼې پر توري نقطې سترګې ولګوې؟

اصلي خبره دا ده چې د هغه طبیعت درک کړې او د هغه د طبیعت مطابق ورسره چلند وکړې.

**همدا د ګډ ژوند له هوښیارۍ څخه ده!**

ستا کور کوچنی دی او په سختۍ سره ته او ماشومان پکې ځایېږئ.

خو ته بیا هم داسې ځای لرې چې ورتلې شې، او داسې مهربانه سینه لرې چې د ورځې له ستړیا وروسته خپل سر پرې کېږدې.

په نړۍ کې میلیونونه داسې خلک شته چې نه د اوسېدو کور لري او نه داسې مېرمنه چې د اوږدو شپو ملګرې یې شي!

ستا ماشومان ډېر شوخ دي!

لا دې کور سم نه وي منظم کړی چې بیا یې هر څه ګډوډ کړي؛ جامې یې ژر چټلېږي او په ورځ کې لس ځله خواړه غواړي!

هو، دا حالت ستړی کوونکی دی، او د کور کار کله ناکله انسان تر هډوکو ستړی کوي.

خو کله دې له ځانه پوښتلي:

**څومره ښځې دي چې د اولاد له نعمت څخه بېبرخې دي؟!**

او څومره میندې دي چې معلول ماشوم لري او ښايي دا هیله ولري چې کاشکې د دوی ماشوم هره ورځ ټول کور وران او ګډوډ کړي، خو یوازې یې روغ او په پښو ولاړ ووینې؟!

ستا ماشومان ځکه کور پلټي او ګډوډوي چې **روغ دي!**

ځکه خواړه ډېر خوري چې **په وجود کې یې ځواک او روغتیا شته!**

ځکه لوبې کوي او جامې چټلوي چې **ډېر فعالیت او انرژي لري!**

د ژوند راز په دې کې نه دی چې ژوند څنګه دی؛ بلکې په دې کې دی چې **ته ورته څنګه ګورې.**

راز په هغې سترګې کې دی چې منظره ویني، نه یوازې په هغې منظره کې چې لیدل کېږي.

راز په دې کې دی چې د نیم ډک ګیلاس شکر وباسې، نه دا چې د نیم تش ګیلاس لپاره ژړا او شکایت وکړې.

ځکه:

**څوک چې له رضا څخه بېبرخې وي، له سکون څخه هم بېبرخې وي!**

ketabton.com - The Digital Library

# څوک دی چې پر موږ خپل ځان وپلوري؟!

د عبدالله بن مبارک په **«کتاب الجهاد»** کې راغلي:

کله چې د اُحد په ورځ دښمن رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ډېر نږدې شو، **مصعب بن عمیر رضي الله عنه** تر هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم دفاع وکړه، څو شهید شو. **ابو دجانه رضي الله عنه** هم تر هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم دفاع وکړه چې پر بدن یې ډېر ټپونه ولګېدل.

نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«څوک دی چې پر موږ خپل ځان وپلوري؟!»**

زیاد بن السکن رضي الله عنه سمدستي پورته شو او وجنګېد، تر دې چې ډېر سخت ټپي شو. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:

**«ما ته رانږدې شه!»**

هغه خپل ورون د رسول الله صلی الله علیه وسلم لپاره بالښت کړ، تر هغه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر ورون پروت و او هماغلته شهید شو.

د اُحد غزا پای ته ورسېده، خو د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا غږ لا هم زموږ په زړونو کې انګازې کوي:

**«څوک دی چې پر موږ خپل ځان وپلوري؟!»**

رسول الله صلی الله علیه وسلم له دې نړۍ څخه په خپل جسد سره لاړ، خو د هغه دین، شریعت او امت به تر ابده پاتې وي. د نېکۍ بازار لا هم پرانیستی دی، او د ځان پلورلو معامله لا هم روانه ده.

**نو څوک دی چې خپل ځان وپلوري؟!**

کله چې کوم ببوزله او اړمن انسان ووینې چې اولادونه او کورنۍ لري، د خپل نبي صلی الله علیه وسلم دا خبره په یاد کړه:

**«څوک دی چې پر موږ خپل ځان وپلوري؟!»**

ووایه:

**«زه یم، یا رسول الله!»**

بیا له خپل مال څخه څه ورکړه او صدقه وکړه.

کله چې د کوم ببوزله انسان د عاجلې جراحۍ لپاره پیسې راټولېږي، د خپل نبي صلی الله علیه وسلم دا خبره په یاد کړه:

**«څوک دی چې پر موږ خپل ځان وپلوري؟!»**

ووایه:

**«زه یم، یا رسول الله!»**

او په هغه اندازه مرسته وکړه چې ستا له وسه پوره وي.

ketabton.com - The Digital Library

کله چې ستا مور یا پلار ناروغ شي، خو ته په دنده او سوداګرۍ کې دومره بوخت یې چې وخت نه لرې، د خپل نبي صلی الله علیه وسلم دا خبره په یاد کړه:

**«څوک دی چې پر مور خپل ځان وپلوري؟!»**

ووایه:

**«زه یم، یا رسول الله!»**

بیا خپل وخت ورته ځانګړی کړه او ناروغ مور یا پلار ډاکټر ته یوسه.

کله چې په کورنۍ کې داسې شخړه رامنځته شي چې یوازې د یوه کس په تېرېدلو او د روغې جوړې په پیلولو حل کېدای شي، د خپل نبي صلی الله علیه وسلم دا خبره په یاد کړه:

**«څوک دی چې پر مور خپل ځان وپلوري؟!»**

ووایه:

**«زه یم، یا رسول الله!»**

او د زړه له پلوه تر ټولو نرم، د بښنې لپاره تر ټولو چمتو او د روغې جوړې لپاره تر ټولو ژر اقدام کوونکی انسان شه.

کله چې د حرامې او آسانه شهوت دروازه درته پرانیستل شي، داسې چې څوک دې هم نه ویني، د خپل نبي صلی الله علیه وسلم دا خبره په یاد کړه:

**«څوک دی چې پر مور خپل ځان وپلوري؟!»**

ووایه:

**«زه یم، یا رسول الله!»**

بیا له هغه حرام کار څخه ځان وساته، په دې باور چې:

**څوک چې د الله لپاره یو شی پرېږدي، الله تعالی به تر هغه غوره شی ورپه برخه کړي.**

د ځان الله او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم لپاره پلورل یوازې په جګړو او میدانونو کې نه دي، که څه هم دا تر ټولو ښکلی او ستر پلور دی.

بلکې **هره ورځ د الله په لار کې د خپل نفس د پلورلو یو نوی بازار پرانیستی وي.**

کله د صدقې فرصت وي، کله د مور او پلار د خدمت؛ کله د بښنې او روغې جوړې، او کله د حرام کار د پرېښودلو.

**نو خپل ځان وپلوره!**

## څنګه چې ځان درته ښکاري، هماغسې یې!

کاتولیکه راهبه **مور تریزا** په هند کې د یوه فابریکې لیدو ته تللې وه. د فابریکې په یوه کونج کې یې یو کارګر ولید چې په خوشحالۍ یې سندرې ویلې او پر څېره یې د خوښۍ نښې ښکارېدې.

مور تریزا ورنږدې شوه، ویې لیدل چې هغه کارګر کوچني **پیچونه (براغي)** راټولوي او په ځانګړو بکسونو کې یې ږدي، لکه د هغه څو نور ملګري چې همدا کار یې کاوه.

ketabton.com - The Digital Library

دا کار مور تریزا لا حیرانه کړه، نو ترې یې وپوښتل:

**— ته څه کوې؟**

کارګر وویل:

**— زه الوتکې جوړوم!**

هغې په حیرانتیا وویل:

**— الوتکې؟!**

کارګر وویل:

**— هو، مېرمنې! الوتکې. دا فرمایش د الوتکو جوړولو یوې کمپنۍ ته دی. هغه لویې الوتکې چې ته پکې سفر کوې، له دغو کوچنیو پیچونو پرته الوتلای نه شي!**

## څنګه چې مور خپل ځان وینو، هماغه زموږ ارزښت ټاکي!

ډېر لوی توپیر دی د هغه چا ترمنځ چې ځان یوازې د پیچونو د راټولوونکي په توګه ویني، او هغه چا ترمنځ چې ځان د الوتکې د جوړولو **یو شریک** ګڼي!

لوی توپیر دی د هغه چا ترمنځ چې په خپل کار کې یوازې هغه معاش ویني چې ترلاسه کوي، او هغه چا ترمنځ چې هغه **اغېز او ګټه** ویني چې د خپل کار له لارې یې نړۍ ته رسوي.

هر کار، که هر څومره ساده هم وي، په دې نړۍ کې یو اثر پرېږدي؛ یوازې اړتیا ده چې ته **خپل اثر ووینې!**

ته یوازې د کوڅې جاروکوونکی نه یې؛

**ته هغه انسان یې چې د یوه ښار څېره ښکلې ساتې!**

ته یوازې نجار نه یې؛

**ته هغه انسان یې چې کورونه د لمر او باد له زیان څخه ساتې!**

ته یوازې خیاط نه یې؛

**ته خلکو ته د ښکلا او ښایست احساس ورکوې!**

ته یوازې پر منبر ولاړ خطیب نه یې؛

**ته د خلکو لپاره د الله تعالی پر لور د تګ لاره هواروې!**

ته یوازې د ماشومانو ښوونکی نه یې؛

**ته د راتلونکو انسانانو روزونکی یې!**

ته یوازې انجینر او د پلونو جوړوونکی نه یې؛

**ته د خلکو ترمنځ د وصل او اړیکې لارې جوړوې!**

ته یوازې ډاکټر نه یې؛

**ته د انسانانو د دردونو کمونکی یې!**

ketabton.com - The Digital Library

او ته، اې ښځې! یوازې د کور مېرمنه نه یې؛

**ته د نړۍ له تر ټولو مهمو انسانانو څخه یې.**

ته د الله تعالی په امر د دې نړۍ د اوسېدونکو د روزنې او پالنې ستر مسؤلیت پر غاړه لرې. ته لومړۍ روزونکې یې او تر ټولو مهمه روزونکې یې؛ ځکه له انسان جوړولو څخه بله ستره روزنه نشته!

هغه څوک چې په خپل کار کې یوازې خپل معاش ویني، **هغه ړوند دی؛ ځکه د خپل کار اصلي اثر نه ویني.**

زموږ د کار تر شا یو داسې **اثر** شته چې باید هېڅکله مو له یاده ونه وځي. همدا اثر کار په یوه **رسالت** بدلوي او انسان ته ارزښت ورکوي.

د انسان حقیقي ارزښت په دې کې دی چې **هغه خپل ځان څنګه ویني، نه دا چې نور خلک یې څنګه ویني.**

هیڅوک ستا سپکاوی نه شي کولی، تر هغه چې ته په خپل زړه کې ځان سپک احساس نه کړې.

او هېڅوک ستا ارزښت نه شي لوړولی، تر هغه چې **ته پخپله د خپل ځان ارزښت احساس نه کړې!**

**ته چې خپل ځان څنګه وینې، هماغسې یې!**

# خپل ژوند مخته وړه او شاته مه ګوره!

د دې خبرې په اړه چې **خلک هېڅوک په خپل حال نه پرېږدي،** یوه مشهوره کیسه داسې روایت شوې ده:

جحا او زوی یې خپل سامانونه وتړل او یوې نږدې ښار ته روان شول، ځکه هلته یې هغه اړتیاوې لرلې چې په شاوخوا کلیو کې نه پیدا کېدې.

دواړه پر خره سپاره شول او روان شول.

کله چې لومړي کلي ته ورسېدل، خلکو وویل:

**«عجیبه ظالم خلک دي! دواړه پر خره سپاره دي، نه رحم لري او نه شفقت!»**

نو زوی له خره ښکته شو او جحا سپور پاتې شو.

کله چې دوهم کلي ته ورسېدل، خلکو وویل:

**«دا څومره مستبد پلار دی! خپله پر خره سپور دی او زوی یې په پښو روان کړی دی!»**

نو جحا له خره ښکته شو او زوی یې سپور شو.

کله چې د ښار له رسېدو مخکې وروستي کلي ته ورسېدل، خلکو وویل:

**«دا څومره نافرمانه زوی دی! خپله پر خره سپور دی او پلار یې په پښو روان دی!»**

نو جحا او زوی دواړه له خره ښکته شول او په پښو روان شول، او خر تش پاتې شو.

کله چې ښار ته ورسېدل، خلکو وویل:

**«څومره احمقان دي! په پښو روان دي، حال دا چې له ځان سره یې داسې خر دی چې پرې سپرېدلای شي!»**

ketabton.com - The Digital Library

جحا په اصل کې یو **حقیقي شخصیت** و، هغه احمق او ناپوه انسان نه و لکه څنګه چې وروسته په کیسو کې ورته نسبت کېږي. خو خلکو هغه د هرې هغې کیسې نښه وګرځاوه چې پکې یو څه حماقت وي، او بیا یې جحا ته منسوبه کړه.

لکه څنګه چې هره غزلیزه خبره چې ویونکی یې معلوم نه وي، د عربو د عاشقې قبیلې **بني عذره** ته منسوبه کېږي.

او هره عجیبه کیسه **اصمعي** ته منسوبه شوې ده، تر دې چې د خلکو په خبرو کې هغه دروغجن مشهور شوی؛ حال دا چې په حقیقت کې هغه د عربو له تر ټولو باورې او دقیق روایت کوونکو څخه و.

همدارنګه د بخل هره کیسه د **مرو خلکو** ته منسوبه شوه، ځکه جاحظ هغوی د بخل په اړه مشهور کړي وو.

خو اصلي خبره دا نه ده؛ راځئ بېرته خپلې لومړۍ کیسې ته راوګرځو.

## خلک په هره زمانه کې هماغه خلک دي!

د خلکو یوه خوښه دا ده چې **د نورو په ژوند کې مداخله وکړي.**

هغوی اکثره د نورو خلکو ستونزې تشخیصوي او ورته د حل لارې پیدا کوي، حال دا چې که خپل ځان ته متوجه شـي، ښایي د خپلو ستونزو د حل لپاره هم وخت پیدا نه کړي!

خو دا د انسانانو طبیعت ګرځېدلی چې د نورو په چارو کې ځان ورګډ کړي.

تر ټولو بده خبره دا ده چې کله ناکله انسان نه پوهېږي چې **خلک له ده څخه څه غواړي!**

هغه څوک چې له خپلې مېرمنې سره مشوره کوي، خلکو ته **تر واک لاندې او بې اختیاره** ښکاري؛ او هغه څوک چې له مېرمنې سره مشوره نه کوي، هغوی یې **مستبد** بولي!

هغه ښځه چې د خپل مېړه خبره مني، خلک یې **کمزورې شخصیت واله** بولي؛ او هغه چې د مېړه خبره نه مني، بیا وایي چې **د ښځې په څېر نه ده!**

هغه څوک چې د خپل ژوند د لګښت لپاره دوه دندې کوي، خلک وایي:

**«دا خو غواړي ټوله دنیا وخوري!»**

او هغه څوک چې په سختۍ خپل ژوند چلوي، بیا ورته وایي:

**«ولې بله دنده نه پیدا کوي؟»**

هغه ښځه چې واده وکړي او خپل ټول وخت کور ته وقف کړي، خلک وایي:

**«مسکینه! هوښیاره وه، خو خپل ځان یې ضایع کړ!»**

او هغه ښځه چې له واده وروسته خپلې زده کړې ته دوام ورکړي، بیا پوښتنه کوي:

**«ولې خپل کور ته نه وزګارېږي؟»**

هغه څوک چې ملګري لري او له هغوی سره لوبغالو او کافي‌خانو ته ځي، خلک یې **بې هدفه او ورک انسان** بولي.

او هغه څوک چې درس وایي، زحمت باشي او خپل وخت د کتابونو ترمنځ تېروي، خلک یې **عجیب او له خلکو ګوښه** ګڼي.

ketabton.com - The Digital Library

### نو دا ستا ژوند دی؛ په خپله خوښه ژوند وکړه!

تر هغه چې ته په دې ډاډه یې چې **سم کار کوې، د خلکو خبرو ته مه ګوره.**

خپل ارزښت د خلکو په سترګو کې مه لټوئ؛ بس دومره کافي ده چې **ته د خپل ځان په نظر کې باارزښته او ستر انسان یې.**

او که فکر کوې چې هر حالت کې به د خلکو له خبرو او نیوکو څخه خلاص شې، نو ته لا تر اوسه خلک نه دي پېژندلي!

همدغو خلکو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په اړه وویل:

**«جادوګر دی، لېونی دی!»**

او کله چې یې د لوط علیه السلام لپاره کومه ګناه پیدا نه کړه، ویې ویل:

**﴿د لوط کورنۍ له خپل کلي وباسئ، ځکه هغوی داسې خلک دي چې ځانونه پاک ساتي.﴾** نو د خلکو خبرې به تل وي.

**ته خپل ژوند په سمه لار کې تېر کړه؛ د هر چا د خوښولو هڅه مه کوه، ځکه دا کار هېڅکله پای نه لري.**

## انسان چې عزت ونه لري، هېڅ شی نه لري!

د هند د برېتانوي استعمار په زمانه کې یوه برېتانوي افسر یو هندي سړي ته پر مخ څپېړه ورکړه. هندي هم په ځواب کې هغه په سوک وواهه او پر ځمکه یې راوغورځاوه!

افسر خپل جنرال ته ورغی او ټوله کیسه یې ورته وکړه، بیا یې وویل:

— **«جنراله! هغه اعدام کړئ، ځکه د پاچا پر پوځ یې برید کړی دی!»**

خو جنرال ورته وویل:

— **«پنځوس زره روپۍ واخله او هغه هندي ته یې د ښښنې او عذر په توګه ورکړه!»**

هندي دغه پیسې ومنلې. همدا پیسې د هغه لپاره د پانګې په توګه وګرځېدې او په هغه کاروبار یې پیل وکړ چې له ډېرې مودې راهیسې یې خوب لیده.

کله چې د هغه شتمني زیاته شوه او په خلکو کې مشهور او شتمن سوداګر شو، جنرال افسر ته وویل:

— **«اوس د هغه کور ته لاړ شه او د هغه د ساتونکو او خدمتګارانو په وړاندې یې پر مخ څپېړه ووهه!»**

افسر د جنرال امر ومانه، د هندي کور ته ورغی او د هغه د ساتونکو او خدمتګارانو په وړاندې یې پر مخ څپېړه ورکړه.

خو هندي یوازې موسکی شو او **هېڅ یې ونه کړل!**

افسر بېرته جنرال ته راغی او ورته یې وویل چې څه پېښ شول.

جنرال ورته وویل:

**«په لومړي ځل هغه هندي یوازې خپل عزت درلود؛ نو د خپل عزت لپاره یې دفاع وکړه. خو کله چې یې خپل عزت مور ته وپلوره او کاروبار، شتمني او داسې ګټې یې پیدا کړې چې باید اوس یې ساتنه وکړي، نو د عزت کیسه ورته بې ارزښته شوه!»**

ketabton.com - The Digital Library

ژوند تل انسان د خپل **عزت** په معامله کولو راکاږي.

ځومره ډېر خلک دي چې خپل عزت پلوري، او څومره لږ خلک دي چې په ښه توګه یې ساتي؛ هغه خلک چې هر هغه چا ته چې غواړي دوی په معامله، خبرو، ښکلو وعدو او لالچونو قانع کړي، وایي:

**«معاذ الله! هېڅکله نه!»**

ډېر کم داسې وي چې موضوع دومره ښکاره وي لکه د اشغالګر او د کور د خاوند ترمنځ؛ بلکې زموږ عزت اکثره وخت د ورځني ژوند په ډېرو عادي کارونو او حتی په کوچنیو جزئیاتو کې د امتحان سره مخ وي.

## د مینې په نوم

ځینې خلک مني چې د بل چا لپاره خپل ځان تر دې حده ټیټ کړي چې هر ډول سپکاوی وزغمي، بیا ځان ته وایي:

**«د مینه والو ترمنځ عزت څه مانا لري؟!»**

د مینې دا دعوه کوونکي هېر کړي چې هغه څوک چې د خپل زړه او خپل عزت ترمنځ انتخاب ته اړ کېږي، او خپل عزت قرباني کوي، د ریښتینې مینې وړ نه دی.

تر ټولو مهمه دا چې **هغه څوک چې په رښتیا له موږ سره مینه لري، هېڅکله موږ د زړه او عزت ترمنځ انتخاب ته نه اړ کوي؛ ځکه زموږ عزت د هغوی عزت هم دی.**

## د ډوډۍ په نوم

ځینې خلک د روزۍ د پیدا کولو لپاره خپل عزت او آبرو تویوي، بیا ځان ته وایي:

**« ډوډۍ پیدا کول سخت دي!»**

لعنت دې وي پر هغې ډوډۍ چې د ذلت په اوږو پخه شوې وي؛ پر هغې ډوډۍ چې انسان غلام جوړوي!

لکه چې رزق د خلکو په لاس کې وي، نه د الله تعالی په لاس کې!

## د دندې د پرمختګ په نوم

ځینې کسان د دې لپاره چې په وظیفه کې ترفیع وکړي، د خپلو همکارانو جاسوسي کوي او د هغوی خبرې مشر ته رسوي.

## د لویو خلکو د پېژندلو په نوم

چاپلوسان او غوړه مالان ډېرېږي؛ هر څوک غواړي د زورورو او مشهورو خلکو ځان ته نږدې کړي.

## د مصلحت په نوم

ځینې کسان خپلې ږیرې او پګړۍ په څو پیسو پلوري؛ د الله تعالی خبرې زده کوي، خو په عمل کې یې د شیطان په لاره کې استعمالوي!

البته په ځینو حالاتو کې **سترګې پټول فضیلت دی، تېرېدل لوړ اخلاقي ارزښت لري او له ځینو خبرو څخه ځان تېرول یو غوره خوی دی.**

ketabton.com - The Digital Library

دا هر څه هغه وخت ښه دي چې هدف يې دا وي چې د الله تعالى د اجر لپاره تر وروستۍ ښېبې پورې د نورو د ساتلو او زغملو هڅه وکړو.

خو کله چې د خلکو د خوښۍ او د هغوی د اجر لپاره دا کار کوې، نو پوه شه چې:

**ستا عزت د هغوی تر پښو لاندې شوی دی!**

## ستـــا عزت ډېر ارزښت لري

ستا عزت له محبوب څخه مهم دی.

ستا عزت له یوې مړۍ ډوډۍ څخه مهم دی.

بلکې ستا عزت حتی **له خپل نفس څخه هم مهم دی.**

ځکه:

**انسان چې عزت ونه لري، هېڅ شی نه لري!**

# هغه چا ته چې پوښتي: «الله چېرته دی؟ ولې د غزې غچ نه اخلي؟!»

امام مسلم، احمد، نسائي او ابو داود د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت کوي چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم ځينې اصحاب ورغلل او ويې ويل:

**«یا رسول الله! موږ په خپلو زړونو کې داسې خبرې پيدا کوو چې ويل يې ډېر درانه ګڼو، حتی دا راته ډېره غوره ده چې ټوله دنيا زموږ وي، خو هغه خبرې مو په ژبه نه وي راوړې.»**

رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

**«ايا رښتيا هم دا حالت درباندې راغلی؟»**

هغوی وويل: **«هو!»**

رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

**«دا ښکاره ايمان دی.»**

کړاوونه او فتنې د شيطان د لوبې ميدانونه دي. هغه هڅه کوي چې د مؤمن ايمان کمزوری کړي او د هغه په زړه کې د الله تعالى مقام ګډوډ کړي.

موږ په پای کې انسانان یو. په ځينو چارو کې د الله تعالى حکمت له موږ پټ وي. موږ يوازې هغه څه وينو چې زموږ مخې ته واقع کېږي، خو ذهن مو پوښتنې کوي؛ کله کله انسان حتی له دې وېرېږي چې خپلې پوښتنې په ژبه راوړي، نو په استغفار يې دفع کوي.

**دا د ايمان ماتېدل نه دي؛ بلکې د ايمان له بشپړتيا سره تړاو لري.**

ketabton.com - The Digital Library

کله چې د یوې پېښې حکمت درته پټ شي، نو د هغې چارې واک خپل مالک ته وسپاره. هغه تر ټولو عادل او مهربان دی. ټول د هغه په ملک کې بندګان یو.

## شیطان به درته ووایي:

«د غزې په پېښو کې الله چېرته دی؟ آیا هغه د هغو ماشومانو لپاره نه غوسه کېږي چې له خاورو او کنډوالو څخه ټوټې ټوټې راایستل کېږي؟

ایا د هغو ښځو غږ نه اخلي چې توغندي یې بدنونه ټوټه ټوټه کوي؟

د زړو خلکو څه ګناه وه چې ووژل شول؟

ولې الله الوتکې نه شي درولای؟ ولې توپونه نه شي غلي کولای؟»

## لومړی:

دا دنیا د **امتحان کور دی، نه د بشپړ جزا کور.**

الله تعالی له خپل بنده څخه پوښتي چې په هغه امتحان کې یې څه وکړل؛ بنده دا حق نه لري چې خپل رب ته د اعتراض په ډول ووایي:

**«ولې دې زه په دې امتحان کړم؟»**

نو باید د الله تعالی په وړاندې ادب وساتو.

## دوهم:

د پېښو ارزونه باید یوازې د اوسني حالت له مخې ونه کړو، بلکې **وروستۍ پایله** هم باید وګورو.

که ته د فرعون هغه صحنه لیدلې وای چې د یوې مؤمنې ښځې ماشومان یې په جوش تېلو کې اچول، تر دې چې د هغوی هډوکي به پاتې شول، او بیا یې خپله هغه ښځه هم ورواچوله، نو ښايي ویلي دې وای:

**«الله چېرته دی؟ د دې ماشومانو څه ګناه وه؟ ولې یې له دې مظلومې ښځې دفاع نه کوي؟»**

خو وروسته څه وشول؟

الله تعالی فرعون په سمندر کې ډوب کړ، او هغه د تل لپاره د دوزخ له عذاب سره مخ شو.

او د هغې ښځې او د هغې د ماشومانو خوشبويي رسول الله صلی الله علیه وسلم د معراج په شپه په جنت کې احساس کړه.

## درېیم:

الله تعالی ظالم ته مهلت ورکوي، خو کله چې یې ونیسي، بیا یې په داسې ډول نیسي چې د هغه له واکه هېڅوک نه شي تښتېدلای.

خو چا درته ویلي چې د هر ظلم حساب باید حتماً **په همدې دنیا** کې وشي؟

که د قیامت ورځ نه وي، نو ولې میزان، حساب، صراط، جنت او دوزخ شته؟

ketabton.com - The Digital Library

د اصحاب الاخدود مؤمنان په دنیا کې په اور کې وسوځول شول. حتی یو ماشوم الله تعالی په خبرو راوست او خپلې مور ته یې وویل:

**«مورې! صبر وکړه، ته پر حقه یې.»**

مور یې هم اور ته ور ودانګل.

الله تعالی مور ته نه دي ویلي چې د هغوی غچ یې سمدستي په دنیا کې واخیست؛ خو د قیامت په ورځ به یې حق په بشپړ ډول ادا شي.

**جګړې یوازې په ظاهري پایلو نه سنجول کېږي.**

که ته ټولې دنیاوي جګړې وګټې، خو په پای کې دوزخ ته ولاړ شې، نو تاوانې یې.

او که ته د حق پر لار کې وځپل شې، وسوځول شې او حتی خپل ژوند له لاسه ورکړې، خو پر حق ثابت پاتې شې، نو **اصلي بریالی ته یې.**

## څلورم:

که الله تعالی د هر ظلم په مقابل کې سمدستي خپل انتقام عملي کړی وای، نو د دنیا د امتحان مفهوم به له منځه تللی وای.

او که حق به په هره جګړه کې ظاهراً بریالی کېده، نو د حق صفونو ته به ډېر داسې خلک راتلل چې یوازې د **نتیجې عبادت** کوي.

خو الله تعالی دا دنیا د زړونو د امتحان او د اصولو د ازمېښت ځای ګرځولې ده.

که ظلم او تجاوز نه وای، نو خلک به څنګه د جهاد، مرستې، قربانۍ، صدقې او ملاتړ په امتحان کې اچول کېدل؟

څوک به مجاهد کېدل او څوک به شاته پاتې کېدل؟

څوک به د حق ملاتړ کول او څوک به خلک کمزوري کول؟

چا به د الله په لار کې مال لګول او چا به بخیلي کول؟

## پنځم:

د یوې ښځې د ماشوم د زېږون درد له درد، وینې او سختیو سره مل وي؛ حال دا چې پایله یې یوازې د یوه ماشوم زېږېدل دي.

نو د یوې بشپړې **امّت د زېږون** حالت به څنګه وي، چې پایله یې عزت، قوت او یو نوی پړاو وي؟

که ته د قریشو په زمانه کې وای، هغه وخت چې ابو جهل سمیه رضي الله عنها په ځمکه وتړله او په نېزه یې ووژله، ښایي تا هم ویلي وای:

**«الله چېرته دی؟!»**

خو زه اوس له تا پوښتم:

**سمیه رضي الله عنها اوس چېرته ده، او ابو جهل چېرته دی؟**

ketabton.com - The Digital Library

که ته هغه وخت بلال رضي الله عنه لیدلی وای چې د مکې پر ګرمو شګو پروت و، درنه ډبره یې پر سینه ایښې وه او امیه بن خلف ترې غوښتل چې لات او هبل ومني، خو بلال رضي الله عنه په پاتې ساه کې ویل:

**«احد، احد!»**

ښايي تا ويلي وای:

**«هغه یو او واحد الله چېرته دی؟!»**

خو زه اوس له تا پوښتم:

**بلال رضي الله عنه اوس چېرته دی او امیه بن خلف چېرته دی؟**

او که بریا یوازې په دنیاوي سترګو لیدل کېدله، نو هغه وخت به دې هېڅکله فکر نه کاوه چې بریا به راشي.

خو ته نن پوهېږې چې **مکه فتحه شوه**، او هماغه خلک چې په مکه کې به شکنجه کېدل، یوه ورځ د ورځې په رڼا کې د مکې له څلورو دروازو څخه فاتحین ورننوتل.

### وروستۍ خبره

د حکیم رب د هرې پېښې لپاره خپل ټاکلی وخت وي.

**که پوه شوې، نو صبر او ثابت قدم اوسه؛ او که پوه نه شوې، نو د الله په حکمت باور وکړه او خپله چاره هغه ته وسپاره.**

**الله تعالی د ظلم په اړه غافل نه دی؛ خو د هغه د فیصلې وخت، طریقه او بشپړ حساب زموږ د محدود فهم تابع نه دی.**

## تر ټولو وېروونکې صحنه!

د بدر په ورځ مسلمانانو یوازې د **قریشو کاروان** غوښت، او مشرکانو یوازې د هغه د ژغورلو هڅه کوله؛ خو الله تعالی دواړه ډلې د جګړې میدان ته راوستې.

که دوی له مخکې یو بل ته د جګړې وعده کړې وای، ښايي په وخت کې به یې هم اختلاف کړی وای؛ خو پاک دی هغه ذات چې کله د یو کار اراده وکړي، نو هغه کار خامخا ترسره کېږي!

دواړه لښکرې یو د بل مخې ته ودرېدې او د جګړې د پیل نښې ښکاره شوې.

په دې وخت کې **ابو جهل** لاسونه پورته کړل او دعا یې وکړه:

**«اې الله! له موږ څخه هغه څوک چې ډېر د خپلوانو اړیکې پرېکوي او داسې څه یې راوړي چې نه پېژندل کېږي، نو نن سهار یې له منځه یوسه!»**

لږ وروسته ابو جهل په خپل ژوند کې **تر ټولو وېروونکې صحنه** ولیده:

د مرګ د پرښتې څېره، په داسې حال کې چې د هغه روح یې پر هغه ګمراهۍ قبض کاوه!

ابو جهل، د یادونې وړ ده، هغه ساده او ناپوه انسان نه و لکه ځینې تاریخي فلمونه چې یې انځوروي.

هغه هوښیار، فصیح او بلیغ سړی و.

ketabton.com - The Digital Library

حتی د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا دعا:

**«اې الله! اسلام په هغو دوو کسانو کې چې ستا په نزد تر ټولو محبوب وي، په یوه سره پیاوړی کـړه: عمـر بن الخطاب یا عمرو بن هشام!»**

د دې خبرې څرګندونه کوي چې عمرو بن هشام (ابو جهل) هم د پام وړ ځانګړتیاوې لرلې.

خو ستونزه دا ده چې:

**سترګې نه ړندېږي، بلکې هغه زړونه ړندېږي چې په سینو کې دي.**

ابو جهل حتی د خپل مرګ تر څو شېبو مخکې رسول الله صلی الله علیه وسلم داسې لیده چې ګواکې هغه د خپلوانـو اړیکې پرېکوي او خپل قوم تیتوي.

خو کله چې پرده پورته شوه، حقیقت یې درک کړ؛ **خو هغه وخت د پښېمانۍ لپاره ناوخته و.**

## د دې ټولو تر شا یو لوی درس دی

هر یو له موږ څخه باید خپل **تعصبونه، ډلې، تړاوونه، ملګرتیاوې او دښمنۍ** د الله تعالی د کتاب پر تله وتلي.

کېدای شي انسان په داسې ګمراهۍ کې وي چې فکر کوي **ډېر ښه کار کوي!**

د موسیٰ علیه السلام ټولې معجزې چې فرعون ته راغلې، نه یې زړه ولړزاوه او نـه یې دې تـه اړ کـړ چې خپـل ځـان وڅېړي.

هغه په بشپړ باور فکر کاوه چې **دی پر حق دی!**

هغه په موسیٰ علیه السلام کې له دې پرته بل څه نه لیدل چې ګواکې یو سړی راغلی ترڅو د خلکو دین بدل کړي او په ځمکه کې فساد خپور کړي.

حتی هغه شېبه چې موسیٰ علیه السلام سمندر وچ کړ او بني اسرائیل یې بلې غاړې ته بوتلل، فرعون له خپلو لښکرو سره ورپسې روان شو، په دې باور چې **دی پر حق دی!**

خو څو شېبې وروسته یې د خپل ژوند تر ټولو وېروونکې صحنه ولیده:

جبریل علیه السلام د هغه په خوله کې خټه اچوله، او د مرګ پرښتې یې روح د اور پر لور وړ!

## تر ټولو وېروونکې خبره دا ده

د انسانانو دا باور چې ځان په غلط ځای کې پر حق ګڼي، ډېر خطرناک دی.

هر څوک چې په ګمراهۍ کې ډوب وي، لازمه نه ده چې منافق وي.

خبره تر دې هم خطرناکه ده:

**انسان حق باطل وګڼي او ورسره جګړه وکړي، او باطل حق وګڼي او پیروي یې وکړي!**

نو هر یو له موږ څخه باید **خپل ځای او د خپلو قدمونو لوری وګوري** او خپل دریځ د الله تعالی له کتاب سره وتلي.

ځکه حقیقت هغه وخت درک کول چې د مرګ د پرښتې مخ درته ښکاره شي، هغه داسې پښېماني ده چې بیا یې هېڅ درملنه نشته.

ketabton.com - The Digital Library

**کتاب تېرل شوی وي او د عمل پانې وچې شوې وي!**

کله چې هغه بدمرغه او ګمراه **عبدالرحمن بن ملجم** د قصاص لپاره راوستل شو، ځکه چې د مؤمنانو امیر **علي بن ابي طالب رضي الله عنه** یې وژلی و، نو هغوی ته یې وویل:

**«ما یوازې په یوه وار مه وژنئ؛ ټوټه ټوټه مې کړئ، ترڅو زما اجر زیات شي!»**

خو یوه شېبه به داسې راشي چې د دغو بریدګرو یو ګول به د هغوی ټولې تېروتنې وبښي، مګر هېڅوک به د الیسون یوه تېروتنه هم ونه بښي!

# د فوټبال په ډګر کې رښتینولي!

په ۱۹۶۷ کال کې د کولمبیا د فوټبال په اصلي لوبغالي کې د ستنې د سر هومره ځای هم نه و پاتې؛ لوبغالی له نندارچیانو ډک و. دا د هېواد د دوو مشهورو لوبډلو، «میوناریوس» او «سانتافې» ترمنځ وروستۍ لوبه وه.

د لوبې په وروستۍ شېبه کې، چې پایله مساوي وه، د سانتافې بریدګر «عمر دیفاني» د جریمې په سیمه کې ولوېد، پـه داسې حال کې چې هېچا هم لاس نه و ور وړی!

ketabton.com - The Digital Library

د لوبې حاکم(ریفری) د پنالټۍ پرېکړه وکړه!

عمر دیفاني د ګول ساتونکي مخې ته ودرېد. مغه د ځان په وړاندې داسې بریا لیدله چې د دوکې په ککړتیا رنګ شوې وه. مغه پوه شو چې د خپل ژوند تر پایه به د دې اخلاقي ناورین بار پر اوږو ونه شي زغملای.

نو مغه یوازې توپ له ګول څخه بهر ونه ویشت؛ بلکې توپ یې د میدان د غاړې کرښې ته وواهه، څو اعلان کړي چې دی ارزانه او په دوکه ترلاسه شوې بریا نه شي منلای!

دې زړورې کړنې د مغه لپاره یوه ستره فاجعه رامنځته کړه او د فوټبال لوبیز ژوند یې پای ته ورساوه. خو وروسته یې وویل:

**«زه هېڅکله پښېمانه نه یم؛ زه هر سهار د ویاړ په احساس د هنداري مخې ته درېږم!»**

د فوټبال په شنه مستطیل کې تل د امپیرانو تېروتنې شوې دي. موږ ټولو لیدلي چې څومره لوبډلې د همدې تېروتنو له امله له سیالیو څخه بهر شوې دي، او څومره نورې بیا د همدې تېروتنو په برکت د اتلولۍ سټېج ته ختلې دي!

دا هم سمه ده چې مارادونا د فوټبال یوه معجزه وه، خو مغه هم په یوه مهمه لوبه کې په خپل لاس ګول وواهه!

حتی کله چې د فوټبال نړیوال فدراسیون (FIFA) د «VAR» ټکنالوژي ومنله، دې کار د امپیرانو تېروتنې راکمې کړې، خو په بشپړه توګه یې له منځه یو نه وړې.

زما شخصي نظر دا دی، او لا هم پرې باور لرم، چې دا ډول تېروتنې د لوبې یوه برخه ده؛ بلکې په حقیقت کې د ژوند یوه برخه هم ده!

یوازې د فوټبال په لوبغالو کې سیالانو سره ظلم نه کېږي، او یوازې د فوټبال په میدانونو کې یو څوک د بل حق نه اخلي!

که څه هم فوټبال په پای کې یوه لوبه ده، خو په دې لوبه کې د رښتینولۍ او امانتدارۍ ځرګندول د درناوي وړ دي؛ داسې کړنې دي چې انسان ورته خپله خولۍ له سره پورته کوي!

عمر دیفاني کولای شول له یوې ناحقه پنالټۍ څخه ګول ووهي. په هر حال، دا د حاکم پرېکړه وه، نه د مغه؛ او ډېرو لوبغاړو له ناحقه پنالټیو څخه ګولونه وهلي دي!

خو په پای کې لوبغاړي هم زموږ په څېر انسانان دي؛ د شیانو په اړه د مغوی لیدلوري توپیر لري، او حتی د خپل ځان په اړه یې نظرونه هم سره توپیر کوي.

دا سمه ده چې په پای کې ټول خلک د لوبې پایله په یاد ساتي او د لوبې جزئیات هېروي، خو په لوبه کې رښتینولي مغه څه دي چې باید وستایل شي.

**مغه انسان چې په دوکه ترلاسه شوې بریا ردوي او ماتې ته ترجیح ورکوي، په حقیقت کې ګټونکی دی؛ که څه هم د لوبې پایله د مغه پر خلاف وي!**

ځکه تر دې لویه بریا نشته چې انسان خپل ځان وګټي!

# اې د جرمني فوټبال ملي ټیمه، نارینه‌توب وښیه!

په ۱۹۵۴ کال کې د فوټبال نړیوال جام په سویس کې ترسره شو. د ایرلنډ شپږو مشهورو لوبغاړو په دغه سیالیو کې له ګډون څخه انکار وکړ؛ ځکه د دوی د ملي لوبډلې دوه لوبې د یکشنبې په ورځ ټاکل شوې وې، او یکشنبه مغه ورځ وه چې دوی به پکې د عبادت لپاره کلیسا ته تلل.

ketabton.com - The Digital Library

دغو شپږو لوبغاړو دا غوره وګڼله چې په ایرلنډ کې پاتې شي او د «ستر بلفاسټ» په کلیسا کې د یکشنبې په عبادت کې ګډون وکړي!

د لوبغاړو دا پرېکړه وروسته له هغې وشوه چې د فوټبال نړیوال فدراسیون (FIFA) د دواړو لوبو د وخت له بدلولو څخه انکار وکړ، څو لوبې د یکشنبې پر ځای په بله ورځ ترسره شي.

د یادونې وړ ده چې د ایرلنډ ملي لوبډلې په دغو دواړو لوبو کې ماتې ونه خوړه؛ دواړه لوبې مساوي پای ته ورسېدې، او لوبغاړو هم خپل عبادت له لاسه ورنه کړ!

هغه مهال هېچا دغو لوبغاړو ته افراطي ونه ویل؛ بلکې برعکس، ټولو یې ستاینه وکړه؛ ځکه په اروپا کې لا هم د فطرت د پاکوالي څه نښې پاتې وې!

د دې نړۍ له اروپا سره ستونزه دا ده چې غواړي خلک د خپل فکر او لیدلوري تابع کړي، او هر څوک چې ورسره مخالفت وکړي، هغه وروسته پاتې، زوړپالی او بې‌تمدنه بولي!

یوازې څلوېښت کاله وړاندې په اروپا کې همجنس‌پالنه یو جرم و چې قانون به یې سزا ورکوله، او ټوله نړۍ باید همدا نظر منلی وای. خو نن ورځ هلته خبره سرچپه شوې ده؛ اوس د دې موضوع مخالفت جرم ګڼل کېږي، او د دوی په اند، ټول خلک باید خپل نظرونه بدل کړي، ځکه اروپا خپل نظر بدل کړی دی!

موږ ټولو د جرمني د ملي لوبډلې هغه انځور لیدلی چې د جاپان پر وړاندې یې د لومړۍ لوبې پر مهال اخیستل شوی و. لوبغاړو خپل لاسونه پر خولو ایښي وو، څو د هغو محدودیتونو پر ضد اعتراض وکړي چې د همجنس‌پالنې د ملاتړ مخه یې نیوله؛ د داسې ملاتړ په اړه چې تر نږدې تېر وخت پورې به یې په هېواد کې خلک زندان ته لېږل کېدل!

ستونزه دا ده چې دوی د بیان د آزادۍ په اړه نورو ته ویناوې کوي؛ خو ته یوازې هلته د هولوکاسټ د قربانیانو په شمېر کې شک څرګند کړه، تر څو زندان ته دې واچوي!

د دوی په نظر، یوازې انکار جرم نه دی، بلکې د شمېر په اړه بحث کول هم ستونزه جوړوي!

کله چې «مسعود اوزیل» د روهینګیا د مسلمانانو د مسئلې په اړه خپل نظر څرګند کړ، نو رسنیو پرې سخت بریدونه پیل کړل. دا رسنیزه جګړه په پای کې د دې لامل شوه چې هغه له نړیوالو سیالیو څخه تقاعد اعلان کړي.

هغه خپله مشهوره خبره هم وکړه:

**«کله چې موږ ګټو، زه جرمنی یم؛ خو کله چې بایلو، زه یو ترکي کډوال یم!»**

له هغو شیانو څخه چې زه یې نه شم درک کولای، یو دا دی چې دوی ولې د همجنس‌پالنې او فوټبال ترمنځ د اړیکې جوړولو هڅه کوي!

او دا هم نه شم درک کولای چې ولې یو انسان باید د بېلابېلو رنګونو دفاع وکړي، په داسې حال کې چې نړیوال جام د خپل وطن د رنګونو د دفاع لپاره جوړ شوی دی؛ یوازې د وطن د رنګونو لپاره!

او بیا، د منطق له مخې، هغه څوک چې د خپل بدن د شا برخې ساتنه نه شي کولای، نو طبیعي ده چې د شپږ متره پلن ګول د ساتنې لپاره هم د باور وړ نه وي!

ketabton.com - The Digital Library

# د فوټبال بې‌ساری مدیریت!

د فوټبال د یوه داسې لوبغاړي په مشرۍ، چې په تاریخ کې یې لږ سیالان موندل کېږي او نوم یې سقراط و، او د خلکو په منځ کې یې ډېر محبوبیت درلود، د برازیل د «کورینتیانس» (Corinthians) لوبـډلې لوبغـاړو د خپلې کلب ادارې د فساد پر ضد پاڅون وکړ او د کلب دفتر ته ننوتل!

دا په فوټبال کې یوه عجیبه او ناآشنا پېښه وه؛ لوبغاړو پرېکړه وکړه چې هر څه به په خپل منځ کې د بحث او رایې اچونې له لارې ټاکي!

مغوی د کلب د کاري بهیر، د روزونکي د ټاکلو، د لوبغالي د ښه کولو، د مېنه‌والو د لېږد لپاره د بسونو د برابرولو او ان د اضافي پیسو د وېش په اړه بحثونه وکړل، څو مغه پیسې د ښار له سیمه‌ییزې ټولنې سره شریکې کړي!

د دوو کلونو له تېرېدو وروسته، مغه چارواکي چې له کلب څخه لرې کړل شوي وو، د قانون له لارې بېرته پر کلب واکمن شول!

دغو دوو کلونو په ترڅ کې لوبډلې د کلب په تاریخ کې تر ټولو ښکلې او زړوره فوټبال نندارې ته وړاندې کړه او د برازیل اتلولي یې دوه ځله پرله‌پسې وګټله!

د نن ورځې فوټبال د ګڼو شیانو ګډوله ده؛ ورزش، سیاست، رسنۍ، هنر، طب، پیسې، نفوذ او شهرت. هر څومره چې په دې ګډوله کې د یوه عنصر ونډه زیاته شي، د بل عنصر ونډه کمېږي.

ښايي د فوټبال نړیوال جام د تاریخ په اوږدو کې تر ټولو مغه سیالي وي چې د فوټبال له اصلي ښکلا او هنر څخه تر ټولو ډېره برخمنه وه!

زما په اند، د دې لامل دا دی چې لوبغاړي له خپلو کلبونو سره د وفادارۍ په پرتله له خپلو هېوادونو سره ډېره وفاداري لري!

دا خبره طبیعي او د درک وړ ده. موږ ټولو په تېرو څو اوونیو کې دا حالت ولید، کله چې مو د ډېرو لوبغاړو محتاطانه لوبه ولیده؛ ځکه مغوی وېرېدل چې ټپي نه شي او د خپل ملي ټیم له لیکو څخه پاتې نه شي!

لوبغاړي شتمن دي او په ملي لوبډله کې ګډون کول به د مغوی شتمنۍ د پام وړ زیاته نه کړي. همدارنګه، هر څومره چې شهرت ډېر شي، بیا هم د ملي لوبډلې لپاره د لوبېدو ځای نه شي نیولای!

دلته د وطن‌پالنې یو پټ احساس شته چې موږ ټول یې مغه مهال وینو، کله چې خبره د ملي لوبډلو وي!

اوس بېرته خپلې لومړنۍ خبرې ته راګرځم:

زما په اند، هره بریالۍ اداره، په هره برخه کې چې وي، باید مغه کسان هم په مدیریت کې شریک کړي چې تر ټولو ډېر ورسره تړاو لري!

ته نه شې کولای د لوبې قوانین د لوبغاړو له نظرونو پرته ښه کړې؛ او نه شې کولای د یوه کلب په کاري پلان کې بدلونونه راولې، پرته له دې چې د کلب له غړو سره مشوره وکړې!

د لسیزو په اوږدو کې د ښوونې او روزنې سیاستونه ځکه ناکام شوي چې ډېری روزنیزو کارپوهانو هېڅکله په ټولګي کې تدریس نه و کړی!

همدارنګه، د پرمختیا په حال کې هېوادونو ستونزې به د پرمختللو هېوادونو استازو څېړلې او په اړه به یې پرېکړې کولې!

ketabton.com - The Digital Library

په ساده ژبه، ته نه شې کولای په یوه پنځه ستوریز رستورانت کې د لوړې د له منځه وړلو لپاره پلان جوړ کړې، مګر دا چې لږ تر لږه یو وړی انسان راوبلې او نظر یې واورې!

زما په اند ـ چې البته سم دی! ـ فوټبال به ډېر ښکلی وای، که لوبغاړي د خپلو کلبونو په مدیریت کې هم شریک وای.

**هغه څوک چې خلکو ته خوند او خوښي وربښي، باید د هغو شرایطو په جوړولو کې هم ونډه ولري چې دا خوښي ترې زېږي.**

خیاط ستا د بدن د اندازو په اخیستلو سره ستا د بدن نظر په پام کې نیسي؛ د دې بله لاره نشته چې جامې دې دربانديې ښکلې او مناسبې ښکاره شي.

خو که څوک دې دې ته اړ کړي چې داسې جامې واغوندې چې ستا د بدن له اندازو سره برابرې نه وي، نو بې‌شکه چې ستا ښکلا او ظاهري جذابیت به کم کړي!

# له لوبغالي تر پوهنتونه لېونتوب!

هیڅوک نه پوهېږي، ان خپله د اروپا اوسېدونکي هم نه، چې چا د همجنس‌پالنې موضوع د اروپايي سیاستوالو، رسنیو او فرهنګي روڼاندو تر ټولو مهمه مسئله وګرځوله!

د دې موضوع د خپرولو لپاره دا لېونۍ هڅه او په دفاع کې یې دا بې‌ساري ټینګار، هر هغه چا ته چې له بلې سیارې څخه دې نړۍ ته راشي، داسې انګېرنه ورکوي چې ګواکې د ځمکې ټولې ستونزې حل شوې دي؛ لکه جګړې چې پای ته رسېدلې وي، فقر چې له منځه تللی وي، نژادي تبعیض چې د تېر وخت کیسه ګرځېدلې وي، د ځمکې د تودوخې زیاتوالی چې د تاریخ برخه شوی وي او د اوزون د طبقې سوری چې ګنډل شوی وي!

خو له دې ټولو څخه هېڅ هم نه دي پېښ شوي. نو الحمدلله چې ځمکه یوازینۍ مېشته سیاره ده، کنه د ټولې کهکشان په کچه به د خندا او ملنډو موضوع ګرځېدلې وو!

د جرمني د کورنیو چارو وزیرې «نانسي فېزر» په ډېرې بې‌شرمۍ د همجنس‌پالانو نښان پر خپل مټ وتاړه؛ هغه ښځه چې په خپل هېواد کې د قانون د پلي کولو مسؤلیت لري، خو د بل هېواد قوانین تر پښو لاندې کوي!

د هغې پر پله د بلجیم د بهرنیو چارو وزیرې «سوفي ویلمېس» هم قدم کېښود؛ هغه ښځه چې د لوړې کچې ډیپلوماسۍ د څرګندولو مسؤلیت لري، خو خپله ډیپلوماسي یې پرېښوده!

په همدې لحن د انګلستان د ورزش وزیر «سټوارټ اندریو» هم غبر پورته کړ، چې خپله هم همجنس‌پال دی!

خو پرېږده، دا خو د فکر او عقیدې مسئلې دي؛ لکه څنګه چې مالونه د الله تعالی له لوري وېشل شوې روزۍ دي، همداسې عقلونه هم دي!

خو کله چې دا لېونتوب د فوټبال له لوبغالو څخه واوړي او پوهنتونونو ته ورسېږي، نو دا بیا داسې خبره ده چې انسان دې د علم او عالمانو پر روح یوه شبېه د حیرانتیا لپاره چوپ پاتې شي!

په ټولنیزو رسنیو کې د برېتانیا د کمبریج پوهنتون د یوه محصل د څېړنې په اړه پراخ بحثونه راپورته شول. نوموړي په خپله څېړنه کې ادعا کړې وه چې مسیح علیه السلام جنسیت بدل کړی و!

د پوهنځي رئیس د دغه محصل دفاع کوي او ټینګار کوي چې د هغه په نظر کې منطق شته!

ketabton.com - The Digital Library

لېونتوب دی، په الله قسم چې لېونتوب دی! د دې ډول بې‌معنا خبرو د بیانولو لپاره بلـه کلمـه نـه شـم مونـدلای. ان د «لېونتوب» کلمه هم د دې سپکوالي د بیانولو لپاره بسنه نه کوي؛ خو انسان به څه وکړي، کله چې د بیان لپاره یې الفاظ تنګ شي؟

په هر صورت، دوه شیان د حیرانتیا وړ دي:

**لومړی: پر الله تعالی د خلکو د بې‌پروا جرئت اندازه!**

**دویم: پر خلکو د الله تعالی د زغم او حلم اندازه!**

# هغه ګول‌ساتونکی چې رخصتي ته ولاړ!

د ۱۹۳۸ کال د فوټبال نړیوال جام په فرانسه کې ترسره شو. د اتو غوره لوبډلو پړاو ته تر رسېدو مخکې، د کیوبا او رومانیا ملي لوبډلو ترمنځ لوبه درې پر درې مساوي شوه. له همدې امله اړینه وه چې څلور ورځې وروسته لوبه بیا ترسره شي؛ ځکه هغه مهال فیفا لا د اضافي وخت او د مساوي پایلې د دوام په صورت کې د پینالټیو د وهلو پرېکړه نه وه کړې!

د بیاځلي لوبې پر مهال د کیوبا د ملي لوبډلې ګول‌ساتونکي، «بنیټو کارباخالیس»، له خپل روزونکي وغوښتل چې د ده پر ځای دې احتیاطي ګول‌ساتونکی «خوان ایرا» ولوبوي؛ ځکه دی اړ و چې د یوې مخکښې راډیو لپاره د ژورنالیست په توګه د لوبې تبصره وکړي!

همداسې وشول؛ کارباخالیس د لوبې تبصره کوله او ایرا د کیوبا د لوبډلې د ګول ساتنه کوله. کیوبا دوه پر یوه بریا ترلاسه کړه!

خو د سویډن پر وړاندې په نیمه پایلوبه کې کارباخالیس بېرته د کیوبا د لوبډلې د ګول ساتنې ته راستون شو؛ ځکه هغه ورځ راډیو رخصت وه!

کیوبا په دې لوبه کې اته ګولونه وخوړل. نو د کیوبا مینه‌والو هغه تاریخي پوښتنه راپورته کړه:

**«ولې په تبصره‌ځای کې پاتې نه شوې؟!»**

زما په اند ـ او البته، زما نظر سم دی! ـ د دې پایلې مسؤلیت د ګول‌ساتونکي نه، بلکې د روزونکي پر غاړه دی.

هغه څوک چې خپله شخصي ګټه د خپل وطن پر ګټه غوره ګڼي، د دې وړ نه دی چې د وطن د ګول ساتنه وکړي!

خبره دومره ساده ده؛ نه کوم پېچلتیا پکې شته او نه فلسفې ته اړتیا!

خو باید ومنو چې د دې سیارې ډېر اوسېدونکي ـ چې څو اوونۍ مخکې یې شمېر له اتو میلیاردو واوښت ـ د وزګارتیا پر بنسټ ژوند کوي!

ان ځینې یې داسې تمه لري چې د دوی ځای به د دوی تر بېرته راتګ پورې تش پاتې وي. او که څوک یې پر ځای بل څوک وټاکي، نو بیا به هغه کسان بې‌وفا بولي!

حال دا چې دا ډول تور د دوی له همدې وزګارانه چلند سره په ټکر کې دی.

که له دوی څخه هر یوه د یوې شېبې لپاره فکر کړی وای ـ البته، د وزګارتیا په یوه شېبه کې! ـ نو پوه شوی به وای چې په دې نړۍ کې هېڅ داسې انسان نشته چې ځای یې بل څوک نه شي نیولای او له هغه څخه بې‌نیازه کېدل ناشوني وي.

ketabton.com - The Digital Library

هغه څه چې ترې بې‌نیازه کېدل ناشوني وي، بدیل ورته موندل کېدای شي؛ او هغه څه چې بدیل ورتـه نـه شـي مونـدل کېدای، له هغه پرته هم ژوند ته دوام ورکول کېدای شي.

ځکه انسانان هم د فرصتونو په څېر دي؛ **هېڅوک د تل لپاره د لاسرسي وړ نه پاتې کېږي!**

ښایي څوک وپوښتي:

**«هغه ګول‌ساتونکی چې رخصتي ته تللی و، له وزګارتیا سره څه اړیکه لري؟»**

ځواب یې ـ د الله په مرسته ـ دا دی:

**هېڅ اړیکه نه لري؛ ما یوازې د وزګارتیا له مخې د دوی ترمنځ اړیکه جوړه کړې ده!**

# هغه اوښکه چې نړیوال جام یې راوړ!

رسمي اسناد وایي چې د هغه نوم «اېډیسون آرانتیس دو ناسیمنتو» دی؛

خو د فوټبال لوبغالي وایي چې نوم یې «پېلې» دی!

هغه چې په «تور الماس» مشهور دی، او د ځینو په باور د فوټبال په تاریخ کې تر ټولو غوره لوبغاړی دی!

کله چې برازیل د نړیوال جام کوربه‌توب کاوه، هغه اته کلن و. دی له فوټبال سره چندان مینه‌وال نه و، ان د برازیل او یوروګوای ترمنځ وروستی لوبه یې هم ونه لیده!

کله چې کور ته راستون شو، ویې لیدل چې پلار یې په ډېرې ترخې ژړا بوخت دی. نو پوه شو چې یوروګوای اتلولي ګټلې ده!

هغه په طفلانه معصومیت خپل پلار ته ورنږدې شو، اوښکې یې ترې پاکې کړې او د یوه نارینه په څېر یې ژمنه ورسره وکړه:

**«یوه ورځ به دا جام درته راوړم!»**

پېلې خپله ژمنه یوازې یو ځل پوره نه کړه، بلکې درې ځله یې پوره کړه!

هغه په ۱۹۵۸، ۱۹۶۲ او ۱۹۷۰ کلونو کې د نړیوال جام اتلولي وګټله!

په تاریخ کې یوازې همده دا لاسته راوړنه لري، او داسې ښکاري چې ښایي همداسې یوازینی پاتې شي!

پېلې خوب لیده چې یوه ورځ به پیلوټ شي، خو د پلار یوې اوښکې هغه افسانوي شخصیت ترې جوړ کړ چې نن یې موږ پېژنو!

د انسانانو په ژوند کې داسې مهمې شېبې شته چې له هغو وروسته ژوند بېرته د پخوا په څېر نه پاتې کېږي. او د دې بدلون لپاره له غم او د زړه له ماتېدو څخه پیاوړې بل څه نشته!

یو ځل یوه لوستونکي راته پیغام راولېږه او په عامیانه ژبه یې یوه ښکلې خبره کړې وه. زه یې دلته په فصیحې ژبې داسې بیا لیکم ـ البته، زما په اند:

«یوه ورځ مې ژړل، نو محبوبې مې په غېږ کې ونیولم؛ خو له هغې وروسته هغه کار ته ولاړه چې ما یې له امله ژړلي وو!

ketabton.com - The Digital Library

هماغه مهال پوه شوم چې انسان د نورو په نظر کې هغه وخت ارزښت له لاسه ورکوي چې لومړی يې په خپله د ځان ارزښت له لاسه ورکړی وي.

نو پرېکړه مې وکړه چې له دې وروسته به هېڅکله خپل ځان بېارزښته نه ګڼم. دا غوره ده چې په خپل عزت يـوازې واوسم، تر دې چې له هغې سره واوسم او د خواخوږۍ وړ وګرځم!

هغه اوښکه چې ما توی کړې وه، د يوې شېبې په څېر وه؛ له خوبه يې راويښ کړم او دې پوښتنې ته يې اړ کړم:

**ايا دا رښتيا هم زه يم؟!**

اوس چې بېرته روغ شوی يم، پوه شوی يم چې اصلي ځواک په پرېښودلو کې دی، نه په ټينګ نيولو کې!

ما قسم وخوړ چې له نن څخه وروسته به خپل ژوند داسې تېروم چې هېڅکله به د خپل ځان په وړاندې خپل ارزښت له لاسه نه ورکوم.

خو هغې ته لا هم مينه لرم او مينه به ورسره لرم؛ مګر که پر ټوله ځمکه يوازې همدا يوه ښځه پاتې شي، بيا يې هم نه غواړم!»

**او زه وايم:**

د خوښۍ شېبې د کافيخانو په څېر دي؛ ښکلی ځای دی، د دنيا له شور او د ژوند له مسؤليتونو څخه لنډه رخصتي ده، خو انسان ته ډېر څه نه ورزده کوي!

خو د غم او د زړه د ماتېدو شېبې د ښوونځيو په څېر دي؛ داسې ځايونه چې انسان ترې خوند نه اخلي، له عادي ژوند څخه يې راباشي او پر يوه څوکۍ يې کېنوي؛ خو د زده کړې لپاره تر ټولو غوره ځايونه دي!

**نو پام کوئ، هېڅکله اجازه مه ورکوئ چې زړونه مو دوه ځله مات شي!**

# د نړيوال جام تر ټولو ښکلی ګول!

د «مانويل البا اوليواريس» وروستی شی چې له دې نړۍ څخه يې ولېد، هغه د ۱۹۸۶ کال د نړيوال جام په سياليو کې د مارادونا ګول و، چې د انګلستان پر وړاندې يې وواهه!

له دې ګول وروسته سمدستي، په يوه کافيخانه کې د همدې ګول د لمانځلو پر مهال، يو ګلدان د مانويل پر سر راولوېد او هغه ړوند شو. هغه مهال يې عمر يوازې يوولس کاله و!

په ۲۰۰۲ کال کې د شلمې پېړۍ د تر ټولو ښکلي ګول د ټاکلو لپاره يوه ټولپوښتنه وشوه. البته، د مارادونا هماغه ګول ګټونکی شو، او دا يوه پر ځای بريا وه؛ ځکه مارادونا په هغه ورځ د انګلستان ټول لوبغاړي په ډريبل تېر کړل او بيا يې توپ د ګول په جال کې ځای پر ځای کړ!

ډېرو خلکو د دې ګول په اړه خبرې وکړې، ستاينه يې وکړه او تحليل يې کړ؛ خو مانويل به د دې ګول په اړه خبرې کولې او کيسه به يې داسې بيانوله چې تر ټولو اغېزمنه وه. دا د نړۍ وروستی انځور و چې د هغه په حافظه کې ثبت شوی و!

په مناسبت بايد ووايم ـ او ځينې مناسبتونه رښتيا هم د يادولو وړ وي ـ چې مانويل د حقوقو زده کړې وکړې، په کولمبيا کې يې د فوټبال يوه لوبډله جوړه کړه او برياله روزونکی شو. نن هغه اووه څلوېښت کلن دی، او د مارادونا د ګول انځور لا هم په خپله حافظه کې هماغسې روغ او ژوندی ساتي!

ketabton.com - The Digital Library

په دې نړۍ کې ځينې صحنې داسې وې چې د تل لپاره د انسان په حافظه کې نقش کېږي. انسان که له هغې وروسته هر څومره نورې صحنې ويني، بيا هم هغه پخوانۍ صحنه داسې پاتې کېږي لکه هماغه چې د ده د سترګو وروستی ليدلی انځور وي؛ ان تر دې چې انسان پکې بند پاتې شي!

په ۲۰۰۳ کال کې زما انا، الله دې پرې ورحمېږي، وفات شوه.

کله چې يې غسل ورکړ او کفن يې ور واغوست، موږ د وروستي مخه ښې لپاره ورغلو. هغه په ډېرې ارامۍ ويده وه؛ په سپين کفن کې داسې ښکارېده لکه ناوې چې د واده لپاره چمتو شوې وي!

په هغه ورځ ټولو ژړل، خو ما نه ژړل!

ما فکر کاوه چې که غبېره ورکړم، نو هغه به بېرته د پخوا په څېر راپورته شي؛ لکه به چې پخوا ويده وه او ما به غبېره ورکړه، نو راوېښه به شوه.

ما غبېره ورکړه، خو هغه راپورته نه شوه!

ما په کلکه ځان پورې ونښلوله. زما د وجود هرې برخې ورته ويل:

**«انا جانې! پاڅېږه!»**

خو هغه راپورته نه شوه!

او زه لا هم هماغلته ولاړ يم؛ هغې ته تېيټ شوی يم، دواړه لاسونه مې ترې تاو کړي دي، او بې له ژبې يې رابولم:

**«لاسونه دې را وغځوه، يو ځل بيا مې په غېږ کې ونيسه!»**

# مخکې له دې چې پرده راولوېږي... مننه!

نن شپه به په دوحه کې د فوټبال د نړيوال جام پر وروستۍ لوبه پرده راولوېږي، او د نړۍ د خلکو پر وړاندې به د اتل هويت څرګند شي. موږ به د ماتې خوړونکو اوښکې ووينو او پر ګټونکو به د اتلولۍ تاج اېښودل وګورو!

سبا سهار به د ګټونکو انځورونه د مجلو او ورځپاڼو پر مخونو خپاره وي، او له دې وروسته به ټول بېرته خپلو کورونو ته ستانه شي!

مخکې له دې چې دا غونډه پای ته ورسېږي او خلک تيت شي، غواړم د مننې يوه ډالۍ وړاندې کړم؛ بيا به زه هم له دوی سره يوځای بېرته خپلې ادبي ليکنې ته راوګرځم!

**۱.** د قطر مننه، چې د دې سياليو په تنظيم کې يې دومره په زړه پورې کار وکړ!

د قرآن کريم مننه، چې د پرانيستې په مراسمو کې يې غږ پورته شو؛ د اذان د هغه غږ مننه چې هېڅکله غلی نه شو؛ د هغې هويت مننه چې پرې وياړ وشو؛

او د هغه دين مننه چې د وياړ سرچينه پاتې شو.

د همجنسبازۍ پر وړاندې د درېدو او د انساني فطرت د دفاع مننه!

**۲.** د سعودي عربستان د ملي لوبډلې مننه، چې د سياليو په لومړۍ لوبه کې يې داسې کار وکړ!

که نن شپه ارجنټاين اتلولي وګټي، نو تاسو خو تر دې وړاندې ارجنټاين ته ماتې ورکړې ده!

ketabton.com - The Digital Library

دا څومره ښه ده چې پوه شو موږ ناممکن کارونه هم ترسره کولای شو؛ خو باید دا هم درک کړو چې بریا یوه اوږده لاره ده، یوازې لومړی ګام نه دی!

**۳.** د تونس د ملي لوبډلې مننه، چې د سیالیو په وروستۍ لوبه کې یې داسې وځلېده!

که نن شپه فرانسه اتلولي وګټي، نو تاسو خو تر دې وړاندې فرانسې ته ماتې ورکړې ده!

موږ وړتیا لرو، خو په راتلونکو سیالیو کې باید دا زده کړو چې پیل ډېر مهم دی؛ ځکه که پیل له خنډونو سره مل وي، ښایي د پای ښکلا هم زیانمنه کړي!

**۴.** د مراکش د ملي لوبډلې مننه! تاسو تاریخ ولیکه!

هغه څه چې تاسو ترسره کړل، ریښتیا هم یوه معجزه وه. تاسو تر هغه ډېر څه وکړل چې موږ یې تمه درلوده، او بیا مو موږ ته داسې خوبونه راکړل چې تر تمې هم لوړ وو.

هو، په پای کې دا یوازې یوه لوبه ده؛ خو موږ د بریا لپاره ډېر تږي وو!

**۵.** د هغو انځورونو مننه چې د میندو درناوی او د پلرونو نېکي یې را وښوده!

دا ډېر تود او زړه‌راښکونکی احساس چې تاسو نړۍ ته وښودله: د کورنۍ لرل څه معنا لري، او هغه څوک چې په خپل اصل او نسب شرمېږي، په حقیقت کې اصل نه لري!

**۶.** د فلسطین مننه، چې تل حاضر و؛ په واټونو کې، د لوبغالو په نندارچیانو کې، او د لوبغاړو د هغو جشنونو په ترڅ کې چې د لوبغالي پر میدان یې ترسره کول.

دا امت د خپل پیغمبر صلی الله علیه وسلم د معراج له ځای، بیت‌المقدس، سره ژوره مینه لري او ورته لېواله دی!

**۷.** د ټولو هغو کسانو مننه چې له صهیونیستي ټلوېزیوني چینلونو سره یې له مرکې کولو ډډه وکړه!

تاسو هغوی داسې پرېښودل لکه رټل شوي خلک، او له هغوی څخه مو داسې ځانونه لرې وساتل لکه له هغه چا څخه چې په جرب اخته وي!

**۸.** د هغو کسانو مننه چې د ژوندۍ خپرونې پر مهال یې هغوی سخت وشرمول او حقیقت یې ورته بیا په غوږونو کې ورواوراوه:

**فلسطین پخوا هم فلسطین نومېده، او تل به فلسطین نومېږي!**

**۹.** د هغو خوږو شعارونو مننه چې زموږ زړونه یې ولړزول، مخکې له دې چې د لوبغالي فضا ولړزوي!

دا جمله څومره ښکلې ده، کله چې زرګونه ستوني یې په ګډه زمزمه کوي:

**«لا إله إلا الله، محمد رسول الله»** ژباړه: «له الله پرته بل د عبادت وړ معبود نشته، محمد صلی الله علیه وسلم د الله رسول دی.»

**۱۰.** د یوه امت د یووالي د احساس مننه!

موږ ټولو د قطر په غوره تنظیم ویاړ وکړ؛ د سعودي عربستان ملاتړ مو وکړ؛ د تونس لوبډلې ته مو چکچکې وکړې؛ او د مراکش په بریاوو مو خپل سرونه هسک کړل.

د هغه احساس مننه چې موږ ته یې وښودله: **هغه څه چې موږ سره یوځای کوي، تر هغو شیانو ډېر دي چې موږ سره بېلوي!**

ketabton.com - The Digital Library

یوه ورځ به راشي چې موږ به له طنجه څخه تر مکې پورې سفر وکړو، په لاره کې به بغداد ته ورواوړو، له دمشق څخه به تېر شو، له قاهرې سره به روغبړ وکړو، او په بیت‌المقدس کې به لمونځ وکړو!

# مننه، غزې!

**۱.** مننه، غزې! ځکه تا هغه پوځ ذلیل کړ چې موږ ته یې په اړه ویل کېدل چې ماتې نه خوري! تا د هغه وېـرې بت را ونړاوه چې هغوی زموږ په زړونو کې په ډېر مهارت تراشلی و. نو موږ ولیدل چې دا پوځ د کاغذ پړانګ دی؛ وژل کېږي او اسیران ترې نیول کېږي!

**۲.** ستا د عزتمنو لیواوو مننه! تاسو موږ ته د لومړنیو اتلانو ویاړونه بېرته را ژوندي کړل.

له هغو لږو مؤمنانو مننه چې موږ ته یې د بدر غزا را په یاد کړه؛ د ټپونو او کړاوونو باوجود د جګړې لپاره د راوتلو له امله مو د حمراءالاسد غزا را یاده کړه؛ له نږدې واټن څخه د جګړې له امله مو د یمامې جګړه را یاده کړه؛ د شهادت له امله مو په یرموک کې د عکرمه د مرګ تر پایه د مبارزې بیعت را یاد کړ؛ او د ټینګښت له امله مو د قادسیې په جګړه کې د صحابه‌وو استقامت را یاد کړ!

**۳.** مننه، غزې! ځکه ته موږ ته د انفال سورت په خپله طریقه را تشریح کوې. موږ پوه شوو چې د آیتونو تلاوت یو شی دی او پر هغو عمل کول بل شی!

**۴.** ستا د ماشومانو مننه! موږ تر نن ورځې پورې نه پوهېدو چې کوچنیان هم له خپل عمر څخه مخکې د پوره سړیتوب مقام ته رسېدای شي، او دا چې توره په اور کې کلکېږي او صیقل کېږي.

تاسو خپل ماشومان په کومه طریقه وروزل چې موږ یې په وړاندې ځانونه دومره کوچني احساسوو!

**۵.** ستا د ښځو مننه! هغوی موږ ته د اُمِّ عمارې اتلولۍ، د رُفیدې هڅې او د خنساء قربانۍ بېرته را یادې کړې؛ هغې چې خپل زامن یې خاورو ته سپارل او له الله تعالی څخه یې غوښتل چې د هغې قرباني قبوله کړي!

**۶.** ستا د سپین‌ږیرو ښځو مننه! هغوی د عقیدې اوږده کتابونه په هغو ویډیویي کلیپونو کې را تشریح کړل چې تر یـوې دقیقې هم کم وخت نیسي.

څومره ښکلې حالت دی، کله چې عقیده له کاغذ پر مخ لیکل شوو تورو څخه واوړي او په رګونو کې په بهېدونکې وینه بدله شي!

او ستا د سپین‌ږیرو سړیو هم مننه! هغوی خپل زامن او لمسیان خاورو ته سپاري، خو جنازې یې نـه مـاتوي او د خپلـو عزیزانو ټوټې ټوټې جسدونه یې له خپلې لارې نه شي اړولای.

د هغوی د حال ژبه، چې تر خبرو یې لا پیاوړې ده، داسې وایي:

**«اې الله! زموږ له وینو څخه دومره واخله، څو ته راضي شې!»**

**۷.** ستا د هغو کورنیو مننه چې ټولې جنت ته ولاړې! هلته هېڅوک پر بل چا ونه ژړل او هېڅوک د بل چا په بېلتون یوازې پاتې نه شول؛ ځکه الله تعالی دا نه مني، مګر دا چې خپل مینه‌وال ډلې ډلې جنت ته داخل کړي!

**۸.** ستا د ډاکټرانو او نرسانو مننه! د هغوی د خپلو عزیزانو جسدونه به ورته راوړل شول، خو دې کار به یې د خلکو د ټپونو له درملنې څخه پام نه اړاوه!

**۹.** د هغو سترو پلرونو او د خنساء په څېر زړورو میندو مننه، چې د لیواوو د ځانګړو ځواکونو اتلان یې وروزل!

ketabton.com - The Digital Library

څومره لوی ویاړ دی چې یو انسان اتل وروزي او بیا د خپلې روزنې مېوه په خپلو سترګو ووینې!

د مغوی د مېرمنو هم مننه! تاسو د مغوی د شا ساتونکې او شاته ملاتړ کوونکې کرښې وې. مغوی به څنګه په لـومړۍ کرښه کې جنګېدل، که ستاسو په څېر اتلې ښځې د ملاتړ او مرستې لپاره نه وای ولاړې؟

پر الله قسم، دا صحنه داسې ده لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم چې له غار څخه راکوز شو او خدیجې رضي الله عنها ته ورغی؛ د دنیا ټولې سختۍ د یوې مینې ناکې مېرمنې د غېږې په وړاندې سپکېږي!

**۱۰.** د مغو رښتینو سړیو مننه چې دا صحنه یې رامنځته کړه!

د ابو خالد مننه چې لیواوې یې چمتو کړې؛ د ابو البراء مننه چې سپرلۍ یې برابرې کړې؛ او د ابو ابراهیم مننه چې شنې پټۍ یې وتړلې!

د ابو العبد، ابو الولید، ابو محمد او ابو اسامه مننه، چې په سیاشي هوښیارۍ او تدبیر کې یې ونډه لرله!

د نقاب‌پوش ویاند مننه، چې غږ یې د اور او باروتو په څېر دی!

د سعد مننه چې د توغندیو د توغولو پر دستګاه ولاړ دی؛ د حذیفه مننه چې د رازونو امین دی؛ د جعفر طیار مننه چې ناڅاپه له پاسه پر مغوی راښکاره کېږي؛ او د مغو بشري چونګښو مننه چې د سمندر له څپو سره د عسقلان ښار سهار ته رسوي!

د مخابراتو په برخه کې د پیغام رسوونکو کوترو مننه؛ او د پلي ځواکونو د زمریانو مننه، چې د دښمن د ځمکنیو ځواکونو د بې‌عقلانه اقدام په تمه وي، څو برید پیل کړي!

**د غزې ټولو خلکو! له تاسو ټولو مننه!**

زموږ پر وړاندې د الله تعالی له نعمتونو څخه یو نعمت دا دی چې تاسو زموږ په منځ کې یاست!

# پر ټکو د کرښو ایښودل!

## ۱. مغوی وایي: «خلکو په ارامه ژوند کاوه، خوراک او څښاک یې درلود؛ نو ایا دا هر څه ارزښت درلود؟!»

د حقیقت تحریفوونکي او د خلکو د ارادې کمزوري کوونکي وایي: خلکو په ارامه ژونـد کـاوه، خـوراک او څښـاک یې درلود؛ نو ایا دا هر څه ارزښت درلود؟!

دا تل د څارویو طبیعت وي چې یوازې د واښو او خوراک په فکر کې وي! مغوی په ارامه چاغېږي، څو په پای کې حلال شي. خو د «انساني کرامت» اصطلاح یوه انساني اصطلاح ده چې څارویو هېڅکله نه ده اورېدلې!

دا ډول خلک په هر ملت کې پیدا کېږي، حتی زموږ په خپل ملت کې هم، سره له دې چې موږ د همدې مبارزې خاوندان یو!

## ۲. مغوی وایي: «د دومره ډېرو قربانیانو په اړه څه وایئ؟»

لومړی: د لیکوال په باور، دا د الله په اجازه شهیدان دي، نه قربانیان!

دویم: پر عقیده او اصولو ټینګ پاتې کېدل عبادت دی، سوداګري نه ده چې د مغې بیه دې له کوم شي سره پرتله شي!

ketabton.com - The Digital Library

د خندق د اور په پېښه کې ټول مؤمنان وسوځول شول، خو الله تعالی دا یوه ستره بریا وبلله!

سمیه رضي الله عنها هم ابو جهل په نېزه ووهله، په داسې حال کې چې هغه پر ځمکه تړل شوې وه؛ خو له دې ټولو سره سره، هغه د اسلام لومړۍ شهیده وه!

### ۳. هغوی وايي: «ايا د دغو ټوټه ټوټه جسدونو پر حال مو زړه نه خوږېږي؟»

هو، پر الله قسم! زموږ زړونه د درد له امله ټوټې ټوټې کېږي، خو هغوی اشغالګرو وژلي دي، نه مقاومت!

رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپل تره حمزه بن عبدالمطلب رضي الله عنه پر شهادت وژړل، او د مصعب بن عمیر رضي الله عنه د جسد لیدل، چې دواړه لاسونه یې پرې شوي وو، سخت غمجن کړ.

خو هغوی قریشو وژلي وو، نه رسول الله صلی الله علیه وسلم، سره له دې چې هغوی رسول الله د جګړې ډګر ته بیولي وو!

### ۴. هغوی وايي: «ايا د دې ټولو ویجاړیو په لیدلو خوشحاله یاست؟ تاسې د یوه کور د جوړولو فکر کوئ، خو موږ د یوه وطن او دولت د جوړولو فکر کوو!»

کورونه اشغالګرو وران کړي دي، نه مقاومت!

په جاپان کې هېڅوک نه وايي چې هیروشیما او ناګاساکي د جاپان پوځ وران کړي، ځکه چې جاپان جګړه پیل کړې وه. ټول پوهېږي چې دا ښارونه امریکا وران کړي دي!

حال دا چې هلته جګړه د اقتصاد او د نفوذ د سیمو پر سر وه، خو زموږ جګړه د عقیدې او موجودیت جګړه ده!

### ۵. هغوی وايي: «د مقاومت مشران له غزې بهر دي؛ ولې په جګړه کې ګډون نه کوي؟»

رسول الله صلی الله علیه وسلم هم د مسلمانانو په ټولو جګړو کې په خپله ګډون نه و کړی!

ابوبکر صدیق رضي الله عنه هم د مرتدینو پر ضد په خپله جګړې ته ونه ووت!

عمر بن الخطاب رضي الله عنه هم په مدینه منوره کې و، خو د هغه په خلافت کې اسلامي فتوحات پراخ شول!

د جګړې اتل یوازې هغه څوک نه دی چې په خپله جګړه کوي؛ بلکې اصلي اتل هغه دی چې د جګړې لپاره چمتووالی برابروي!

او که له غزې بهر خلکو مرسته نه وای کړې، نو د لیکوال په وینا، هغه کورنیټ توغندي به هم غزې ته نه وای رسېدلي چې د مرکاوا ټانکونه په دوو برخو وېشي!

### ۶. هغوی وايي: «که اشغالګر غزې ته ننوتل، بیا به څه کوئ؟»

لیکوال وايي: صهیونیستان دومره ډارن دي چې د موسی علیه السلام په زمانه کې هم غزې ته نه وو ننوتلي؛ نو تاسې فکر کوئ چې د نتانیاهو په زمانه کې به ننوځي؟!

**غزه تر هغوی لویه ده!**

ketabton.com - The Digital Library

### ۷. هغوی وایي: « لکه څنګه چې تاسې ادعا کوئ، بریا راتلونکې دي، نو د هغو کسانو څه ګناه ده چې همدا اوس وژل کېږي؟»

ټول خلک به د بریا شاهدان نه وي!

یاسر او سمیه رضي الله عنهما له هجرت څخه مخکې شهیدان شول، او حمزه او مصعب رضي الله عنهما د مکې له فتحې څخه مخکې شهیدان شول!

ځینې وینې باید د لارې د هوارولو لپاره تویې شي.

موږ د هڅې او کوښښ مسؤلیت لرو، نه د پایلو؛ د لارې د وهلو مسؤلیت لرو، نه د منزل ته رسېدو؛ د جګړې مسؤلیت لرو، نه د بریا!

خو بریا د الله تعالی وعده ده، چې د لیکوال په باور، خامخا به راځي.

او هر څوک چې په دې لاره کې مړ شي، بریالی دی، که څه هم منزل ته ونه رسېږي!

### ۸. هغوی وایي: «تاسې په ټولنیزو رسنیو کې یوازې خبرې کوئ او بل هېڅ کار نه کوئ!»

د حسان بن ثابت رضي الله عنه شعرونه هم خبرې وې، خو رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه شعرونه د غشو له ویشتلو سره تشبیه کړي وو!

که تاسې په خبرو کې له خبرو پرته بل څه نه وینئ، نو په تل‌ابیب کې له خلکو څخه د ابو عبیده د ویناوو په اړه پوښتنه وکړئ!

پر الله قسم، د هغه ویناوې د مقاومت د لښکرو د توغندیو له بریدونو څخه کمې اغېزناکې نه دي!

# غزې موږ ته څه را زده کړل!

**۱.** غزې موږ ته دا را زده کړل چې د امنیت شورا یوه ډله ده، نړیوال قانون یوازې پر کاغذ لیکل شوې رنګینه لیکنه ده، او د بشري حقونو منشور یوه ټوکه ده!

**۲.** غزې موږ ته دا را وښودله چې نړۍ یوه سترګه ړنده لري؛ خپله لیدونکې سترګه چېرته وغواړي، هلته اړوي او ړنده سترګه هم چېرته وغواړي، هلته اړوي. د غزې ماشومان د اوکراین د ماشومانو په څېر نه ګڼل کېږي!

هغوی اروپایان دي، خو موږ عربان یو!

**۳.** غزې موږ ته را وښودله چې حق په زور او ټینګار ترلاسه کېږي، نه په سوال او زارۍ. هېڅوک به درته را نه شي چې ووایي: ته ښه انسان یې، نو هغه څه به درکړم چې ته یې غواړې!

که څه غواړې، لاس ور وغځوه او د نړۍ له مخالفت سره سره یې ترلاسه کړه!

**۴.** غزې موږ ته را وښودله چې د فلسطین له سمندر څخه تر سینده د فلسطین ازادي ممکنه ده، او دا ځل چې څه پېښ شول، هغه د راتلونکو پېښو یوازې یوه کوچنۍ تمریني بېلګه وه!

**۵.** غزې موږ ته را وښودله چې څوک اراده ولري، هغه کولای شي خپل هدف ته ورسېږي. دا موضوع هېڅکله د امکاناتو موضوع نه وه، بلکې د ارادې موضوع وه.

ketabton.com - The Digital Library

چا به تصور کړی وای، ان یوازې تصور یې هم کړی وای، چې محاصره شوې غزه به وکولای شي خپله وسله جوړه کړي، په هغې جګړه وکړي او خپل دوستان تر خپلو دښمنانو هم زیات حیران کړي؟!

**۶.** غزې موږ ته را زده کړل چې د الله تعالی د نعمتونو قدر وکړو.

هلته د پاکو اوبو یوه غړپ په یوه خوب بدلېږي، تازه ډوډۍ یو لوی لاسته راوړنه ګڼل کېږي، او غسل کول داسې عیش او هوساینه ده لکه د مالدیف پر ساحلونو چې انسان اوږد وغځېږي!

یو ډېر کوچنی کور هم د دنیا له ماڼیو څخه ډېر ارزښت لري، تر هغه چې د اوسېدونکو پر سر یې چت نه وي نړېدلی!

**۷.** غزې موږ ته را وښودله چې د صحابه‌وو په څېر زړور انسانان لا هم زموږ په منځ کې ژوند کوي!

د خالد بن ولید رحمه الله لمسیان د دښمن په لیکو کې په زړورتیا ورننوځي؛ د سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه لمسیان په ډېر دقت غشي ولي؛ د عکرمه رضي الله عنه لمسیان لا هم پر مرګ د معاملې کولو ته چمتو دي؛ او د قعقاع رحمه الله د لمسیانو غږ لا هم د لښکر په منځ کې داسې انګازې کوي چې زړونه لړزوي!

موږ د هغوی غږ واورېد چې ویل یې:

**«د الله په نوم، چې تل برلاسی دی!»**

**۸.** غزې موږ ته را وښودله چې خنساء رضي الله عنها نه ده مړه شوې؛ بلکې د هغې په څېر لسګونه زره ښځې لا هم زموږ په منځ کې ژوند کوي.

هغوی خپل اولادونه د الله تعالی په لار کې وړاندې کوي، صبر کوي او د ثواب تمه له الله څخه لري. د هغوی د حال ژبه داسې ده:

**«اې الله! زموږ د اولادونو له وینو څخه دومره واخله چې ته پرې راضي شې!»**

**۹.** غزې موږ ته را وښودله چې کله ماشومان د ستونزو په غېږ کې لوییږي، نو له خپل عمر څخه مخکې غټېږي او تر خپلو همزولو مخکې د نارینه‌وو په څېر پخېږي.

دوی د خندق د هغه هلک په څېر دي چې وینې یې د مؤمنانو د یوې ډلې د ایمان د ژوندي پاتې کېدو لامل شوې؛ هغه مؤمنان چې ټول ژوندي په اور کې وسوځول شول، خو له خپل ایمان څخه وا نه وښتل.

دا دين وينې ژوندی ساتي او اوښکې یې مړاوی کوي؛ نو خپلې اوښکې پاکې کړئ او د سبا ورځې شهیدان وروزئ!

**۱۰.** غزې موږ ته را وښودله چې عقیده یوازې خبرې او لیکل شوي الفاظ نه دي، بلکې عملي ژوند دی!

موږ د هغوی په منځ کې داسې څوک ونه لیدل چې د الله تعالی پر پرېکړه یې اعتراض کړی وي. هغوی د خپلو عزیزانو ټوټې ټوټې جسدونه راټولوي او د خپل رب حمد او ثنا وايي.

په یوه لاس خپلې اوښکې پاکوي او په بل لاس د خپلو عزیزانو د جسدونو راټولولو ته دوام ورکوي.

**د هغوی عقیدې دومره محکمې دي چې اغېز یې د هغوی په ټولو کړنو او غږو کې څرګند شوی دی!**

## د خلکو ترمنځ مروت مه وژنئ!

په ۱۸۸۰ میلادي کال کې د تایلنډ ملکه په اوبو کې ډوبه او مړه شوه. کښتۍ یې چپه شوې وه، خو د هغې هېڅ ساتونکي جرئت ونه کړ چې د ژغورلو لپاره یې لاس ور اوږد کړي. ټولو ورته کتل، په داسې حال کې چې هغې د مرګ وروستۍ سلګۍ وهلې؛ ځکه قانون ویل چې ملکې ته لاس وروړل د اعدام سزا لري!

ketabton.com - The Digital Library

البته، زه د داسې قانون مخالف نه یم چې د یوه واکمن درناوی او حیثیت خوندي کوي، په دې شرط چې له معقول حد څخه تېر نه شي او د انساني ارزښتونو خلاف نه وي. زه د هغو قوانینو مخالف یم چې د خلکو ترمنځ مروت او انساني خواخوږي وژني!

که د یوه موټر چلوونکي پر لاروي موټر وخېژوي او وتښتي، ټپي انسان د سړک پر غاړه په وینو کې لت‌پت پرېږدي، او ته یې ووینې؛ ستا انساني اخلاق دې پرېنږدي چې هغه همداسې پرېږدې، نو په خپل موټر کې یې واخلې او نږدې روغتون ته یې روان کړې، خو هغه په لاره کې مړ شي؛ ایا ته ډاډه یې چې خلک به له تا سره داسې چلند ونه کړي، لکه تا چې پر موټر وهلی یې؟

که پولیس روغتون ته راشي، ته ورته پر الله قسمونه وخورې او د ټولو اسماني کتابونو په نوم قسم وکړې چې په دې پېښه کې ستا یوازینی رول دا و چې ته یو انسان وې او غوښتل دې بل انسان وژغورې؛ ایا فکر کوې چې هغوی به دې پرېږدي؟

د خلکو چلند همداسې دی! هغوی په خلکو کې مروت وژني. تا به مجازات کړي او د خپلې تېروتنې بیه به درنه واخلي. پایله به یې دا وي چې بل څوک به وروسته د سړک پر غاړه یو ټپي انسان ویني، خو بې له مرستې به ترې تېر شي؛ ځکه نه غواړي هغه څه ورسره وشي چې له تا سره شوي دي!

زموږ ډېر قوانین او د خلکو ډېر چلندونه د انسانانو ترمنځ مروت وژني!

هغه څوک چې له بل چا پیسې پور واخلي او وروسته پرېکړه وکړي چې پور به یې نه ورکوي او د بل حق به خوري، په حقیقت کې غواړي چې خلک نور یو بل ته د مرستې لاس ور ونه غځوي.

لکه د ولسي متل په څېر: «زه پخپله نه یم مړ شوی، خو د یوه مړي د مرګ نندارهٔ مې کړې ده!»

هغه څوک چې د واده لپاره د یوې نجلۍ د غوښتلو په نیت د هغې د کور دروازه ورټکوي، د نجلۍ کورنۍ ورسره ښه چلند کوي، له خپل وس څخه پورته لګښتونه پرې نه تپي، بلکې د واده په بشپړېدو کې هم ورسره مرسته کوي؛ خو هغه بیا له خپلې مېرمنې سره ښه چلند نه کوي، په حقیقت کې غواړي خلک دې پایلې ته ورسېږي چې:

**«چا چې د مهر په ورکولو کې ډېر تکلیف نه وي لیدلی، طلاق ورکول ورته هم اسانه وي!»**

له همدې امله، هر هغه پلار چې غوښتل یې د خپلې لور له غوښتونکي سره په سخاوت او مروت چلند وکړي، اوس به زړه نازړه شي؛ ځکه یوه بې‌مروته انسان د هغه په زړه کې د مروت یوه برخه وژلې ده!

د ناوړه کړنو تر ټولو بده پایله دا ده چې خلک نېکي یو خطرناک کار وګڼي او د بل چا مرسته داسې وبولي، لکه څوک چې د خپل ژوند د ختمولو هڅه کوي!

دا موضوع تر یوه فردي چلند ډېره پراخه او تر یوې شخصي پېښې ډېره لویه ده. دا یو وژونکی زهر دی چې د مروت په بدن کې خپرېږي، تر دې چې هغه په بشپړه توګه له منځه یوسي!

زه ماشوم وم، کله چې انا مې راته د یوه سړي کیسه کوله.

یو سړی د بل سړي آس خوښ شو. غوښتنه یې ترې وکړه چې آس ورته وپلوري، خو هغه انکار وکړ. د دې انکار له امله د آس د اخیستلو لپاره د هغه لېوالتیا نوره هم زیاته شوه.

په دې وخت کې یو غل ورمخکې شو او د آس د غلا کولو ورانديز یې وکړ.

غل هغه ځای ته ولاړ چې د آس خاوند به ترې تېرېده. د لارې پر غاړه وغځېد او داسې یې ځان وښود چې ګواکې له سخت درد څخه کړېږي.

ketabton.com - The Digital Library

د آس خاوند چې هغه ولید، له آس څخه ښکته شو، هغه بې‌وسه انسان یې پر آس سپور کړ او د آس واګې یې په لاس کې ونیولې، څو هغه په اسانه ولاړ شي.

سپور شوي غل ورته وویل:

«دا ستا له شان سره نه ښایي چې ما په داسې حال کې روان کړې چې ته زما واګې راکاږې!»

د آس خاوند ورته وویل:

«ته ناروغ انسان یې!»

غل ورته وویل:

«که بله چاره نه وي، نو لږ تر لږه واګې ماته راکړه، څو ستا عزت او کرامت خوندي پاتې شي!»

کله چې د آس خاوند واګې هغه ته ورکړې، غل پر آس سم کښېناست او په تېښته شو!

د آس خاوند ورپسې غږ وکړ او ورته یې وویل:

**«که چا درڅخه د دې آس پوښتنه وکړه، ورته ووایه چې ما اخیستی دی؛ خو هیڅچا ته د دې پېښې په اړه څه مه وایه! ځکه زه وېرېږم چې د خلکو ترمنځ مروت مړ نه شي!»**

## د نورو خلکو مخ ترې ګرځول به ورته زیان ونه رسولې!

زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا وینا لولم:

«زما په امت کې به تل یوه ډله وي چې پر حق به ټینګه ولاړه وي، پر خپلو دښمنانو بـه برلاشي وي، او د هغـو کسـانو پرېښودل به ورته زیان ونه رسوي چې دوی یوازې پرېږدي؛ البته هغه ستونزې او کړاوونه چې وررسېږي، بېل بحث دی. دا حالت به تر هغه دوام ولري چې د الله امر راورسیږي، او دوی به همداسې وي!»

صحابه‌وو وویل: اې د الله رسوله! هغوی به چېرته وي؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«په بیت‌المقدس او د بیت‌المقدس په شاوخوا سیمو کې!»**

زه په دې حدیث کې د هغو کسانو د پرېښودلو ترخه مزه احساسوم؛ هغه درد چې انسان ته دا احساس ورکوي، لکـه لـه خپلې کورنۍ او ملاتړو څخه چې بېل شوی وي او هېڅوک یې تر شا ولاړ نه وي!

عجیبه دا ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ونه فرمایل: «د هغو کسانو دښمني به دوی ته زیـان ونـه رسـوي چې ورسره دښمني کوي.»

ځکه له دښمن څخه له زیان رسولو پرته د بل څه تمه نه کېږي! بلکې ویې فرمایل: «د هغو کسانو پرېښودل به یې زیانمن نه کړي چې یوازې یې پرېږدي.»

ځکه دا پرېښودل او بې‌وفایي له هغو کسانو څخه راځي چې د خیر تمه ترې کېږي!

دا چې یو څوک تړی وي، حال دا چې د خپلو وروڼو په هېواد کې سیندونه بهېږي!

دا چې د هغوی امبولانس موټرونه د تېلو د نشتوالي له امله ودرېږي، حال دا چې د هغه خپلوان د نړۍ له هغو ملتونو څخه دي چې د تېلو ډېرې زېرمې لري!

ketabton.com - The Digital Library

دا چې وړی وي او ګاونډی یې د دښمن له اجازې پرته ورته د خوراک یوه مړۍ هم ورنه کړي!

دا چې کله د بې‌پامۍ په نوم او کله د بدعت په نوم یې پر منبرونو وغندل شي!

دا چې رسنۍ یې په خپلو نیوکو کې داسې ودړي، چې نه یې د اتلولۍ صحنو ته درناوی کوي او نه یې د جنازو صحنو ته!

دا چې قلمونه یې پر بدن د ټپونو په څېر ولګېږي؛ څومره دردونکې ده چې رنګ د وینې پر وړاندې سرکشي وکړي!

دا چې ډلې او جماعتونه پرې راټول شي، د عقیدې، وفادارۍ او له دښمنانو څخه د بېزارۍ درسونه ورکوي، ګواکې دوی غواړي هغوی ته ورزده کړي چې عقیده څه دي او له چا سره مینه او له چا سره دښمني وکړي!

د زمانې له لویو مصیبتونو څخه دا هم ده چې ځینې جماعتونه، چې د خپل تأسیس له ورځې راهیسې د مبارزې په ګډ تاریخ کې یې پنځه زره اعلامیې خپرې کړې وي، پر هغه چا نیوکې کوي چې په یوه ورځ کې یې پنځه زره توغندي توغولي وي!

خو د رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه وینا د پرېښودل کېدو ټولې ترخې شېبې د ثابت‌قدمۍ په خوږوالي بدلوي:

**«لا يَضُرُّهُم» — د هغوی پرېښودل ورته زیان نه شي رسولای!**

زه پوهېږم چې دا جهاد روان دی او د یوه عزیز پرېښودل به یې ونه دروي، لکه څنګه چې د دښمن جنایتونه یې هم نشي درولای. تاریخ همدا اوس لیکل کېږي، او تاریخ به له هېچا سره ملاحظه ونه کړي!

که زموږ غوږونه پر منبرونو وخوړل شي او خلک مو غیبت او بدنامي وکړي، نو په یاد ولرئ چې یو وخت شپېتو فقیهانو د امام احمد بن حنبل رحمه الله د وژلو فتوا ورکړې وه!

هغوی ټول د تاریخ کثافت‌دانۍ ته ولاړل، خو د امام احمد نوم د رڼا په تورو کې ژوندی پاتې شو!

که قلمونه مو ودړي، نو د «برقه» ورځپاڼې هغه ورځ چې عمر مختار ونیول شو، په غټو تورو ولیکل:

«د یاغیانو د مشر عمر مختار نیول!»

هغه کسان چې دا سرلیک یې لیکلی و، د تاریخ کثافت‌دانۍ ته ولاړل، خو د عمر مختار نوم لا هم روښانه او ځلانده پاتې دی!

که جماعتونه او ګوندونه پر موږ ژبې اوږدې کړي، نو دا د هغه چا طبیعي حالت دی چې ناست وي او د مبارزې په ډګر کې ولاړ انسان د خپل کمښت احساس ورته پیدا کوي.

هغوی په خپله لمن کې سوری ویني؛ څوک چې عمل یې لنډ وي، ژبه یې اوږده وي!

انسان به هېڅکله د خلکو له ژبو خوندي نه شي، که څه هم پیغمبر یا صحابي وي.

په یاد ولرئ، پر دې امت داسې ورځ هم راغلې ده چې خوارجو حضرت علي بن ابي طالب رضي الله عنه کافر ګاڼه او د هغه وینه یې حلاله بلله!

خوارج هم د تاریخ کثافت‌دانۍ ته ولاړل، خو علي بن ابي طالب رضي الله عنه په جنت کې د خپل محبوب رسول الله صلی الله علیه وسلم ترڅنګ دی!

دا یوازې څو ورځې دي چې تېرېږي، که اوږدې وي او که لنډې.

حق به له دې ورځو څخه تېر او ځوربدلی راووځي، خو ژر به خپل ټپونه ورغوي او خپله لاره به روانه وساتي؛ نه به د چا پر خبرو ځان بوختوي او نه به شا ته ګوري!

ketabton.com - The Digital Library

**او زمور د ملاقات ځای د الله تعالی په حضور کې دی!**

## مور د هغوی په څېر نه شو کولای!

کله چې الله تعالی وغواړي چې یو څوک د خپل دین په لار کې وکاروي، نو هغه داسې چمتو کوي چې د خپلې دندې د ترسره کولو وړتیا ولري!

مور د سیرت په کتابونو کې لولو چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم د بني سعد په سیمه کې د شیدو رودلو په عمر کې و، نو ملایکې راغلې، سینه یې ورته پرانیسته، زړه یې ترې راوایست او هغه د شیطان برخه یې ترې وایسته چې د انسانانو په زړونو کې وي!

دا هماغه زړه و چې څو کاله وروسته به پرې قرآن کریم نازلېده او آیتونه به پکې پرلهپسې اچول کېدل. د دې زړه خاوند به د الله وروستی پیغمبر و؛ نو په طبیعي ډول به یې داسې زړه درلود چې د نورو انسانانو له زړونو سره توپیر ولري!

اې الله! مور د خپلو ګناهونو له امله مه نیسه، ځکه د شیطان برخه زمور په زړونو کې پرته ده!

همدارنګه، مور د حدیثونو په کتابونو کې لولو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د وحې له نزول څخه مخکې لومړی رښتینې خوبونه ورښودل کېدل؛ داسې چې به یې په خوب کې څه ولیدل، نو سهار به هغه په حقیقت کې هماغسې لیدل، لکه د سهار روښانه سپېده!

دا ټول یوازې د دې لپاره چمتووالی و چې هغه له یوه داسې روحاني او لوړ عالم سره اشنا شي، چې ډېر ژر به ورسره اړیکه پیدا کوي!

همدارنګه، مور د ادب په کتابونو کې لولو چې عربانو حیرانوونکې حافظه او پیاوړې یادښت درلود. یو کس به یوه اوږده قصیده واورېده، نو بېرته به داسې روان شو چې ټوله قصیده به یې په حافظه کې ثبت شوې وه، لکه ده چې خپله لیکلې وي!

دا هم د الله تعالی له لوري د دې نالوستي امت لپاره یو ډول چمتووالی و؛ هغه امت چې د لیک او لوست له پوهې څخه یې یوازې لږ شمېر خلک برخمن وو. په هغه وخت کې د لیکلو دود د شفاهي روایت په پرتله دومره لږ و، لکه د سپین غویي پر بدن یو تور وېښته!

له همدې امله، کله چې قرآن کریم نازل شو، نو هغوی په خپلو زړونو کې داسې حافظه ومونده چې په اسانۍ یې د قرآن کریم د حفظولو وړتیا درلوده.

حتی کله چې په لومړیو کې د نبوي احادیثو له لیکلو منع شوې وو، هغوی به احادیث له یاده حفظول. کله چې د لیکلو وخت راورسېد، نو احادیث به یې له خپلو سندونو او متنونو سره لیکونکو ته داسې املا کول، لکه همدا اوس یې چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي وي!

دا هغه څه وو چې زما ذهن ته راغلل، کله چې مې له ځانه وپوښتل:

**د غزې خلک څنګه د دومره مصیبتونو پر وړاندې صبر کوي؟ څنګه دومره وحشت، ویجاړۍ او وژنې په دومره ایمان او تسلیمۍ زغملای شي؟**

په دې مادي زمانه کې چې د هر شي لپاره بیه ټاکل شوې ده، حتی د انسان لپاره هم، د یوه داسې انسان موندل چې صبر وکړي، د حیرانتیا خبره ده؛ نو څه به وایو که داسې یو ټول ښار ومومو چې ټول خلک یې صبر کوي، نارینه، ښځې او ماشومان یې ټول!

ketabton.com - The Digital Library

هيڅوک د الله تعالی پر پرېکړه اعتراض نه کوي؛ هيڅوک داسې خبره نه کوي چې د خپل عزيز له لاسه ورکولو له امله يې له خولې ووځي او د الله تعالی د نافرمانۍ سبب شي. ته يوازې صبر وينې او يوازې د الله تعالی حمد او ثنا اورې!

الله تعالی غوښتل چې هغوی د خپل دين په لار کې وکاروي، نو داسې زړونه يې ورته چمتو کړل چې د دې زمانې د نورو خلکو له زړونو سره توپير لري.

مور د اغزي په لګېدو دومره ناره وهو، لکه توغندی چې راباندې لګېدلی وي؛ خو هغوی د توغندي د لګېدو پر وړاندې داسې صبر کوي، لکه اغزی چې ورلګېدلی وي!

مور د کوچني کور او لږ معاش له امله شکايت کوو؛ خو هغوی پر هغه کور هم د الله تعالی شکر باشي چې د دوی پر سر نړېږي، پر هغه ډوډۍ هم د الله تعالی حمد وايي چې له اوږده محروميت وروسته يې پيدا کړي، او پر هغه باران هم شکر باشي چې الله تعالی يې د ښناک له اوبو څخه د محرومېدو پر مهال ورولي دي!

پاک دی هغه ذات چې زړونه يې داسې چمتو کړي دي چې د خپلې ديني جبهې له يوې مورچې څخه ساتنه وکړي!

**پر الله قسم، مور د هغه څه د زغملو توان نه لرو چې هغوی يې زغمي!**

# لنډه يادونه

دا ليکني د الصحيفة الوطن القطر په نوم ورځپاڼه کې دوکتور ادهم شرقاوي صيب خپرې کړې دي

په همدې اساس مې د کتاب نوم الوطن ورځپاڼه ورته انتخاب کړ تر څو يې حق په ښه شان ادا شي.

**اجمل هېوادمل**

پکتيا مرکز ګرديز

1405/07/28

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*